



اغزن سیم

ناول

لیکوال: نصیر احمد احمدي

شوي اثار



چاپ چارې:
مند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه- جلال آباد
۰۷۷۷٦۲٦۱٦۱/۰۷۰۰٦۲٦۱٦۱
momand.books@gmail.com

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اغزن سیم

ناول

لیکوال:
نصیر احمد احمدي

۱۳۹۱ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب ټول حقوق خوندي دي.

# د کتاب پيژندنه



| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | اغزن سيم |
| ليکوال | : | نصير احمد احمدي |
| برېښناليک | : | nasirahmad_ahmadi@yahoo.com |
| موبايل شمېره | : | ۰۷۰۰۲۵۲۱۹۱ |
| کمپوز او د پښتۍ انځور | : | ن.ا. احمدي |
| د پښتۍ ډيزاين | : | رضا پارسا |
| د چاپ شمېر او کال | : | ۱۰۰۰ ټوکه - ۱۳۹۱ل |
| چاپ چاري | : | مومند خپرندويه ټولنه |
| انلاين چاري | : | مختار احمد احسان - د لراوبر ډاټ کام برېښنايي کتابتون |

www.Larawbar.com


LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

کمپیوټر مې چالان کړ، ایمېلونو ته ورغلم، څلور ایمېله ول. درې دفتري او یو هم ناشناخته.
ناشناخته ایمېل مې لومړی وکوت، لیکلي و:
ـمرم، د ژوند کیسه مې لیکې؟
ادرس ته مې وکتل، ګډوډ توري لیکل شوي وو. سر مې پسې ونه ګرځاوه، د دفتر ایمېلونه مې ځواب کړل، د مېز پر سر د راډیویي خپرونو پرتومتنونو اصلاح غوښته.
لس بجې وې، په هماغه ادرس بل ایمېل راغی.
ـفکر دې وکړ؟
ومې لیکل:
ـته څوک یې ؟
دقیقه ووته. ځواب راغی:
ـ ستا دوه ـ درې ناولونه مې له انټرنټه راواخیستل. هیله کوم. د چټ پاڼې ته ورشه !
هماغسې مې وکړل.
ویې لیکل:
ـسلام
وعلیکم. ته څوک یې؟
ـام م م... ضروري ده؟
ـهو
ـدوه ویشت کلنه یم.
ومې لیکل:
ـپوره ځواب نه و.
ـها ها ها...
ـولې خاندې؟
ویې لیکل:
ـزما د ژوند کیسه لیکې؟
ـنه !
ـدوه ویشت کلنه یم.
ـدوه ویشت کلنه یې که دوه ویشت کلن؟
ـها ها ها... دومره بې باوره؟
ـد باور دلیل؟
ځواب یې رانه کړ.
ومې لیکل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـیو وخت مې له یو چا سره چټ کاوه، ځان یې نجلۍ معرفي کړی و، خو وروسته مې ملګری وخوت، تر اوسه مې ځوروي.
څه یې ونه لیکل.
په کیسه کې یې نه شوم. ګړی ته مې وکتل، لس نیمې بجې وې، جلسه مو درلوده. یو نیم ساعت وخت یې ونیو، د کنفرانس له سالونه سیده یو رته طعامخانې ته وختم، ماسپښین یوه بجه بېرته کمپیوټر ته کښناستم، څو پرله پسې جملې یې لیکلې وې.
ـ د چا چې مرګ نږدې وي، دروغ نه وايي. زما د ژوند کیسه ولیکه، هم به موضوع وموميې او هم به دې نورو ته خیر ورورسېږي. که امکان لري، د ټلیفون نومره دې راته ایمېل کړه.
ومې لیکل.
ـ یې؟
نه وه.
نومره مې ور ولیږله.

* * *

تیاره وه، په نیازبېک کې د دفتر له موټره کښته شوم، نیازبېک د کابل ښار په لوېدیځه څنډه کې پرته سیمه ده، کورونه یې بې نقشې دي، تنګې کوڅې لري، زه هم همدلته په یوه کرايي کور کې اوسم.
دا تنګې کوڅې په ژمي کې د تګ وړ نه وي، بس! د دوارو خواوو د بامونو واورې کوڅو ته رالوېږي، هغوی چې موټر لري، موټر یې سلامت درې میاشتې په کورونو کې ولاړ وي.
برق نه و، په توره شپه کې روان وم، خو له بامونو رالوېدلو واورو دومره رڼا کوله چې پل سم ځای کېږدم.
د کوڅې په سر کې نانوايي ته ور وګرځېدم. یوه ډوډۍ مې راواخیسته، بس وه، ماشومان کلي ته تللي ول.
په کوڅه کې راتاو شوم، تلیفون وشرنګېد، له جېبه مې راویست، سکرین شنه لمبه کوله، نومرې ته مې وکتل، خارجي وه. غوږ ته مې ور ووړ:
ـ هلو!
ښځینه غږ راغی.
ـ اوس دې باور وکړ؟
ومې پوښتل:
ـ وبښه! څوک یاست؟.
د خندا غږ مې په غوږ ننوت، ویې ټوخل، ویې ویل:
ـ ته هېرجن یې. فکر نه کوم چې زما د ژوند کیسه په سمه توګه ولیکې.
ومې خندل:
ـ ته خو په رښتیا هم نجلۍ یې.
په خندا کې یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـاوس خو دې باور راغی؟
ـ تر دې لوی ثبوت !
ـبس نو ، شک دې له زړه لیرې که، دروغ نه درته وایم.
غلی شوم، د ځواب له پاره په مناسبه جمله پسې ګرځېدم.
ویې ویل:
ـپه ټلیفون کې غږهاری دی.
ـکورته روان یم، په کلکه واوره خیژم. کابل مې هیڅوخت داسې سپین نه و لیدلی.
ویې ویل:
ـدلته هم د واورې کمی نشته.
پوښتنه مې وکړه:
ـ چېرته؟
ـپه ایټالیا کې.
د کور دروازې ته ودرېدم، ډوډۍ مې تر څنګلې لاندې کړه، جېب ته مې لاس کړ، کیلي په ماتو پیسو کې ورکه وه.
مقابل لورې وویل:
ـهلو، زما خبرې اورې؟
ـهو
ـنو ولې غلی شوې.
کیلي مې په کولپ کې تاو کړه.
ویې ویل:
ـدروازه نه خلاصېده؟
خندا راغله:
ـسمه جادوګره یې.
ـنه، ما د دروازې غږ واورېد.
ټلېفون قطع شو.
کوټې ته لاړم، برق راغلی و. د بخارۍ تر څنګ سهارنۍ ناولې پیاله او ترموز ایښې ول.
اه ! په ژوند کې مې د لوښو له مینځلو ورټ (کرکه ) کېږي.
کوټې ته مې وکتل، غالۍ پاکه وه، جارو یې نه غوښته.
لومړی مې تلویزیون ولګاوه. اووه بجې وې، په خبرونو کې یې مظاهرې ښودلې، ویل یې چې په بګرام کې د قرآن شریف د سوځېدو په غبرګون، خلک کوڅو ته راوتلي وو. په تصویر کې د کرزي او امریکا پر ضد شعارونه ورکول کېدل، د سړک پر غاړه څو واړه موټر په سرو لمبو کې پټ ول.
بخارۍ را په زړه شوه، لرګي مې راوړل، لس دقیقې وروسته د کوټې لویو ښیښو مړه خوله ونیوله.
د دېګ غم مې نه درلود ، بس، بیګانۍ قورمه پاتې وه. جامې مې بدلې کړې او د بخارۍ تر څنګ اوږد وغځېدم.
خوند یې کاوه، د لرګو د سوځېدو ټکا خته، د بخارۍ یوه خوا سره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټلېفون راغی، هماغه نومره وه. ویې ویل:

ـ وبښه، پيسې خلاصې شوې.

ومې ویل:

ـ زه ډېر ګشنه یم؟

ويې خندل:

ـ ولې.

ـ هيڅ ! ما ټلېفون درته ونه کړ.

په خندا کې يې ټوخی ګډ شو، ښه شېبه يې وټوخل، بېرته يې وخندل:

ـ نه، داسې نه ده.

ومې ویل:

ـ دورواغ نه درته وايم، پرون مې نيمه کيلو غوښه راوړې وه، دوه وخته مې کړه.

خندا يې زور ونيو، له خندا سره يې بل ښځينه غږ هم ګډ شو، خو روښانه نه راته.

ومې ویل:

ـ دا څوک ده؟

ـ نرسه. وايي چې ډېرې خبرې مه کوه، صحت ته دې تاوان لري.

ومې پوښتل:

ـ ته په ايټالوي پوهېږې؟

ـ نه، خو د هغې ماته ګوډه انګليسي زده ده.

ومې ویل:

ـ څه ناروغي لري؟

غلې وه، د امبولانس نرۍ غږ راته، بيا يې يودم وخندل:

ـ بيړه دې ده؟

خبره مې واړوله:

ـ مصرف درباندې راځي.

ځواب مې وانه ورېد.

ومې ویل:

ـ هلو.

ـ اورم.

خو په دې ټکي کې مې غريو احساس کړ.

يودم يې وخندل:

ـ هې ! په مصرف پسې يې مه ګرځه. لس زره ډالره راسره دي، چې کاغذي طيارې هم ترې جوړوم، په يوې مياشتې کې يې نه شم خلاصولی.

زړه نازړه مې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـولې ! مور، پلار، کورنۍ؟
ويې خندل، خو خندا يې ترخه وه. ويې ويل:
ـڅلور مياشتې مخکې مې هرڅه درلودل، خو اوس هېڅ هم نشته.
غلې شوه، خو ما يې د ژړا غږ تر ډېره اورېده.
ټلېفون قطع شو.
ماخستن تر ناوخته خوب نه راته، د نجلۍ خبرې رښتيا راته واېسېدې، ذهن مې پوښتنو نيولی و.

* * *

اند ېښنه مې وه. دفتر ته له رسېدو سره سم مې کمپيوټر روښانه کړ، يو اځې دفتري ايمېلونه راغلي ول. بس ! اته بجې بله جلسه وه.
ورغلم، له همکارانو سره د راډيويي خپرونو په اړه وغږېدم، خو زړه مې کمپيوټر ته راختلی و، ما ډېرې پوښتنې درلودې.
لس بجې خپلې شعبې ته راغلم، پر مېز څو کاغذونه پراته ول، اصلاح يې غوښته.
اه ! راډيو د اوبو د ژرندې غوندې ده، څلرويشت ساعته چالانه وي، په تېره بيا د نړېوالو راډيوګانو کار ډېر دقت غواړي. ورته تېروتنه هم د منلو وړ نه ده، خو بيا مې هم په منډه د ايمېل پاڼه راواړوله، څه نه وو راغلي، کاغذونه مې راواخيستل، پوره دوه ساعته وخت يې وغوښت.
غرمه شوه، همکاران ډوډۍ ته لاړل، خو زه کمپيوټر ته کېناستم. په بيړه مې وليکل:
ـنه يې ! لکه چې پښېمانه شوې؟
درې بجې ځواب راغی.
ـوښه. معايناتو ته تللې وم، بس ! ژوند ته مې تمه نشته، خو دوی مې نه پرېږدي.
ورځ تېره شوه، ماخستن مې تر يوه وخته يو ناول ولوست، خو فکر مې سره راټول نه و. اخير مې زړه طاقت ونه کړ، نومره مې پيدا کړه. زنګ ورغی، خو ځواب مې وانهورېد.
نېمه شپه ووته، زنګ راغی، ټلېفون مې غوږ ته ونيو.
ـهلو
ويې ويل:
ـوښه، پوليس راغلي ول.
حيران شوم:
ـولې؟
ـبس، ځينې پوښتنې يې رانه کولې، هو رښتيا، يوه هېله !
ـوايه.
ـګوره !
په خبره کې ور ولوېدم
ـدرته ومې کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خندا شنه شوه:
ـ نو څنګه درته ښکارم؟
ومې ويل:
ـکړې سترګې، يوه لويشت پزه او د چونګښې غوندې غټه، اوږده خوله.
خندا يې زور ونيو، ويې ټوخل، په ټوخي کې يې وويل:
ـنه، دومره هم بدرنګه نه يم، خوله مې وړه ده، سترګې غټې، وېښته مې ګڼ او پېچلي، ږمنځ پکې بنديږي، بس، يوائې له رنګه، يو څه توره يم.
ومې ويل:
ـښه! هيله دې ياده کړه!
ويې خندل:
ـهو! ته ټليفون مه راته کوه. سمه ده؟
خندا راغله:
ـولې؟
ـهسې، مصرف درباندې راځي.
په خبره کې يې ور ولوېدم:
ـ وړې درته ښکاره شوم؟
ويې خندل:
ـهيله کوم، زما هدف دا نه و، ته زما د ژوند کيسه ليکې، نو ټليفون هم بايد زه درته وکړم.
ومې ويل:
ـخو زه هم په موضوع پسې ګرځم.
ويې خندل:
ـکه مې دا خبره ونه منې، کيسه نه شته.
ـسمه ده صيب.
خندا يې زور ونيو:
ـمننه صيب.
ټوخي واخيسته، ترڅېره يې وټوخل، بيا يې اوږده ساه تېره کړه، په زحمت يې وويل:
ـيوه دقيقه.
درب شو، له غږ څخه پوه شوم چې ټليفون يې پر يوه کلک شي کېښود، مېز يا کوم بل څه.
ټيټ غږ مې واورېد، واضح نه راته، خو نارينه غږ و، کله کله به د ښځې آواز هم ورسره ګډ شو. ښه شېبه ووته، بيا مې په غوږ کې کړپ شو، مقابل لوري وويل:
ـښه، نور؟
ومې پوښتل:
ـ له چا سره خو دې تر څنو ونه نېول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خندا شنه شوه:

ـنه، خو نرسه يې يوه روپۍ کړه.

ـولې؟

ـهيڅ ! د روغتون مشر نرسې ته په غوسه و ، ويل يې چې پوليس يې ولې زما کوټې ته راپرېښي ول.

ومې ويل:

ـنو پوليس څه وايي؟

ـهيڅ ! له مانه يې دوې، درې پوښتنې وکړې، خو ډاکټر وايي، دوی دا حق نه لري چې له داسې سختو ناروغانو پوښتنې وکړي. نظر يې دا دی چې ډېرې خبرې درته ښې نه دي.

ومې ويل:

ـ په رښتيا هم ډېره نه غږېږې.

له خندا شنه شوه:

ـنو زه ډېرې خبرې کوم؟

ـنه، يوازې لس دقيقې په ټليفون کې راسره وغږېدې.

خندا يې زور ونيو:

ـ پوهېږې ! دلته داسې څوک نه شته چې زړه ورته تش کړم. دا زوی مړي دومره نه غږېږي.

په خبرو کې يې ور ولوېدم:

ـزوی مړي؟:

ـهو ! ولې؟

ـدا خو ډېر کليوال ټکی دی.

له خندا شنه شوه:

ـهی ! ما په کلي کې ژوند کړی.

ومې ويل:

ـخو ته په انګليسي هم پوهېږې.

په خبره کې راولوېده:

ـدومره بېسواده مې هم مه ګڼه، ادبيات مې لوستې دي.

ومې پوښتل:

ـچېرته؟

ـپه کابل پوهنتون کې.

غلی شوم.

ويې ويل:

ـګوره !

په خبره کې يې ور ولوېدم.

ـدرته ومې کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خندا شنه شوه.
ـګوره ! پوهېږم چې ذهن به دې له پوښتنو ډک وي، زه کولای شم چې د ژوند ټوله کيسه په دوو ټکو کې درته خلاصه کړم، خو له دوو ټکو ناول نه ليکل کيږي.
ومې ويل:
ـسم وايې صيب.
ـنو ته يې دروغ بولې؟
ـنه، خو يوه خبره ده، مابه ټليفون غوږ ته نيولې وې، که به ستا کيسه ليکم؟
ويې خندل:
ـام م م... سمه ده.
غلې شوه.
ومې ويل:
ـاورې؟
ويې خندل:
ـفکر ته مې پرېږده !
يوه شېبه غلې وه، بيا يې وويل:
ـچټ ښه نه دی؟
ـنه، پردۍ مزدوري مه راباندې دروه. په کور کې هم انټرنيټ نه لرم.
ـسمه ده، زه به يو بل فکر وکم. ښه، په کابل کې هوا څنګه ده؟
ښيښې ته مې لاس ور وغځاوه، غروی مې پرې تېر کړ، د انګړ د دروازې پر سر ژېړ ګروپ ته د واورې لوی بخرکي ور روان ول.
ومې ويل:
ـواوره اوري.
ځواب مې وانه ورېد.

* * *

په سبا يې ټوله ورځ مصروفه وم، بس ! دفتر ته يې نوي کسان نيول، د انتخاب واک، ما او زما يوه بل همکار ته راکړل شوی و. تر ماښامه مو له هغو کسانو سره خبرې وکړې، چې د کار د موندلو له پاره راغلي ول، ټول څلويښت کسه وو، يو، يو مو راوغوښت، پوښتنې مو ترې وکړې، په پای کې مو لس تنه ترې راويستل، دوی ته مو بايد درې ورځې ورکشاپ نيولی وای، ځکه دفتر يو اځې څلورو کسانو ته ضرورت درلود. دا سې کسان چې د راډيو يې خپرونو جوړولو ته جوړ وي.
ورځ تېره شوه، خوما دومره وخت ونه موند چې ايمېلونه وګورم.
لاره بنده وه، ناوخته له موټره کښته شوم، دوې هګۍ، څو رومي بانجان او وچه ډوډۍ مې راواخيستل، يخني وه، سترګو مې اوښکې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



برق نه و ، د ګاز په ډبه پورې تړلې جالۍ لوېدلې وه، دوکان ته تګ د زړه زور غوښت.
بخارۍ مې د ټلیفون رڼا ته ولګوله، جامې مې بدلې کړې، په توره شپه کې د برق د راتلو په تمه اوږد وغځېدم، خو تیارې خوند رانه کړ، غیرت راته ودرېد ، د کوټې په لستوڼو کې مې لاسونه ننه ایستل او د باندې ووتم.
سوړ باد چلېده، پورته رانه ستوري څلېدل. دوکان ته ودرېدم، شمه بله وه، بېسېکه رڼا یې پر ژېړې تلې سپینې لیکې جوړې کړې وې.
بنډل جالۍ مې راواخیستې، کور ته راغلم، شېبه وروسته د کوټې پر سره پرده ژېړه رڼا ولګېده.
وږی وم، هګۍ مې پخې کړې، خو رومي بانجانو یې خوند خراب کړی و ، یخ وهلې ول.
د کړایي مینځل مې د برق راتګ ته پرېښوده. بخارۍ ته نږدې اوږد وغځېدم، زړه مې نیولی و ، کتاب مې راواخیست، وچې خبرې وې، ښه کوه، بد مه کوه.
له ټلیفون څخه شنه رڼا پورته شوه. مسیج و ، یوه ملګرې مې لیکلي و:
ـمزې دې وکړې. ها ها ها...
خو زه نه پوهېدم چې ما څه مزې کړې وې.
ورته ومې لیکل:
ـنه، مزې مې نه دې کړې، ها ها ها...
ټلیفون مې کېښود ، خو شنه رڼا یې نه ورکېده، ورته ومې کتل، مسکال راغلی و ، د نجلۍ نومره وه، زنګ مې ورته وواهه، خو ځواب یې نه راکاوه.
پینځه دقیقې وروسته مې بیا د ټلیفون پر شنه تکمه ګوته ټینګه کړه، لنډ یې وویل.
ـوروسته ټلیفون درته کوم.
برق راغی، تلویزیون مې ولګاوه، په یوه چینل کې امریکایي فلم و. رینګ اف لارډ. زما د خوښې فلم. څو ځله مې لیدلی و ، خو زړه یې نه را واهه، له لوړ تخیل، تصویر او قوي لیکنې څخه مې یې خوند اخیست.
پام مې غلط و ، ټلیفون راغی، هماغه نومره وه.
ویې ویل:
ـوبښه، زندان ته تللې وم.
حیران شوم.
ـهلته دې څه کول؟
ـد پلار لېدو ته.
ـپلار دې بندي دی؟
سوړ اسویلی یې ویست.
ـهو ! پنځلس کاله بند ورباندې ختلی.
یودم غریو واخیسته، په ژړا کې یې وویل:
ـپوهېږې ! زه یې سمه نه پیژندلم.
غلې شوه.
ومې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــولې؟
په غريو کې يې وويل:
ــنو څه وخت به زما کيسه ليکې؟
ــپه ټلېفون کې نه کيږي.
ــبس ! سبا ته دې ايمېل وګوره.
ومې ويل:
ــستا نوم؟
مريم.
يوه شېبه غلې شوه، بيا يې په مړاوي غږ وويل:
ــستړې يم، ډېره ستړې، وېرېږم چې کيسه به مې بشپړه نه شي.
بل ښځينه غږ مې واورېد. غږ نږدې و ، مريم يې په ماته ګوډه انګليسي پوهوله چې د دوا د خوړلو وخت دی.
مريم وويل:
ــاورې؟
ــهو
ــنرسه ده، وايي چې دوا وخوره.
يودم يې وخندل، خو خندا يې جړه وه، غريو پکې ګډ و ، ويې ويل:
ــپوهېږې ! دا شنې سترګې باور نه راباندې لرې، تر هغو به دلته ولاړه وي، تر څو چې پينځه ترخې ګولۍ تر ستونې تېرې نه کړم. ګرمه نه ده، ګولۍ يې په کثافت دانۍ کې موندلې وې. ښه نو ، سبا ماخستن ټلېفون درته کوم، خو ايمېل دې هېر نه شي، ويې ګوره ، ښه شپه.

* * *

سهار مې په بېړه کمپيوټر چالان کړ، خو د مريم ايمېل نه و راغلی، اته بجې ورکشاپ شروع شو ، د نويو راغليو کسانو ورتيا مو مالوموله، ځينې يې ښه ول، فکر يې درلود.
رخصتۍ ته لس دقيقې پاتې وې چې کمپيوټر ته کېناستم، مريم ايمېل رالېږلی و ، لنډه جمله يې ليکلې وه.
ــسلام ! خبرې مې په غږ کې درولېږلې.
خبرې مې په فلش کې راواخيستې، د دفتر له موټره په کوټې سنګې کې کښته شوم، هوټل ته ور وګرځېدم، يو خوراک کباب يې په اخبار کې راته تاو کړ، يو څو مالټې مې هم په پلاستيکي کڅوړه کې واچولې.
کورته ناوخته راغلم، برق و ، لومړی مې بخارۍ ولګوله، بيا کمپيوټر ته کېناستم، د رالېږلو خبرو وخت مې وکوت، څه کم، لس دقيقې وې.
د مريم غږ مړاوی و:
ــسلام ! پوهېږم چې ډېر بوخت يې، خو بيا دې هم زما خبره ومنله، د يو داسې چا خبره چې مرګ يې لنډ دی. مننه.
شايد زما په خبرو کې اضافي ټکي ډېر وي، په خپله پوهېږې، يواځې د کار ټکي ترې دراخله. تا رښتيا ويل، کيسه اوږده ده، په ټلېفون کې نه ويل کيږي، بس ! همدا يې ښه لاره ده. زه به په ايمېل کې خپلې خبرې درلېږم. کېدای شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې پوښتنې ولرې، خو ما فکر کړی دی، هر ماخستن به ټلېفون هم درته کوم، که دې څه ویل، په ټلېفون کې پوښتلی شې.
ټوخي واخیسته، یو سوړ اسویلی یې ویست، ویې ویل:
ښښنه غواړم. د خپلې کورنۍ د غړو او کلي نوم نه شم درته اخیستلای، کتاب هرڅوک لولي، کېدای شي چې کوم شناخته پرې برابر شي، نه غواړم چې په کلي کې مې یوا ځینۍ مشره خور، د خپلې کورنۍ په کیسه پوه شې او نور پیغور ورکړي.
بس! څه درته ووایم، خوشاله ژوند مو درلود، خو هر څه له مینځه لاړل، هرڅه، ټول زما له لاسه.
مریم غلې شوه، وروسته غریو واخیسته، په تیټ غږ یې وژړل، په غریو کې یې وویل:
_اه! وبښه، خپل ځان نه شم کنټرولولی.
یو نارینه غږ مې واورېد، غږ رانږدې شو، په ماته ګوډه انګلیسي یې وویل:
_ښه یې؟
مریم ځواب ورکړ:
_هو
سړي وویل:
_پوهېږې، ژړا دې صحت ته تاوان لري.
چوپه چوپتیا شوه، شېبه وروسته مې د قدمونو د لېرې کېدو غږ واورېد.
مریم په غریو کې وویل:
_ نه مې ژړا ته پرېږدي او نه هم خندا ته.
یوه شېبه غلې شوه، بیا یې خپله خبره پسې وغځوله:
_ بس! دا یو کوچینی دولتي روغتون دی، ډاکټران یې ښه خلک دي، ځینې یې په ماته ګوډه انګلیسي پوهېږي، پام راباندې کوي، نه پوهېږم، یا به یې زړه راباندې سوځي. دلته یوه زړه نرسه ده، لوسي نومېږي.
پوهېږې! زه کله کله وینه راګرځوم، خو د لوسي ورتګ نه رانه کېږي، په بېړه خوله او غاړه راپاکه کړي.
لوسي په اصل کې د بوسنیا ده، هلته په نویمو کلونو کې جګړه وه، خاوند یې په خپل کور کې ولګېد، دې ایټالیا ته پنا راوړه، په خپله وایي چې له تېرو اتلسو کالونو راهیسې په همدې روغتون کې کار کوي.
زه له روغتونه دومره نه وځم، اجازه هم نه راکوې، لوسي وایي چې ډېره ګرځېدا درته ښه نه ده. ټوله ورځ په همدې کوټه کې پرته یم، هرې خواته سپینې کاشي دي، پاکې، مخ پکې ښکاري، د چت په ژېړ ګرد ګروپ، د لمر مینه ماتوم.
بس! کله کله د روغتون انګړ ته وځم، خو خوند نه راکوي، اسمان تل وربځ وي، هر څه بې روحه ښکاري، یوا ځې د ناجو ولاړې کتار ونې ژوندۍ راته ایسي.
په دهلېز کې درې پایې کمپیوټرونه شته، پخوا ډېره ورتلم، پښتو سایټونه به مې کتل، پام مې غلط و، خو اوس مې سبکه ختلې ده، ډېره نه شم کېناستلی.
مریم ټوخي واخیسته، یودم یې وخندل، ویې ویل:
_اه! وبښه، لکه چې بلې خواته ولاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه شېبه غلې وه، بيا يې وويل:
ـڅو کاله مخکې له خپلې کورنۍ سره کلي ته لاړم، پلار مې ختمګر راوغوښت، په زړو کوټو يې لاس وواهه، ويل يې چې کله کله به د مکتب په رخصتيو کې ورته راځو.
يو مازديګر مې پلار را ناري کړې، په خوند يې وويل:
ـخزانه مې پيدا کړه!
ورغلم، ده د وره له يوه زاړه چوکاټه خاورې پاکولې.
پلار مې وخندل:
ـدا وينې؟
ور نږدې شوم. د لرګي پر پاسنۍ برخه يو څه کښندل شوي و، ځيره شوم، ليکلي يې وو.
مريم
۱۳۲۸ هجري، شمسي کال، د حمل اتمه
دا زما د زېږېدو نيټه وه.
مريم غلې شوه، يو سوړ اسويلی يې ويست، ورو يې وويل:
ـښکلې ورځې وې، خندل به مې، د کلي له نجونو سره به ګودر ته تلم، خو خوشالي لنډه وي، تربرونه رامخته شول، پلار مې يې د کوټو جوړولو ته نه پرېښوده، ويل يې چې ګډ ميراث دی، ټول حق پکې لرو.
پلار مې له بدو لېږي سړی و، د دعوو حوصله يې نه لرله، زړه يې مات شو، د کوټو کار يې په نيمايي کې پرېښود، بېرته ښار ته راغلو او بيا مو هيڅوخت کلي ونه ليد.
مور د کابل په خيرخانه کې اوسېدو، کوچينۍ کورنۍ وه، څلور نفره. مور، پلار، وړوکی ورور او زه، مشره خور مې په کلي کې واده ده، نه غواړم چې د هغې په اړه نور څه ووايم. بس، هوښياره ده، د خسرګنۍ زړونه يې ساتلي دي.
پلار مې لوستی سړی و، خندا يې ډېره وه، ابا مو باله.
مريم وټوخل، ويې ويل:
ـپلار مې په ځوانۍ کې صاحب منصب و، خو د تنظيمي جګړو او طالبانو په وخت کې يې ازاد کاروبار کاوه، ده به له پاکستانه وړه راوړل او د کابل په منډه يي کې به يې خرڅول، خو د کلداري حساب مالوم نه و، په وروستيو کې يې تاوان وکړ.
کله چې د کرزي حکومت راغی، بيا يې هم ماموريت وانه خيست، څه پيسې ورسره وې، د کوڅې په سر کې يې د خوراکي موادو کوچينی دوکان جوړ کړ. کور خپل و، کرايه يې نه غوښته، مور مې هم په يوه شخصي مکتب کې معلمي کوله، ګوزاره مو کېده.
خوشاله ژوند مو درلود، مور مې تر پلار کشره وه، ډېره کشره، د دوی په عمرونو کې پنځلس کاله فرق موجود و. ښه مې په ياد دي، يو وخت د خپلوانو کره ميلمانه وو، زه او مور مې د بس مخکينی دروازې ته وروختو، کلينر راغی، مور مې کرايه ورته ونيوله، خو هغه ور ياده کړه چې پيسې مې دي له پلاره واخيستې.
بس! مور ته مې خدای ورکړه، کله چې به مې پلار په غوسه شو، نو مور به مې جدي څېره ونيوله او وبه يې ويل:
ـپلاره! څه خبره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار ته به مې خندا ورغله.
مور مې ډېره ښکلې وه، ډېره. تر غټو تورو سترګو يې اوږده باڼه راتاو ول، کله چې به يې وخندل، تر سپينو غومبرو لاندې به يې نرۍ ګونځې پيدا شوې. بس ! مور ټول دې ته شوي و، يوائې رنګ مو له پلاره اخيستی دی.
مريم وټوخل. يوه شېبه غلې وه، وروسته مې د اوبو د غړپ غږ واورېد، سوړ اسويلی يې ويست، په مړاوي غږ يې وويل:
ـخوشاله وم، غم مې نه پېژانده، تر خبرو مې خندا ډېره وه. خو دا خندا تر يو ويشت کلنۍ راسره وه، بس ! تېر کال هر څه بدل شول، هر څه.
خبرې ختمې شوې.
وږې وم، کمپيوټر مې بند کړ، لاړم او بخارۍ ته نږدې کېناستم.
کباب بد نه و، خو تر غوښې يې وچې ډوډۍ خوند راکړ، د مرچو او مثالو څکه(مزه ) ور وتلې وه.
ماخستن ناوخته د مريم ټلېفون راغی، وار له واره يې وويل:
ـپه ليکلو ارزي؟
يو دم يې وخندل:
ـاه ، وبښه، سلام !
د سلام ځواب مې ورکړ.
ويې ويل:
ـخبرې دې واورېدې؟
ـهو.
ـپوښتنې لرې؟
فکر مې وکړ، تر دې دمه هرڅه روښانه ول:
ـنه، خو يوه هېله !
ـوايه !
ـ دائل يو څه ډېرې خبرې راولېږه.
ويې خندل:
ـولې؟
ـسبا پنجشنبه ده، جومه او شنبې رخصت يم، د ليکلو له پاره ښه وخت دی.
ويې ويل:
ـسمه ده، تر تا زه ډېره بيړه لرم.
غلی شوم.
ويې ويل:
ـهو رښتيا ، يوه پوښتنه مې په ذهن کې راتېره شوه.
ـوايه.
کور مو ډېر ارامه دی، د ماشومانو غږ نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ویل:
ـهغوی غزني ته تللي دي.
ویې خندل:
ـغږ دې خوبولی دی. څو بجې دې؟
ټلیفون مې سترګو ته ونیو.
ـیوولس.
ویې ویل:
ـ ستړی به یې ، خوب به درځي.
فکر مې وکړ، پوښتنه مې نه لرله، د ( هو ) ټکی مې له خولې رااووت.

* * *

د سهار په خړه کې عمومي سړک ته وختم، یخني وه، زړه مې نیولی و، خو علت نه رامالومېده..
زموږ د دفتر رسمیات په اونیمې بجې شروع کیږي، خو زه په شپږ نیمې له کوره وځم، دفتر دومره لیرې نه دی، که مستقیم لاړ شو، تر شلو دقیقو نه اوړي، خو د دفتر موټر باید په شپاړسو کسانو پسې ورشي، یو ساعت وخت نیسي.
شېبه وروسته موټر ته ور وختم، همکارانو ته مې لاس ورکړ، یوه یې رایاده کړه چې لاس دې تود دی. تبه خو دې نه ده؟
ځواب مې ورکړ:
ـنه
خو وروسته مې تبه شوه، سر مې درد کاوه، بدن مې تود و او د کار کولو سېکه نه وه را پاتې.
ماسپښین قضا مې په فلش کې د مریم خبرې رااخیستې، د مشر د شعبې دروازه مې وټکوله، رخصت یې راکړ، نیغ کور ته راغلم.
ورځ تېره شوه، ماخستن هم وختي پرېوتم، کمپیوټر ته کېناستل مې له وسه وتلي ول، خو سهار ته ښه وم، تبه ختلې وه او د هوساینې احساس مې کاوه.
ټلیفون مې رااخیست، د مریم بېګاني مسکالونه راغلي ول، خو زه نه وم ورباندې پوه شوی.
اته بجې مې د کور کمپیوټر چالان کړ. مریم له سلام وروسته وار له واره کیسه را اخیستې وه.
ـد پوهنتون په دریېم کال مو صنف ته یو هلک راغی، غټې، زیږې، توري سترګې یې درلودې، له وني لوړ و، زنه یې سوچې، پستې زیږې نیولې وه، د مخ له روښانه او صاف پوستکي یې پوه شوم چې سختې نه دي پرې تیرې شوې.
دی وحید نومېده، له کوم بل پوهنتونه یې تبدیلي راوړې وه.
وحید غلی هلک و، ډېرې خبرې یې نه کولې، د همصنفیانو هرې پوښتنې ته به یې یوازې په ( هو ) یا ( نه ) ځواب ورکاوه، خو په درسونو کې یې ورېږه، کله چې به تختې ته پورته شو، له ستړیا به وتلی و. ده د هرې موضوع په اړه مالومات درلودل. د وحید خبرې په استادانو هم ښې لګېدې، هغوی به هم غوږ ورته نیولی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وحيد به هر سهار په يوه ښکلي شخصي موټر کې پوهنتون ته راته، موټروان به تر يوې بجې ورته ماتل و.
يوه اوونۍ ناروغه شوم، پوهنتون رانه پاتې و، کله چې ښه شوم او صنف ته لاړم، د ځينو مضمونونو نوټونه رانه تېر ول. له دوو، دريو ټولګيوالو مې نوټ وغوښت، خو يوه يې هم پوره نه و ليکلی، يوې همصنفۍ د وحيد نوم راته واخيست، د تفريح په وخت کې ورغلم، دی د بوې ونې سيوري ته ناست و، کتاب يې وايه.
ورنږدې شوم.
ومې ويل:
ـ وروره ! د تېرې هفتې نوټونه مې په کار دي.
نيغ يې راته وکتل، بېرته يې کتاب مخې ته ونيو.
مغرور راته واېسېد، خو مجبوره وم:
ـ وروره ! امانت يې راکه، سبا ته يې درته راوړم.
پرته له دې چې راته وګورې، بکس ته يې لاس ور وغځاوه، دوې کتابچې يې راته ونيولې، ورو يې وويل:
ـ دومره بد اخلاقه درته ښکارم؟
ومې ويل:
ـ ونه پوهېدم.
لاس يې هماغسې غځېدلی پاتې و.
کتابچې مې راواخيستې، صنف ته لاړم، شېبه وروسته استاد راغی، دی د لنډۍ په اړه غږېده، خو زما ذهن سره راټول نه و، په خپلو دوو جملو مې فکر کاوه. ما کومه بده خبره کړې وه؟
نه پوهېدم.
سبا ته مې بيا د هماغه ونې لاندې وليد، ورغلم، کتابچې مې ورته ونيولې:
ـ مننه، وروره.
ويې خندل، خو په خندا کې يې ملنډې ګډې وې. ورو يې وويل:
ـ زه په خپله ځلور خويندې لرم.
غوسه راغله.
ـ نو څه درته ووايم؟
ويې ويل:
ـ تر اوسه دې له مانه کوم بېځايه حرکت ليدلی دی؟
ـ نه
ـ نو بيا ولې رانه وېرېږې؟
په خبره کې يې ورولوېدم !
ـ ولې ووېرېږم؟
ويې خندل:
ـ همدا چې وروور راته وايې، دا خپله د وېرې او بدګمانۍ علامه ده.
ولاړ شو او صنف ته ننوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رخصتۍ په وخت کې د پوهنتون د لويې دروازې خواته ګوښې روانه وم، وحيد مې تر څنګ تېر شو، په غوسه يې راته وکتل.
له اعصابو سم نه شو راته ښکاره. پسې غږ مې کړ:
_پوروړې خو دې نه يم؟
ګامونه يې ګړندي کړل.
ما سپښين کورته ورسېدم، کوچيني ورور مې زما کتابچې سره راتوشپلې وې. علت مې وپوښت، ويل يې چې بيګاه مې په يوه کتابچه کې رسمونه وکارل، سور پوښ يې و، اوس رانه ورکه ده.
پر تندي مې مړه خوله راغله. ورور مې د وحيد د نوټ په کتابچه کې رسمونه کښلي ول.
سبا ته لومړی درسي سات خالي و، وحيد مې په چمن کې وليد، ورغلم، پښې يې ورټولې کړې، پرته له دې چې راته وګوري ويې ويل:
_د ښېنې له پاره راغلې يې؟
خبره يې سمه وه، خو غيرت راته ودرېد:
_نه
ويې خندل:
_دروغ مه وايه، ما درته وکتل، مخ دې چينجن نيولی و.
ځواب مې نه درلود.
_ليرې شوم.
تفريح شوه، خو د باندې ونه وتم، ځيني نوټونه رانه پاتې ول.
نږدې غږ مې واورېد.
_وبښه ټوکه وه.
ور و مې کتل. وحيد و.
ځان مې مصروفه ونيو.
وحيد يوه شېبه ولاړ و، بيا د باندې ووت.
له تفريح وروسته د ګرامر استاد راغی، خدای خبر، طبع يې خټه وه، د درس ورکولو حوصله يې نه لرله. بس! مازې يې تېر درس تکرار کړ، مخکې له دې چې له صنفه ووځي، د مېز پر سر يې يو چپټر (د نوټ پاڼې) کېښود او د چپټر کاپي يې د هر محصل له پاره ضروري وګڼله.
د استاد له تګ سره سم، ګډوډې شوه، هر محصل په دې هڅه کې و چې چپټر د کاپي له پاره ورسره يوسي. وحيد رامخته شو، نظر يې دا و چې دی به په خپله له چپټره د ټولګي ټولو له پاره کاپيانې واخلي.
ټول قانع شول. سبا ته زه غيرحاضره وم، بله ورځ وحيد نه و راغلی، بس، يو اځې ما چپټر نه درلود. خو وحيد دوهمه ورځ هم غيرحاضري وکړه. چپټر ضرور و، له يوه ټولګېوال مې د وحيد د ټليفون نومره واخيسته، غږ يې نيولی و، رایاده يې کړه چې ساعت وروسته به په پوهنتون کې يم. خبره يې سمه وه، په تفريح کې راغی، په شخصي جامو کې و، لاندنۍ شونډه يې ماته ښکارېدله.
و مې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ناروغ یې؟
ویې ځندل:
ـ مهمه نه ده.
چټ مې ورنه واخیست، دی له خبرو پرته روان شو، تر هغو مې پسې کتل چې د پوهنتون تر عمومي دروازې ووت.
نا ارامه وم، په زړه کې مې ملامتي راټوله وه، د وحید چاودلې شونډه مې له ذهنه نه وته.
په سبا چې کله صنف ته ورغلم، لومړی مې په وحید پسې سترګې ورغړولې، خو څوکۍ یې تشه وه. نه پوهېږم، ولې؟ خو وحید مې ټوله ورځ په زړه کې ولاړ و.
ماخستن مې سل زړونه سره وتړل، د وحید د ټلیفون نومره مې ووهله، زنګ ورته، خو ځواب مې وانه وربد.
پاو ووت، زنګ راغی، وحید رایاده کړه چې اوس ښه دی، راتلونکې شنبې به په پوهنتون کې وي.
مریم وټوخل، غلې شوه، په بېړه مې د کمپیوټر سکرین ته وکتل، د خبرو وخت لا پاتې و.
چو په چوپتیا شوه، خو دقیقه لا نه وه تېره چې بیا مې د مریم غږ واورېد:
ـ وبښه، د ټایپ بیطرۍ کمزورې وي، پوهېږې، دا د غروي په اندازه کوچینی ټایپ دی، ښه ثبت کوي، د فلش ځای هم لري، لوسي راته راوړ، ټیپ شوې خبرې په اسانۍ سره کمپیوټر ته لیږلی شم. ښه کیسه مې کوله.
مریم غلې شوه، یو سوړ اسویلی یې ویست، ویې ویل:
ـ پوهنتون لیرې و، څو نجونو په ګډه یوه تونس موټر ته میاشتنۍ کرایه ورکوله، موټر به هر سهار اووه نیمې بجې راپسې راته، په لاره به یې څو نورې نجونې هم را اخیستې او دولس نیمې بجې به بیا د پوهنتون مخې ته ولاړ و.
نجونو به په لاره کې خبرې کولې، خندل به یې او د یوې بلې حال به یې اخیست.
وخت تېرېده، پوهنتون ته پر لار یوې نجلۍ رایاده کړه چې رنګ دې بدل دی، ورځ تر بلې ډنګرېږې. دې خبرې ته د نورو نجونو هم پام شو، د یوې نظر دا و چې د پخوا په څېر نه خاندم، بلې ویل چې له خبرو هم لوېدلې یې، درېیمې بیا دا بدلونو نه د مینېدو علایم ګڼل.
نه پوهېدم، خو ما تر دې دمه مینه نه پېژندله.
په کور کې مې هم وضعې بدلون کړی و، ماته نه مالومېده، خو مور مې ویل چې له ډوډۍ ژر ولاړېږې، غلې یې، په نه خبره غوسه درځي.
فکر مې وکړ. ما کوم غم درلود؟
نه، هر څه د پخوا په څېر ول، یوازې زه بدله شوې وم. یو څه رانه ورک وو.
په ذهن مې زور راووست، ورکه مې وموندله، د وحید لیدو به خوشالي رابښله.
له ځان سره مې وویل:
ـ مینه همدا ده؟
مریم وټوخل، سوړ اسویلی یې ویست، خبرې یې وغځولې:
ـ ما نه غوښتل چې مینه شم، خو مینه وم، پوهېږې؟ د مینې نښې مې ولېدې. لومړی مې په دعا کې بدلون راغی، یو بل هم پکې ګډ شو، له مور، پلار او ورور سره به مې یو پردی هم په زړه کې راګرځېده. نه مې غوښتل، خو د سلام له ګرځولو سره به مې وحید نیغ سترګو ته ودرېد، غم مې نه ورباندې لورېده، له خدایه به مې د ده خوشالي غوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته وويرېدم، په لمانځه کې به مې لا د وحيد ځېره تر مخې تېرېدله، د سهوې سجدې ډېرې شوې.
يو پردی انسان مې ژوند ته راغی، خپل رانه پردي شول.
د مريم خبرې مې ودرولې، غوږ مې ونيو، د کور دروازه ټکېده.
ورغلم، د ګاونډي زوې راته وويل چې غرمې ته څه مه پخوه، ډوډۍ درته راوړم.
زحمت مې نه پرې لورېده، خو دی شله و. ومې منله.
له چوترې مې دوه-درې وچ لرګي راواخيستل. کوټې ته راغلم، يو غټ لرګی مې پر سره انګار کېښود. بېرته کمپيوټر ته کېناستم، خو بيا دروازه وټکېده. ورغلم، دوو ورو ماشومانو خير غوښت. يوه ته مې لسګون ونيو، بل مړې سترګې راته ونيولې، خو ماتې پيسې نه وې راپاتې، په سلګون مې زړه نه کېده. وريادو مې کړه چې په دې لسګون کې دواړه حق لرئ، نيمې يې کړئ.
دروازه مې پورې کړه، چوترې ته لا نه وم ختلی چې له کوڅې شور او زوږ راغی. دوو ماشومانو د لسګون پر سر سره خوړلي ول.
کمپيوټر ته کېناستم. مريم ويلي ول:
ــ نه مې له درسونو سره زړه ترلی شوای او نه هم د مور، پلار او کوچيني ورور خبرو خوند راکاوه. هر څه بدل شول. هر څه په ژوند کې مې يو لوی بدلون راغی، داسې بدلون چې خوشالي يې رانه واخيسته، خوراک مې هېر شو، د شپې به تر ډېره ويښه وم.
مور ته مې اند ښېښه ورولوېده، روغتون ته يې بوتلم، ډاکټر رنګارنګ معاينات راته وليکل، دوا يې راکړه، خو زه پوهېدم چې کومه ګټه نه لري، د لابراتوار ماشينونه په مينه څه پوهېدل.
ورځ په ورځ خوړل کېدم، خو علت يې له ما پرته بل چاته نه و مالوم. ان وحيد ته هم نه.
بيا د دروازې د ټکېدا غږ راغی، پوهېدم چې سوالګر دي، ځکه جومه وه، د جومې په ورځ خيرات غوښتونکي ډېر ول. ځان مې غلی ونيو، خو ددروازې ټکا ډېره شوه. د مريم خبرې مې ودرولې، کورتۍ ته ور ولاړ شوم، جېبونه مې ولټول، ماتې روپۍ نه وې.
فکر مې سم وخوت، په دروازه کې دوې زړې ښځې او د اوو کالو په منګ يو ماشوم ولاړ و. د ماشوم چاودې بغور د يخنۍ له لاسه سره ښکارېدل.
نه مې په زړه کېږي چې کوم سوالګر ته مې تر لسو ډېرې افغانۍ ورکړې وې، ځکه ډېر دي، په کوم يوه پسې به يې ورسيږې، خو د دې ماشوم سترګو تاثير راباندې وکړ، سترګې يې ژوندې نه راته وايسېدې، بې روحه وې، بس، لکه د سترګو پر تور چې يې خړ پلاستيک پروت وي، ما هيڅوخت د يو چا په سترګو کې دومره درد او نا اميدي نه وه ليدلې.
سلګون مې ورته ونيو او دروازه مې پسې پورې کړه.
کوټې ته لاړم، خو لا مې د ماشوم سترګې تر مخې تېرېدلې. وروسته مې يوه ټکي ته پام شو، هره ورځ مې په لسګونو سوالګر ليدل، پښتانه پکې ډېر ول.
يوه شېبه بخارۍ ته نږدې پرېوتم، بيا د مريم خبرې راپه زړه شوې، څوکۍ ته ور وښوېدم، ويلي يې و:
ــ وخت ووت، وحيد مې يوائې په پوهنتون کې ليد.
وحيد به هم تر نورو له ما سره ډېرې خبرې کولې، خندل به يې، غږېدا يې له خونده ډکه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله کله به يې ټلېفون هم راته وکړ، پوهېدم چې د هغه هم راسره جوړه وه، خو هيڅکله يې له خولې د مينې خبره راته راونه وته.
يوه ورځ د تفريح په وخت کې له څو نجونو سره ولاړه وم، ګرمي وه، نجونې په يوه خوله وې چې ايسکريم اخلو. روان شوو، وحيد مې وليد، صنف ته ننوت، نجونو ته مې بانه وکړه، ورغلم، وحيد پر مېز ناست و.
غټې توري سترګې يې راواړولې، څيره يې نيولې وه. ورو يې وويل:
ـمشوره راکه!
په حيرانۍ مې ورته وکتل، ده په خپلو تورو وېښتو کې ګوتې تېرې کړې، ويې وويل:
ـورونه مې په لندن کې دي، غوښتی يې يم.
زنګنونه مې ولړځېدل، پر څوکۍ کېناستم.
د وحيد غږ مې واورېد:
ـدا يو کال راپسې ول، خپل هوټل لري، وايي چې کار ډېر دی، په بل چا باور نه شو کولای.
غلی شو، سر يې وځړېد، ورو يې وويل:
ـخو زه غواړم چې پوهنتون خلاص کړم، له خپله وطنه مې زړه نه ځي.
د ژړا چيغه مې ستونې ته راغله، ولاړه شوم، وحيد راپسې غږ کړ:
ـچېرته ځې؟ څه يکې وايې؟
د هلېز ته راووتم، ګڼه ګوڼه وه، ځان مې نه شو کابو کولی، د مخامخ صنف دروازه مې خلاصه کړه، څوک نه و، کېناستم، سترګې مې ډکې وې، خوځه مې کوله چې له خولې مې کوکه راونه وځي.
ښه شېبه ووته، دروازه خلاصه شوه، يو هلک و، په حيرانۍ يې راته کتل.
ولاړه شوم. له پوهنتونه ووتم، ټکسي ته مې لاس وښوراوه، سات وروسته په کور کې وم. مور ته مې سردردي بانه کړه.
خپلې کوټې ته لاړم او پر کټ اوږده وغځېدم.
مور مې ډوډۍ راوړه، خو ګوله مې تر ستونې نه تېرېده.
ماسپښين مبايل وشرنګېد، وحيد و، د ناڅاپي ورکېدو پوښتنه يې کوله.
څه به مې ورته ويل؟ بس! ده ته مې هم ناروغي پلمه کړه.
د سمستر امتحان يې واخيست، نتيجه راووته، په ډېرو مضمونونو کې پاتې وم.
وخت ووت، وحيد ته وېزه راغله. د خدای په امانۍ جرات مې نه درلود، يوه اوونۍ درس رانه پاتې و، له وحيد سره مې په ټلېفون کې مخه ښه وکړه، دی لاړ او زما روح يې هم ورسره يووړ.
د مريم له ډېرشو د قيقو غږېدا مې همدومره خبرې راويستې
ورځ تېره شوه، ماخستن ته مې يو ميلمه درلود. دی سپين ږيری و، له کلي يې د تدوای له پاره مخه رانيولې وه.
بوډا تر ناوخته ويښ و، پخوانۍ کيسې يې کولې، خبرې يې ښې وې، خو تکرار يې ډېر درلود، وړه کيسه به يې ټکي په ټکي راته تېره کړه.
بله ورځ تر غرمې ورسره وم، تر دولسو بجو په ډاکټرانو وګرځېدو، يوه بجه د دوا له پنډې سره کلي ته روان شو، د خدای په امانۍ پر وخت يې دعاوې راته کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماخستن وختې پرېوتم.

* * *

سهار دفتر ته لاړم، د مریم ایمېل نه و راغلی، ورځ تېره شوه، تر رخصتۍ مخکې بیا کمپیوټر ته کېناستم، هیڅ هم نه وو.

ماخستن مې دیګ پخاوه چې د مریم ټلېفون راغی. غږ یې بېسېکه و، له هرې خبرې سره به یې ټوخل.

دې د خبرو د نه رالېږلو علت، د ټوخې ډېروالی ګاڼه.

مریم لنډه وغږېده، ژمنه یې وکړه چې سبا ته به نورې خبرې رالیږي.

ما هم غږېدا ونه غږوله، په غوږو کې د پرتو پیازو ټکا خته، رنګ یې مخ په ژېړېدو و.

خو ماخستن نهه بجې بیا ټلېفون وشرنګېد، مریم وه، ژړل یې...

د (ولي) ټکی مې خولې ته نه راته، هماغسې مې پرېښوده، دې تر ډېره وژړل، بیا یې په غریو کې ښښنه وغوښته، رایاده یې کړه چې د زړه د تشولو له پاره بل څوک نه لري.

مریم یوه خبره کوله. ویل یې چې د کوچیني ورور په وینو لړلی غوږ یې له ذهنه نه وځي.

غلی وم کیسه نه وه رامالومه، هیڅ مې هم نه شوای ویلای.

ټلېفون قطع شو، سکرین ته مې وکتل، مریم، پینځه دقیقې ژړلي ول.

* * *

د خیرخانې په کوتل کې مې د موټر ښیښه خلاصه کړه، یوه همکار په بیړه لاس ور وغځاوه، په خندا یې وویل:

ـ یخنې ده.

سوړ شمال مې له مخه لیرې شو.

موږ هره دوشنبې ساحې ته ځو، همکاران باید جوړې کړې راډیویې خپرونې خلکو ته ور واوروي، د هغوی نظریات واخلي او په راتلونکو خپرونو کې یې په پام کې ونیسي.

له موټروان سره اته تنه وو. په نیت کې مو د کابل د استالف ولسوالی نیولې وه.

د خیرخانې له کوتله ور هاخوا په سلګونو ښکلي، ځو پوړیزه، پاخه کورونه په مخه راغلل، په واورو کې ولاړ ول، هر یو یې په لکونو ډالرو ارزېدل.

مخکې لاړو، نوي ښارګوټي په چټکۍ سره تېرېدل، پای یې نه و، د لیرو پرتو کلیو نیمایي کورونه پاخه وو. هر دوه، درې سوه متره وروسته به د مکتب یا لیسې لوحه راغله. خلک تازه او پرېوللي ښکارېدل.

یوه اوونۍ مخکې سفر مې سترګو ته ودرېد، غزني ته تلم، د کابل له ښاره همدومره لیرې شوی وم، خو نه مې پوخ دېوال ولېد او نه هم خوشاله څېره. بس یواځې تور سړک او روانې موټرې د یو ویشتمې پیړۍ نښې وی.

یو نیم ساعت مو مزل وکړ، لس بجې د استالف تخت ته ورسېدو، دروازه خلاصه شوه، د موټر ټابرونه تک تور او سوتره ښکارېدل. ټوله لار پر پاخه سړک راغلی و.

د استالف تخت لوړه غونډۍ ده، د ناجو زړې ونې پرې ولاړې دي. دواړو لورو ته یې ګڼ کورونه ښکارېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تخت پر سر يوې لوېې ونې ته ودرېدم، وچه وه، نيمايي تنه يې سوځېدلې ښکارېدله.
يو غږ مې واورېد:
_از وقت های جنگ است.
مخ مې ور واړاوه، يو بوډا پيتاوی ته ناست و. د زړو ونو کيسه يې راته تېره کړه، ويل يې چې دا ونې يو نيم سل کاله عمر لري، دا لګېدلې ونه مو د تيرو جګړو يادګار ساتلی دی.
شاوخوا مې سترګې ورغړولې، لاندې په سپينو واورو کې د روانو اوبو تر څنګ له ګڼې ګوڼې ډک بازار و، په دوکانونو کې استالفي لوښي ځلېدل.
د بوډا خبره سمه وه، د جنګ علامې نه وې پاتې، ان په واورو پټ غرونه هم ژوندي ښکارېدل.
يوه همکار مې راغږ کړ، ورغلم، تر يوې ونې لاندې څو ماشومان راغونډ ول، دوی يوه راډيويي خپرونه اورېدله.
ټول غلي ول، تر پايه يې يوا ځې ټايپ ته کتل.
همکار مې د خپرونې د ژبې او مالوماتو په اړه څو پوښتنې ورنه وکړې. ټول پوه ول.
له يوې دولس کلنې نجلۍ مې وپوښتل:
_اوس خو مکتبونه هم رخصت دي، نو له کتابونو ډک بکس دې ولې غاړې ته اچولی دی؟
لاندې بازار ته يې ګوته ونيوله، را ياده يې کړه چې هلته ژمني کورسونه دي، د شاوخوا کليو نجونې او هلکان د راتلونکې کال درسونو ته تياری نيسي.
لويديځ ته مې وکتل، د اوږده غځېدلي غره سپينې څوکې لمر ځلولې، خو د همدې غره ور هاخوا لا اوس هم جګړه وه، واورې يې تورې او پخځې په وينو سرې وې، سپين ږيرو به ماشومانو ته کيسې کولې" وو، نه وو ، په پخوا زمانه کې يو مکتب و..." خو دلته، په دومره لنډه فاصله کې سپين ږيري وايي "بود نبود، در زمانه های قديم جنگ بود... جنګ، درخت تخت استالف را سوختاند..."
د ملګري غږ جټکه راباندې راوسته.
_راځه! لاندې بازار ته ورکښته شو.
د هغه خبره سمه راته وايسېده، موږ تر يوې بجې په استالف کې وو. ملګرو مې له خلکو سره مرکې وکړې، د خپرونو په اړه يې د دوی نظريات واخيستل، درې بجې دفتر ته راورسېدو.
وار له واره مې ايمېل وکوت، د مريم خبرې مې په فلش کې راواخيستې، تياره ماښام په کور کې وم.
مريم ويلي ول:
_وخت لمر و او زه هم د يخ تو ټه. په لنډ وخت کې مې د اوږو هډوکي راوختل، تر سترګو مې تورې حلقې تاوې شوې، د کور په دهلېز کې به له ولاړې هېندارې ښويه تېرېدم.
په دربيمه مياشت ټلېفون راغی، وحيد و، لنډ وغږېد، ويل يې چې په همصنفيانو پسې خپه شوی يم.
سخته وه، په ډله کې يې راوستم، خو وروسته مې زړه سره راټول کړ، هېره يې نه وم. نومره مې تر اوسه ورسره وه.
غلې وم. سبک مې ختلی و. د قبرونو ليدو به ارامي رابښله.
خو څه موده وروسته مې ژوند ته تمه پيدا شوه. بس، يو ليرې خپل مو له کوچنيانو سره لندن ته ورسېد.
پلار ته مې وويل، د لندن خوبونه مې ورته تېر کړل، راتلونکې هوسايي مې يې سترګو ته ودروله. نه يې منله، رايادہ يې کړه چې په خپل وطن کې ښه يو، وچه، لنده رارسيږي، پردي ملکونه څه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مور سره کېناستم، د لندن په صفتونو مې خوله ستړې شوه، د هغې ځواب هم منفي و.
چاره نه وه. کوچيني ورور ته مې په غوږ کې ورپوه کړل، ذهن يې له خيالي دنيا ډک شو، ژر يې قناعت وکړ.
اوس نو په څلورو کې دوه تنه مخالف ول.
ورور او خور به هره ورځ د خيالي ژوند په اړه غږېدل، کيسې به يې کولې، خپل راتلونکی به يې په مزو کې ليد.
دا خبرې مې په مور او پلار نېې نه لګېدې، اول يې نصيحت کاوه، واقعي ژوند ته يې راګرځولو، خو وروسته يې پر دوی هم تاثير وکړ، د لندن له خبرو يې خوند اخيست.
يوه ورځ مې مور د خپلوانو کره تللې وه، کله چې راغله، وار له واره يې د لندن کيسې راواخيستې. خبره مالومه شوه، دې له لندن نه زموږ د خپلوانو راليږلي عکسونه ليدلي ول. ويل يې چې اولادونه يې په اسرات کې ول.
مور مې دا هم وويل چې د کورنيو د قبليدو چانس ډېر دی.
بس! پلار مې هم راضي شو، په لومړي ځل يې د کابل له دوړو او د دوکان ترمخ د لښتي له بوينا کاو بو شکايت کاوه.
ما ته خدای راکړه، رنګ مې راوګرځېد، ژوند خوږ راته وايسېد، راتلونکې مې له وحيد سره ليده. ډېر وخت به مې د انګليسي ويلې کتابونه له سره کتل.
پلار مې د خپلو ملګرو په مرسته يو قاچاقبر وموند، قاچاقبر د هر سړي پر سر اتلس زره امريکايي ډالره غوښتل، خو معامله پاکه ښکارېدله، پيسې په کابل کې، له صراف سره ايښودل کېدلې. بس، لندن ته په رسېدو يې يو ټليفون غوښت. پلار مې صراف ته د رسېدو ډاډ ورکاوه او قاچاقبر خپلې پيسې اخيستې.
بل شرط دا و چې سفر زميني دی.
همدومره.
مور ته مې پر ځمکه تګ خوند ورنه کړ، ويل يې چې سل خطره ورسره ترلي دي. خو د پلار د ليل مې دا و چې د طيارې تګ ډېرې پيسې غواړي، ده د هر نفر پر سر ديرش زره ډالره ياد کړل، دا يې هم وويل چې له دې سره، بيا هم ټول سفر په طياره کې نه شي کولای، ځينو ملکونو ته به پر ځمکه ور اوړې.
د پلار په خبرو کې ما هم يو څه مرچ او مساله ورګډ کړل، د يوې کورنۍ کيسه مې ورته تېره کړه، ومې ويل چې په همدې لاره روان شول، خو اوس په اروپا کې دي.
درې نفره په يوه خوله ول، مور مې هم راواوښته.
زموږ کور بې نقشې و، پلار مې نفر ورته راووست، پنځه اويا زره ډالره يې جوړ کړل. د دوکان او کور وسايل هم خرڅ شول، پلار مې لس لکه افغانۍ ډالرو ته واړولې، ورغی، د څو شاهدانو ترمخ يې دوه اويازره ډالره له صراف سره کېښودل، پاتې پيسې مې ما او مور په خپلو زېرپيرانيو کې وګنډلې. په حويلۍ کې د منو د ونې پاڼې مخ په ژېړېدو وې چې له کوره راووتو.
مريم غلې شوه، سوړ اسويلی يې ويست او خپلې خبرې يې وغځولې.
_تر نيمروزه کومه ستونزه نه وه، بس، شپه مو په کندهار کې تېره کړه او بله ورځ غرمه رباط ته ورسېدو.
رباط د افغانستان هغه کونج دی چې په ايران او پاکستان، دواړو پورې ښتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور په یوه کوچیني بازار کې له موټره کښته شوو، پلي روان وو، مور مې څو ځله په ځنګ ووهلم، پوه یې کړم چې چادرې په خاورو کې درپسې کړښي، خو وروسته خندا راغله، د چادرې له ورو څلورکونجه سورویو مې ورته کتل، دې په خپله دوه ځله ټوټه ووهله، د چادرې پیڅکې یې په پښو کې بندیدلې.

شېبه وروسته د تېلو د پلورلو یوه دوکان ته ودرېدو، پلار مې یوه کوچیني کاغذ ته وکتل، دوکاندار ته یې څه وویل، هغه مخامخ کوټه ونیوله.

مور مې په بېړه کوچیني ورور تر ولیو ونیو، د موټر سایکل د برېک کرښنده اواز پورته شو.

مور په پلار پسې ګامونه واخیستل، یوه تنګه کوڅه مو په مخه ورکړه، کوڅه لنډه راتاو شوې وه، بېرته د یوه خړ دوکان تر مخ ودرېدو.

پلار مې پر بایسکل سپور سړی ودراوه، سړي یوه هلک ته ورناره کړه، هغه ته یې څه وویل، نه پوهېدم، بلوچي ژبه راته ښکاره شوه.

هلک روان شو، مور هم ګامونه پسې واخیستل. یوه خیرنه پرده مې لیرې کړه، تورخی راغی، لویه کوټه د چیلم له لوګي ډکه وه. په بیړه مې دواړو خواوو ته وکتل، څو تنه پر غوړ تخت پراته ول، خرهاری یې خوت، ځنګ ته یې پر پلاستیکي څوکیو دوه ځوانان ناست ول، د یوه له خولې سپین لوګی راووت، د چیلم سرخانه سره انګار نیولې وه.

په هلک پسې د لرګي پر زینو وختو، تنګ دهلېز و، دواړو غاړو ته یې غوړ ورونه راپرې ول.

همالته ودرېدو، هلک په منډه لاندې کښته شو.

یو تور، ډنګر سړی راغی، پلار مې کاغذ ورته ونیو، سړي هیڅ هم ونه ویل، له جېبه یې کونجي (کیلي ) راویسته، دروازه خلاصه شوه.

زه، مور او کوچیني ورور مې ورې کوټې ته ور ننوتو، پلار مې په دهلېز کې له سړي سره ودرېد.

ما دروازه پورې کړه، مور مې کړکۍ ته لاس وروغځاوه، په کوټه کې د خولو له پخواني تروش بوی سره پوست باد ګډ شو.

مور ته مې وکتل، خندا راغله، سپین مخ یې د چادرۍ د سوریو په اندازه سپېره و..

ما هم خپله چادري لیرې کړه، شاوخوا مې وکتل، له کاه ګلي دېواله، زنګن میخ راوتلی و، چادرې مې پر میخ راوځړوله.

ورور مې ورسۍ ته ولاړ و، ورغلم، د هغه د ککرۍ پر ګټو تورو وینښتو مې زنه ولګوله، لاندې مې وکتل، یوه دوکاندار وچي سترګې راته نیولې وې.

ګام شاته شوم. دوکاندار د ورسۍ د شنه چوکاټ تر لاندینۍ برخې پټ شو.

مخامخ د دوکانونو خړ بامونه ښکارېدل، زاړه ټیمان، مات چوکاټونه، د تېلو غوړې بوشکې... پرې پرتې وې. تر ټیټو غونډیو ورهاخوا د سمندر غوندې هواره دښته ښکارېدله.

کرېږ شو. مورته مې وکتل، د اوږې لوی بکس خلاصه خوله پروت و. مور مې مخ ته آیینه نیولې وه، پر یوه ټوټه یې د سترګو شاوخوا دوړې پاکولې.

ورور مې یو دم چیغه کړه، منډه یې واخیسته، له وره سره ودرېد.

رنګ یې ژیړ و، په راوتلو رډو سترګو یې ورسۍ ته کتل.

مور مې چټکه ولاړه شوه. علت یې وپوښت،. هلک لړزې اخیستی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسۍ ته مې وکتل، په بیړه شاته شوم، تر بښینې لاندې یو مړژواندی کربوړی پروت و.
پلار مې له ډکې پلاستیکي خلطې سره کوټې ته راغی، کربوړي ته یې لاس ور وغځاوه او د تشناب له کاغذ سره یې یو ځای د ورسۍ تر خلاصي پلې، لاندې وغورزاوه.
پلار مې پر هواره خیرنه توشکه کېناست، خلطه یې خلاصه کړه، شېبه وروسته د ټولو ژامې خوځېدلې. کیک مو له پپسي سره خوړ، خوند یې نه راکاوه، خو پلار مې ویل چې د هوټل تر خوراکه پاک دی.
له ډوډۍ وروسته اوږده وغځېدو، ستړي وو، ورور ته مې مخ ور واړاوه، لا یې د کربوړي ځاې ته کتل، د توشکو له سوړ بوی سره د تېلو غوړ بوی هم ګډ و.
له پلاره مې وپوښتل:
_ابا: دلته د تېلو دوکانونه ډېر دي، ولې؟
ویې ویل:
_تر پولې ور هاخوا د ایران، زاهدان دی، تېل په بوشکو کې قاچاقي را اوړي.
پلار مې غلی شو، ور ومې کتل، له خپل سپین لستوني یې توره غټه سپږه ور واخیسته، ولاړ شو او لاس یې تر کړکۍ ویست.
ماته یې وکتل، ویې خندل، بېرته پر خپل ځای پرېووت، ورو یې وویل:
_خارج ته تګ، دا کیسې لري.
مور مې ورته وکتل، نه وه پوه شوې.
ټلېفون راغی، خبرې مې ودرولې، مریم وه، د خبرو د رسېدو ډاډ یې غوښت.
وریاده مې کړه چې کمپیوټر ته ناست یم.
ښښنه یې وغوښته، ویې ویل چې ساعت وروسته به ټلیفون وکړي.
بېرته مې د کمپیوټر کیبورډ ته لاس ور وغځاوه.
مریم ویلې ول:
_ماښام د کوټې دروازه وټکېده، پلار مې دهلېز ته ور ووت، پاو وروسته بېرته راغی، ویل یې چې سبا ورځ هم همدلته یو.
ورور ته مې غوسه ورغله، خو مور مې له خدایه خیر غوښت.
د شپې تر ډېره خوب نه راته، ورور مې له پلار سره ویده و، نا ارامه ښکارېده، نه پوهېدم، سپږې وې، که وږي، زه یې هم خوړلم، د کمپلې د بوی له لاسه مې مخ نه شو پټولی.
سبا، تر غرمې کړکۍ ته نږدې ولاړه وم، بازار ته مې کتل، په پټکو او خولیو کې به یو نیم سر تور سر هم تېر شو، پسې وبه مې کتل، سر تور کسان پاک ښکارېدل، رنګونه یې هم ښه ول، ډېرو یې پر موډ برابر پطلونونه اغوستې وو، داسې راته واېسېده، لکه له ایرانه چې یې را اړولي وي.
دروازه خلاصه شوه، پلار او ورور مې ول، دوی دوې پلاستیکي خلطې پر غولي کېښودې، مور مې په پوښتونکي نظر ورته وکتل، پلار مې وریاده کړه، چې په یوه خلطه کې حجابونه دي. دوهمه خلطه یې ور واخیسته او تشناب ته ننوت.
ورور مې په خوند وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـله نږدې غونډیو ، تودې اوبه راوځي.
په خبره یې ونه پوهېدم.
ورور مې وویل:
ـبازار ته نږدې غونډۍ دي، چینې لري، ما په خپله لاس ورته ونیو ، تودې اوبه راتویېدلې.
د مور غږ مې واورېد:
ـدا څنګه اغوښتل کیږي؟
ور و مې کتل، توره اوږده ټوټه یې پر زنګنو پرته وه.
ودرېدم، ټوټه مې په ځان پورې ونیوله، بیډیو ته رسېده.
ومې ویل:
ـاسانه ده، بس، د ټکري غوندې ځان پکې پټ کړه.
د پلار غږ مې واورېد:
ـڅنګه ده؟
ور و مې کتل، د تور پطلون له پاسه یې سپین یخن قاق اغوستی و.
دا لومړی ځل و چې ما په ملکي دریشي کې لید.
مور مې ولاړه شوه، د ابا د یخن قاق غاړه یې سمه کړه، ورو یې وویل:
ـله کومه دې کړل؟
پلار مې کوچیني ورور ته اشاره وکړه، هغه تشناب ته ننوت. ویې ویل:
ـسرحد دی، په دوکانونو کې هر څه پیدا کیږي.
کور مې سترګو ته ودرېد ، تلویزیون ته نږدې د ابا پخوانی عکس ولاړ و ، عسکري دریشي یې کړې وه. په مخ کې یې یوه ګونځه هم نه ښکارېده، خو اوس هم ښکلی راته وایسېد ، په پطلانه کې ځوان مالومیده.
ورور مې راغی، په کاوبای پطلون کې ښکلی ښکارېده.
پلار مې د یخن قاق له پاسه کورتۍ واغوسته، ویې ویل:
ـسفر مو ماښام ته شو.
د مریم خبرې مې ودرولې.
بخارۍ ته ورنږدې شوم. مړه وه، دروازه مې یې خلاصه کړه، لرګي پوره نه ول سوځیدلي. ور پوه مې کړل، غوټه ایرې مې سترګو ته راغلې. بخارۍ مې په خپل حال پرېښوده، لاړم، تلویزیون مې ولګاوه او کمپله مې پر پښو راکش کړه.
د کار وړ پروګرام مې ونه موند ، یا به زما په ذوق نه ول برابر. بس، تلویزیون مې بېرته مړ کړ. د ټلېفون چونګا شوه، ولاړ شوم، د ټلېفون چارجر مې په ساکټ کې بند کړ.
بېرته په کمپله کې پرېوتم. د بخارۍ په نل کې د باد د تاوېدو غږ راته.
ټلېفون راغی، له کمپلې سره ور وښوېدم، مریم وه.
ساکټ ته نږدې ستوني ستغ اوږد وغځېدم، ملا مې سره ولګېده، تر غالۍ لاندې سیمیټ وو.
مریم خوشاله ښکارېدله، خو تر اوسه یې لا په خبرو کې ټوخی ګډ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوشالۍ علت مې وپوښت:
را یاده یې کړه چې له دوو میاشتو وروسته یې یو پښتون ولید.
په خبرو کې یې ور ولوېدم:
ـ څنګه دې وپېژاند ؟
مریم سره ساه واخیسته:
ـ نه پوهېږم. لوسي مې څنګ ته ولاړه وه، سیروم یې تاړه. له دهلېزه د وطن د خاورې بوی راغی. له لوسي مې هیله وکړه چې دهلېز وګوري.
د سر په ښورولو یې پوه کړم چې د سیروم له تړلو وروسته به احوال درته راوړم.
زما شک سم وخوت، یو چا په ټلیفون کې پښتو ویله.
په بېړه ولاړه شوم، د سیروم ستن مې له لاسه وختله، لوسي تر مټ ونیولم، چیغه مې کړه:
ـ پښتون دی.
لوسي په حیرانۍ راته کتل. له هغې مې وغوښتل چې دهلېز وګوري.
همداسې وشول، یو په ونه لوړ سړی کوټې ته راغی، تر پنځوسو اوښتی و، په څېره کې یې حیراني نه ښکارېدله.
سړي مې سر ته ودرېد، زما پر ککرۍ یې لاس تېر کړ، پر شونډو یې خوږه موسکا پرته وه.
پوه شوم. لوسي په منډه پوه کړی و.
دی لنډ وغږېد، ویل یې چې پکتیاوال دی، خو اوس په امریکا کې اوسي، دی له خپلې ایټالیاوې مېرمنې سره په چکر راغلی و، د سیل په وخت کې یې د مېرمنې پښه اوښتې وه، تر دې کوم بل نږدې روغتون یې نه و موندلی.
له ما یې کومه پوښتنه ونه کړه.
سړي یوه شېبه راسره کېناست، وروسته ټلیفون ورته راغی، له خبرو یې پوه شوم چې مېرمن یې ورته ماتله ده.
مریم وټوخل، غلې شوه. یو دم یې وخندل:
ـ ښه ! کیسه دې څنګه کړه؟
ومې ویل:
ـ اورم یې، د کار خبرې ترې را اخلم.
ویې خندل:
ـ د کار خبرې؟.
پوه شوم، ښه خبره مې نه وه کړې، ومې ویل:
ـ هدف مې دا نه و، ته خو پوهېږې، ادبیات دې لوستي، لیکنه چاڼ غواړي.
ویې خندل:
ـ ټوکه وه.
زړه مې خپل ځای ته راغی.
ویې ویل: .
ـ کومه پوښتنه لرې؟
ـ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خندا یې وویل:

ـخو زه یوه پوښتنه کوم.

وایه.

ـهر څه په پښتو درته ووایم که نه، ایرانۍ پارسي او انګلیسي هم پکې ګډه کړم.

خندا راغله:

ـپوه نه شوم.

ویې ویل:

ـګوره، په لاره کې له ګڼو خلکو سره مخامخ شوم، ځینو یې پارسي ویله، یو شمېر په انګلیسي پوهېدل، دا سې خلک هم ول چې په نا اشنا ژبو یې خبرې کولې، د هغوی ډېرې خبرې مې په یاد دي، اوس دې نو خپله خوښه، ددوی خبرې هم په پښتو درته ووایم، که نه، په اصلي ژبه یې غواړې.

فکر مې وکړ، پښتو ښه راته ښکاره شوه. دوه علته وو، لومړی، که مې د مریم په خبرو کې نورې ژبې را اخیستی، مجبور وم چې پښتو مانا هم ورسره ولیکم، دوهم دا چې لیکنه بې خونده راتله، ځکه مې وویل:

ـنه، هر څوک چې په هره ژبه غږېدلی دی، ماته یې په پښتو ووایه.

ویې خندل:

ـسمه ده.

ـښه کومه بله پوښتنه؟

ـنه، لوسي راته ولاړه ده، وايي چې خیرنه شوې یې، حمام تیار دی.

ټلیفون قطع شو.

کمپیوټر ته مې وکتل، د مریم خبرې لا پاتې وې، خو د لیکلو حوصله مې نه درلوده.

ولاړ شوم، په کمپیوټر کې مې یوه پخوانۍ هندي سندره راوسته.

ګروپ مې مړ کړ، اوږد پرېوتم، د سندرې نری ساز راته.

کړپ، د پیشو کریږې او پر کاشیو د لوښو د لوېدو اواز راغی.

دهلېز ته مې منډه کړه، له اشپزخانې یوه خیرنه پیشو راووته، غولي ته مې وکتل، د دهلېز پر سره فرش دا سې څه نه وو، چې د پیشو ویشتلو ته جوړ وي. پیشو د دهلېز له خلاص وره ښویه ووته.

د اشپزخانې وره ته ورسېدم، بله پیشو راووته، خو دا پیشو ورو تله، کینه پښه یې درنه پسې اخیستله.

تر پیشو مخکې د دهلېز وره ته ورسېدم، پیشو نوک ونیو، لار ورنه ورکه وه، بېرته اشپزخانې ته ننوته.

ور مې بند کړ، ورغلم، د اشپزخانې پر ګلداره کاشیو ماتې کوکۍ، د وریجو دانې او چیچل شوي هډوکي پراته ول.

لړمون مې اور واخیست. جارو ته مې لاس وروغځاوه، پیشو د ګاز د لوېې ډېبې تر شا غلې وه، وچې سترګې یې راته نیولې وې، وارخطا ښکارېده.

ور مخته شوم، جارو مې تر سر پورته کړه، پیشو هماغسې راته کتل. په سترګو کې یې معصومیت پروت و.

یوه شېبه مې د پیشو سترګو ته وکتل، سترګو یې یوه خبره کوله:

ـملامت نه یوو، په دې واورو کې څه وخورو؟

نه پوهېږم، ماته یې په سترګو کې همدا ټکي ښکاره شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیشو ته مې لار ورکړه، دهلېز ته ووته، په وره کې یې نوک ونیو، را ویې کتل، پوه یې کړم چې د دهلېز دروازه پورې کوه او ککړ لوښي سبا ته مه پرېږده.

غولي ته مې جارو ونیوه، د غاب ماتې ټوټې مې راټولې کړې. کله ، چې کوټې ته لاړم، سندره ختمه وه. یخنۍ واخیستم، ګروپ مې بل کړ، بخارۍ ته ور وګرځېدم، غټ، غوړ لرګي ته مې د اورلګیت دانه ووهله، وار له واره یې پرررر شو ، لمبه تر نورو نیمه سوځېدلو لرګو راتاوه شوه.

خوب نه راته، ببرته کمپیوټر ته کېناستم.

مریم ویلي ول:

_مابنام قضا دروازه وټکېده، پلار مې ور ووت، ببرته راغی، رایاده یې کړه چې باید لاړ شو.

تیاري ته ضرورت نه و ، بس، په حجابو کې مو ځانونه ونغاړل، پلار مې د اوږې بکس ور واخیست، همدا یو بکس و ، د ټولو کالي پکې پراته ول.

لاندې کښته شوو ، په یوه ډنګر ځوان پسې موګړندي ګامونه اخیستل، ساه مو لا نه وه سوځېدلې چې په یوه کور ننوتو.

لو یه حویلی وه، ډله خلک ښکارېدل، ډېری یې تنکي ځوانان ول، د غاړې له بکسونو یې پوه شوم چې د سفر نیت لري.

یوه دېوال ته ودرېدو ، شاوخوا مې وکتل، شینډکی نه تر سترګو کېده، ټوله ځمکه غوړه وه، ځای ځای د تېلو زړې بوشکې پرتې وې.

لو یه دروازه خلاصه شوه، یو سیټه باډۍ لرونکی کوچینی موټر و ، تېزه رڼا یې پر ولاړو خلکو لګېدله.

موټر ودرېد ، ځوانانو منډه ور واخیسته، هر یوه هڅه کوله چې لومړی باډۍ ته ور وخیژي.

د موټر له سیټه دوه تنه راکښته شول، ایراني فارسي یې ویله، دوی په نرمه ژبه د نوبت غوښتنه کوله. باډۍ ډکه شوه، د خلکو ملاوې ترې راوتلې وې.

موټروان زمونږ خواته اشاره وکړه.

پلار ته مې وکتل، حیران و. ورغی، له خبرو یې پوه شوم چې زمونږ ځای هم د موټر باډۍ ده.

پلار مې تر ډېره ورسره و ، لاسونه یې خوځېدل، داسې راته واېسېد ، چې ځای مناسب نه ورته ښکاري. وروسته راغی، بله چاره مو نه درلوده.

ورغلو ، موټروان د باډۍ په پورته سر کې ځای راته جوړ کړ، زه او مور مې په مینځ کې کېناستو ، یوې خواته مې پلار ځای ونیو او بل لور ته مې هم ورور. خو بیا مې هم له زنګنو سره د مخامخ ناست ځوان ملا لګېدله.

موټر ته مې وکتل، په وړه باډۍ کې شپاړس تنه ناست ول. دوه نور راغلل، ځای نه و ، د باډۍ په وروستۍ برخه کې له موټره پر وتلو دړو کېناستل.

موټروان باډۍ ته نږدې ودرېد ، مساپرو ته یې ډاډ ورکړ، ویې ویل چې ځانونه کلک ونیسی، ساعت وروسته به په زاهدان کې یو.

موټر حرکت وکړ، ځراغونه یې مړه ول، د سپوږمۍ په کمزورې رڼا کې یې لاره پرې کوله. کله چې به د موټر ټایر کومې کندې ته ور ولوېد ، ملا به مې په شدت شاته پر ولاړو اوسپنو ولګېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوو ځوانانو په ټيټ غږ خبرې سره کولې، له غږېدا يې پوه شم چې روان موټر سيمرغ نوميږي، وروسته مې زړه ولړزېد ، يوه يې ويل چې تېره اونۍ په همدې ځای کې ډزې وربانديِ وشوې.

موټر ودرېد. له موټروان سره ناست برېتور سړی راکښته شو ، ليرې بل ګروپونه يې راوښودل، ويل يې چې ايرانۍ پوسته ده، نه به خبرې کوئ او نه به هم سګرټ ته د اورلګيت دانه نيسئ.

وروسته يې ګامونه واخيستل، ما تر هغو پسې کتل چې په تياره کې ورک شو.

موټر حرکت وکړ، ورو روان وو ، بس، د بنيادم تګ يې کاوه، ناست کسان غلي ول، حرکت يې نه درلود ، ان د ساه ايستلو غږ يې هم نه راته.

ورور ته مې وکتل، په تورو غټو سترګو کې يې د سپوږمۍ رڼا ګډه وه.

مخکې لاړو ، بل ګروپونه رانږدې شول، يو سيوری راغی، هماغه برېتورسړی و ، موټر ودرېد ، سړي موټروان ته څه وويل، ماشين مړ شو.

سړی باډۍ ته راغی، له ما ، ورور مور او يوه بل کوچيني هلک پرته يې ټول له موټره کښته کړل. له ډلې يې اووه، اته، پياوړي کسان پرېښودل، پلار مې هم پکې و ، پاتې مسافر له برېتور سړي سره په تياره کې ورک شول.

ولاړو کسانو د موټر د باډۍ پر شاتنۍ برخې زور راووست، باډۍ جټکه وخوړه، ټايرونه تاو شول، سيورو حرکت وکړ.

موټروان د سيټ تر ښيښې سر را ايستلی و ، مخکيني ټايرونه يې هواري ته سيخول.

موټر په مړه ماشين روان و ، ما بلو څراغونو ته کتل، نږدې ول، سپينه رڼا پر ايراني بيرغ لګېدله.

ناڅاپه موټر ودرېد ، د باډۍ وروستۍ برخې ته مې وکتل، يو هم نه و ، غږی مې اوږده کړه، ټول پرځمکه پراته ول. پر اوږه مې فشار راغی، د موټروان لاس و ، پوه يې کړم چې سر ټيټ ونيسه.

پوستې ته مې وکتل، عسکر و ، د لاسي بتۍ سپينه رڼا يې تر موږ نه رارسېدله. عسکر يوه شېبه ولاړ و ، وروسته کوټې ته ننوت.

پر ځمکه غځېدلي خلک پورته شول، لاسونه يې د موټر پر شاتنۍ برخه کېښودل، موټر حرکت وکړ.

له سرحدي پوستې واوښتو ، موټر ګړندی شو ، جمپونه نه احساسېدل، له باډۍ مې سر ور وايست، ټاېر پر توره ليکه تاوېده. بل څراغونه ورو ورو ليرې کېدل. په سترو کسانو کې مې د پلار د سا ايستلو غږ لوړ و

ښه شېبه ووته، موټر ودرېد ، شاوخوا مې وکتل، د سپوږمۍ رڼا سپينه وه، خو نږدې غونډۍ توري ښکارېدلې.

د موټروان ورو شپېلکې مې واورېد. د پله له لاندې ډله کسان راووتل، ټول باډۍ ته را وختل، برېتور سړی له موټروان سره کېناست.

موټر په مړو څراغونو ګړندی روان و ، د باد پرهاری خوت، د حجاب ژۍ مې له بغور ( اننګي ) سره لګېدله.

پاو ووت، ليرې دوه څراغه ښکاره شول، رڼا زموږ خواته را روانه وه، موټر ورو شو ، خامې ته ولوېد ،مخکې لاړ، ودرېد ، رڼا تر ټيټې غونډۍ پټه وه.

دوو مسافرو په يوه خوله وويل:

ـ ګزمه ده.

د موټر له سيټه خلاصې ګوتې راووتې. ټول غلي شول.

رڼا د غونډۍ له بلې خوا راووته، نېغه د پوستې کمزورو څراغونو ته ور روانه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر حرکت وکړ، پاخه سړک ته وخوت، تګ یې تر پخوا چټک و.
له غوندیو ووتو، د سپوږمۍ رڼا تر لیرې رسېده، هواره دښته وه. مخکې لاړو، ګڼ ځراغونه ښکاره شول، نه پوهېدم، بازار و که کوم عسکري ځای، د موټر د ماشین غرهارې خوت، باد تېز لګېده، ټکری مې د زنې دواړو خواوو ته ټینګ نیولی و.
ناڅاپه درب شو، سپیرې دوړې تر موږ تېرې شوې. ورور مې تر مټ ټینګه ونیولم، موټر خامې ته ولوېد، خو تګ یې د پخوا په څېر ګړندی و.
یودم کوکه شوه:
ـورور مې!
په بیړه مې ور وکتل، د باډۍ په وروستۍ برخه کې یوه سړي چیغې وهلې، له موټر وتلې دړې ته مې پام شو، زړه مې ولړزېد، څوک نه و.
د سړي له کوکو سره ژړا ګډه شوه:
ـموټر ودروئ!
د موټر ټاپرونه په وړو ډبرو ونښوېدل، خلک په دوړو کې پټ شول.
سړي ټوپ کړل، د پاخه سړک خواته یې منډه ور واخیسته.
برېتور سړی تر ښیښې سر راویست. یوه مسافر په بیړه وویل:
ـورور یې ولوېد.
موټر حرکت وکړ. پلار مې د موټر د سیټ بام ته سوکان ونیول. موټر ودرېد. موټروان راکښته شو. په غوسه و، ویل یې چې خپلې غاړې مې درباندې خلاصې کړې وې، څوک چې ولوېدل، نو ولوېدل، زه نه شم کولای چې د بل یوه له پاره خطر ومنم.
یوه مسافر چیغه کړه!
ـدا څنګه مسلمان یې!
کړس شو، مسافر خپل مخ ته لاس ونیو.
ورور مې زما پر اوږه سر کېښود.
موټروان بېرته سیټ ته ور وګرځېد، موټر حرکت وکړ. لیرې دوه تنه ښکارېدل، ناست سړي ځمکې ته سوکان نیولې وو نرۍ چیغې یې راتلې، بل په تورو خاورو کې پروت و.
د مریم خبرې ختمې شوې.
بخارۍ ته مې وکتل، سره وه، خو تاو یې تر کمپیوټره نه رارسېده.

* * *

سهار دفتر ته لاړم، یوه ملګري مې کوژده کړې وه، نورو همکارانو شیرینې ترې غوښته، بس، سلا په دې شوه چې غرمې ته به ماهیان راباندې خوري.
همداسې مو وکړل، شپږ تنه پوره دولس بجې له دفتره ووتو. نږدې ځای د خیرخانې قلعه یې نجارا وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغلو، په یخه هوا کې د ماهیانو خوراک خوند وکړ، د چایو د سورورلو په وخت ټلیفون راغی، حیران شوم، مریم وه، دې به یو اځې له ماښامه وروسته ټلیفون کاوه.
د باندې ووتم، ښښنه یې وغوښته، را یاده یې کړه چې د کار په وخت کې یې مزاحمت وکړ، خو وروسته یې یودم وویل:
ـد موټرو غږ دی.
یوه مې کړه چې د ماهیانو د خوراک له پاره قلعه یې نجارا ته راغلي یو.
په غږ کې یې بدلون راغی، په خوشالي یې وویل:
ـپه چهار راهي کې یې؟
ـهو
ـکومې خواته.
ـشمال !
ـخو په جنوبي برخه کې ښه ماهیان ورکوي، ته ورته وګوره، زه مې له مور سره څو ځله ورغلي یم.
ومې کتل. تر سړک ور هاخوا له لویې کړایي څخه تاوونه پورته کېدل.
ومې ویل
ـاورې
ـهو
غږ یې ژړغونی و. خو و روسته یې یودم وخندل.
ـهی، چهار راهي ته وګوره، هغه بوډا ترافیک شته، اوږده ږیره لري.
ومې کتل، یوه ځوان ترافیک د موټرو نظم برابراوه.
مخکې تر دې چې د (نه) ځواب ورکړم، مریم په خوند وویل:
ـمور به هر سهار همدلته د پوهنتون یوه ملګرې را اخیسته، خو وروسته یې د دریدو ځای بدل کړ، ویل یې چې زوړ ترافیک ډېر راته ګورې. بس، خدای راکړه، ملګرې به مو ځوروله، ویل به مو چې زوم خو بیا ولاړ دی.
مریم ټوخې واخیسته، ټوخی یې اوږد شو، وروسته یې غاړه صافه کړه،ورو یې وویل:
ـوبښه.
شاته مې وکتل، یوه ملګرې مې ساعت ته اشاره کوله.
د مریم نیولی غږ مې واورېد.
ـقلعه یې نجارا څنګه ښکارې؟
ـهیڅ، لاندې دوکانونه دي، پورته منزل د ډاکترانو لوحو نیولی دی، د ژۍ واورې د موټرو په لوګیو تورې دي، خو له سړکه دوړې پورته کیږي.
مریم سوړ اسویلی ویست:
ـاه، تر هماغه دوړو ځار شم.
یوه شېبه غلې وه، وروسته یې په غریو کې و ویل:
ـیوه هیله ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـوایه
ـیوه ژوره ساه واخله.
خندا راغله
ـولې؟
ـزما په خاطر
پزه مې کش کړه، د لبنتي بوی له دوړو سره ګډ و ، ټوخی راغی، ټلیفون مې لیرې ونیو. خو ومې نه ټوخل.
لاس مې بېرته غوږ ته ورنږدې کړ.
مریم وویل:
ـبختور یې.
ومې خندل.
مریم سوړ اسویلی ویست:
ـ د وطن دوړې مې یادیږي.
غلی شوه.
د ملګرې غږ مې واورېد ، ویل یې چې د دفتر کارونه راته پاتې دي، باید لاړ شو.
مریم یو دم وخندل:
ـاه، اصلي خبره مې هېره شوه، سبا د روغتون دهلېز رنګوي، کمپیوټرونه باید لیرې کړي، له سهاره راهیسې د کیسې په ثبتولو اخته یم، غواړم چې ډېرې خبرې درولیږم، رخصتي مو په څو بجو ده؟
ومې ویل:
ـڅلورنیمې.
ـښه، که مې ایمېل ناوخته در ورسېد ، چې هیر یې نه کړې.
ـسمه ده.
ـوښه، اخیرې خبره، که زما منې، تر سړک واوړی، هغه بلې غاړې ته ښه ماهیان پخوي.
هېڅ مې هم ونه ویل، موږ ماهیان خوړلي وو.
دفتر ته لاړو.
په رخصتۍ کې مې د مریم خبرې راواخیستې. ماخستن کمپیوټر ته کېناستم، نه چالانېده، برق کمزوری و.
د خنګ ګاونډی راپه زړه شو ، برق یې نه درلود ، زموږ له کوره یې لاین کش کړی و. ورغلم، سیم مې له ساکټه وایست.
راغلم، کمپیوټر چالان شو. ټلیفون وشرنګېد ، همسایه و ، ویل یې چې ستاسو د حویلۍ د دروازې د سر ګروپ بل دی.
ولاړ شوم، برق مې بېرته ور خوشې کړ.
راډیو مې راواخیسته، یواځې د جنګ خبرونه ول، مړه مې کړه. اوږد وغځېدم، د مریم خبرو ته مې سودا وه. اته بجې وې، د کوټې د خلکو تر وېده کېدو مې د برق د قوي کېدو تمه نه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پياله مې له چايو ډکه کړه، الماری ته ودرېدم، د خرما قوطۍ رانه ورکه وه. برق لاړ، بېرته په خپل ځای کېناستم، د لندو وړيو بوی راغی. ګوتې مې وتپولې، تودې شوې، پياله چپه وه.

کوټه سپينې رڼا ونيوله، تېزه وه، کمپيوټر ته ورغلم، چالان شو، خو چونګا يې ختم. همسايه ته مې زنګ وواهه، ورياده مې کړه چې ضروري کار لرم، که مو ابګرمي بنده کړې وي، ليرې يې کړئ.

فکر مې سم وخوت، د کمپيوټر چونګا غلې شوه.

مريم ويلي ول:

ـيوې زېرزمينۍ ته ورکښته شوو، ساه پکې بنديده، د روغنی رنګ بوی يې درلود. دوه ژېړ ګروپونه راځړېدل. کړنګ شو، ټيمي قوطۍ ورغړېده، له دېوال سره ولګېده، پر لانده سيمينټ د نخودي رنګ څاڅکي توی شول. ورور ته مې وکتل، خپلو پښو ته يې وچې سترګې نيولې وې، د پطلانه شنه پايڅه يې په نخودي رنګ ککړه وه. مور مې د هغه سر په خپل ټټر پورې ولګاوه، مخکې لاړل.

زيرزميني اوږده وه، د ناستې له پاره هيڅ هم نه ښکارېدل، پلار مې له سيمينټو څو ډکې بوجۍ د ېوال ته پرېيستې. پر بوجيو کېناستو، شاوخوا مې وکتل، د رنګ ډک او خالي ډبې پراته ول، ځای ځای د پخو خښتو لندې ټوټې ښکارېدلې.

موټروان دروغ ويلي و، ساعت لاره نه وه، پوره دوه نيم ساعته مو پر پخو او خامو لارو مزل کړی و، سر مې ګرځېده، ملا مې د موټر د اوسپنې له لاسه ټوک ټوک وه.

پر مخامخ د ېوال يو سيوری راغی، په عمر پوخ سړی پر زينو راکښته شو، ملا يې ختلې وه، له خولې يې د سګريټو تېز بوی ته.

سړي يوه نکلي کاسه پر غولي کېښوده، بېرته چوپه خوله پورته وخوت.

پلار مې پر کاسه هواره وچه ډوډۍ ورپورته کړه، لاندې سپېرې سپينې وريجې وې.

د ډوډۍ وړه ټوټه مې خولې ته واچوله، د ربړ غونډې وه، نه ژدويل کېده، د خاورو خوند پکې ګډ و.

مور ته مې وکتل، په رنګ ککړ برس ته يې وچې سترګې نيولې وې.

پوه شوم، له موټره لوېدلې ځوان يې له زړه نه ووت.

ورور مې ګروپ ته کتل....

پلار مې يو دم مخ واړاوه، ويې ټوخل، وريجې دانه دانه پر رنګ شوي د ېوال ولګېدې.

ښښنه يې وغوښته، بيا يې کاسې ته لاس ور ونه غځاوه. ملا يې د ېوال ته ولګوله، پورته يې وکتل، له سترګو يې پوه شوم چې په راتګ پښيمانه دی.

ټول غلي وو، ورور مې د مور پر اوږه سر ايښی و، سترګې يې پټې وې. له وريجو يوا ځې يوه ګوله پورته شوې وه. ښه شېبه ووته، سترګې مې درنې شوې.

سمندر و، پراخ سمندر، ډوبه شوم، لاندې توري اوبه ښکارېدلې. لاسونو او پښو ته مې ټکان ورکړ، اوبه مې ستونې ته راغلې، ترخې وې، ساه مې نه شوای ابستلی، د لاسونو او پښو حرکات مې ډېر شول، سر ته راوختم، مور، پلار او ورور مې هم ځګنو څپو اخيستي ول.

ورور مې چيغې وهلې، مرسته يې غوښته...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نهنګ لکۍ مې ولېده، له اوبو لويه خوله راووته، سپين تېره غاښونه يې زما د ورور سر ته سيخ شول، سپين ځګونه سرو وينو ونيول.
چيغه مې کړه، پر خولې مې ترخې اوبه راواوښتې.
مور ته مې وکتل، نه وه، لاندې لاړم، لاس او پښې مې له حرکته لوېدلې ول. پورته مې وکتل، په سپينو اوبو کې د لمر رڼا ګډه وه.
مور ته مې مخ ور واړاوه، خلاص غونچه وينښتان يې يوې بلې خواته کېدل، لاندې روانه وه، له خولې يې حبابونه ( پوکنۍ ) راوتل.
له سمندري شنو اوږدو پاڼو يو غټ نهنګ راووت، په غاښ کې يې زما د ورور په وينو لړلی خيرې کميس بند و، د مور خواته مې ور وګرځېد، چيغه مې کړه، غږ مې نه راووت، واړه حبابونه مې تر سترګو تېر شول، حبابونه مخ پورته روان ول.
نهنګ ورغی، غټه خوله يې خلاصه کړه. سترګې مې پټې کړې، بېرته مې ورته وکتل، مور مې نه وه، د نهنګ له خولې راوتلې سرې وينې له اوبو سره ګډې وې، له تېرو غاښونو يې زما د مور اوږده وينښته راوتلي وو، اوبو يوې بلې خواته وړل.
نهنګ زما خواته راغی، خوله يې خلاصه وه، چيغې مې وهلې، پلار مې را روان و، نه شوای راتلی، اوبو بېرته شاته ووړ.
غږ مې واورېد، اوږې مې وښورېدې، سترګې مې رڼې کړې. پلار مې په غېږ کې ټينګه نيولې وم، مور مې په حيرانۍ راته کتل، ورور مې لا ويده و.
ومې ويل:
ـ ښه يم. خوب مې ليد.
پلار مې بېرته پر سيميټي کڅوړې کېناست. کيڼ لاس مې را پورته کړ، دوه نيمې بجې وې.
سر مې درد کاوه، ټوک ټوک وم، د نهنګ خلاصه خوله مې له ذهنه نه وته.
غږ مې واورېد، يو چا زما د پلار نوم اخيست. پلار مې په بيړه پر زينو وخوت، لنډه شېبه وروسته بېرته راغی، ويې ويل چې بايد لاړ شو.
مور مې د ورور اوږې وښورولې، هغه خوبولې سترګې خلاصې کړې، له څه ويلو پرته ولاړ شو.
د باندې راووتو، تياره وه، سپوږمۍ نه ښکارېده.
کوڅې ته راغلو، يو کوچينۍ موټر ولاړ و، پر سر يې د ټکسي لوحه ټومبلې وه.
پلار مې له موټروان سره مخکې کېناست، مورډ شا سيټ ته ورپورته شوو.
شاوخوا مې وکتل، هسکه وه، لاندې په زرګونو سپين او ژېړ څراغونه بل ول، فکر راولوېد، مورډ زاهدان د ښار په څنډه کې وو.
موټر حرکت وکړ، په يوه کوڅه کې راتاو شو، عمومي سړک ته وخوت، مخکې لاړ، سړک ته نږدې په پياده رو کې ودرېد.
موټروان په بيړه دروازه خلاصه کړه، له موږ څخه يې وغوښتل چې له موټره کښته شو، همداسې مو وکړل، سړک ته نږدې په ګڼو ونو کې کېناستو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سړک دواړو غاړو ته تېز ژېړ ګروپان بل ول، رڼا يې تر هغو ځانګو رارسېده چې موږ يې تر لاندې ناست وو.
موټروان ته مې وکتل، د موټر له مخکېنې ټاېره يې هوا ايسته، شېبه وروسته د موټر پر بانټ کېناست.
چوپه چوپتيا وه، کله کله به يو ـ يو موټر په تېزۍ سره تېر شو.
موټروان شېبه په شېبه خپل ساعت ته کتل.
يو موټر راغی، ټيوټا وه، پر سر يې سور څراغ تاوېده، پر دروازه يې سپاه پاسداران جمهوري اسلامي ايران ليکلي و.
موټر بربک ونيو، يو عسکر له ښېښې سر راويست، موټروان د ټکسي خالي ټاېر ته ګوته نيولې وه.
وروسته يې ټلېفون ته اشاره وکړه، نه پوهېږم، خو دا مانا مې ترې واخيسته چې د بل ټاېر راوړلو ته انتظار باسم.
د پوليسو موټر حرکت وکړ، موټروان سګرېټ ولګاوه، هماغسې پر بانټ ناست و.
وروسته يې ټلېفون غوږ ته ونيو، د لاس له خوځولو يې پوه شوم چې په غوسه دی.
پاو ووت، يو درې سوه درې بس ودرېد، موټروان راغږ کړل، ورغلو، بس ته ور وختو. شاتنۍ اوږده څوکۍ تشه وه.
لاړو او همالته کېناستو.
بس حرکت وکړ، دواړو غاړو ته واړه زاړه ناست ول، په تورو ويښتو کې د بس د چت د څراغونو کمزورې رڼا ښکارېده، سپين سرونه هم پاک ول، ځای ځای په تورو حجابونو پوښلې ککرۍ هم زنګېدلې. ټول غلي ول.
مخکې مې وکتل، د بس پر ماشين يو تنکی ځوان ناست و.
نيم ساعت ووت، ځوان ولاړ شو، يو پلاستيکي سطل يې ورواخيست. مخکې راغی، يو ماشوم يې له بغوره کش کړ، ويې خندل، له سطله يې يو جوس ورکړ.
ځوان دوو دريو نورو کسانو ته د اوبو بوتلونه ونيول. وروستۍ څوکۍ ته راغی، سطل يې کېښود ،يوې بلې خوا ته يې وکتل، له جېبه يې درې کارتونه راوايستل، ورو يې وويل:
ـمخکې پوسته ده، پوليس راخيژي. د شا سيټ ته نه راځي، له ليرې همدا کارتونه ورته پورته کړئ.
پلار مې يو کارت ورواخيست، سر يې وخوځېد ، بېرته يې ځوان ته وکتل. هغه پر خپلو شونډو ګوته اېښې وه، په ټيټ غږ يې وويل: وارخطا نه شې، لار ورسره لرو، پيسې مو ورکړې دي.
ځوان يو دم وخندل، په لوړ غږ يې وويل:
ـجوس غواړئ؟
د جوس پاکټ يې زما د ورور پر ځنګنو کېښود ، مخ يې واړاوه، بېرته موټروان ته نږدې کېناست.
پلار مې کارت راکړ، کارت ته مې کتل، پورته يې شناسنامه ليکلي وه، لاندې د يوه برېتور سړي عکس ښکارېده.
پلار ته مې اشاره وکړه، په شونډو کې موسکی شو ، خپل کارت يې راوښود ، عکس يې نه درلود.
مور ته مې وکتل، کارت يې په ګوتو کې سره اړاوه، په عکس کې يوه ږيرور بوډا سپينه لونګۍ تړلې وه.
يو وړوکی بازار راغی، بس ودرېد ، دوکانونه بند ول، خو د هوټل تر لويو ښيښو ور هاخوا ګڼ خلک ښکارېدل، ټولو په قاچوغو او پنجو خوراک کاوه.
بس ته يو وسله وال عسکر راوخوت، په لوړ غږ يې د اسنادو غوښتنه وکړه، لاسونه پورته شول، مور ته مې وکتل، د عکس خوا يې ځانته نيولې وه.
عسکر له لومړۍ څوکۍ راتېر شو ، په دوهمه څوکۍ کې يې د يوه بوډا اوږې وخوځولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بوډا تر څنګ ناستې ښځې څه ورته وويل.
. زړه مې ولړزېد ، عسکر مخکې راغی ، مور ته مې وکتل، کارت يې پر ځنګانه ايښی و ، له غروي يې مازې د کاغذ ځنډه مالومېدله، د پلار سترګې مې رډې راختلې وې، عسکر دوو ـ دريو نورو ناستو کسانو ته هم ملا کړو په کړه.
کارتونو ته يې وکتل، ښښه يې وغوښته، پورته بې پر څو وړو بکسونو ګوتې وتپولې، يو ناست ځوان يې ولاړ کړ، د هغه جېبونه يې وکتل، زموږ مخې ته ودرېد. د کارت غوښتنه يې وکړه، پلار مې بې عکسه کارت ورته ونيو.
عسکر وخندل، پلار ته مې يې اشاره وکړه، دواړه د بس له شاتني دروازې کښته شول.
مور مې ولاړه شوه، مټ ته مې يې لاس ور وغځاوه، بېرته پر خپل ځای کېناسته.
ورور مې په وېره وويل:
ـ ابا يې چېرته بوت؟
ورو ښځينه غږ مې واورېد:
ـ ډېر ښکلی دی.
ورمېږ مې کوږ کړ.
تر مخې مو يوه زړه ښځه ناسته وه، په عينکو کې يې سترګې غټې ښکارېدلې، تر څنګ يې زما ورور ته کتل.
وروسته يې ماته مخ راواړاوه، ورو يې وويل:
ـ افغانان ياست؟
غلې وم.
ښځې وخندل:
ـ د ماشوم له خبرو پوه شوم چې ايرانيان نه ياست، خو پاکستانيان هم نه راته ښکارې، د هغوی رنګ مالوم دی. تک تور دی.
مور مې وويل:
ـ افغانان يو.
ښځې له خپل بکسه د بسکيټ قوطۍ راويسته، ورو ته مې يې ونيوله. ورور مې مور ته وکتل، هغې اوږده بانه سره وروستل، ورور مې بسکيټ ور واخيست، ويې ويل:
ـ ابا ته خو به څه نه وايي؟
زړې ښځې وويل:
ـ څه وايي؟
مور مې سوړ اسويلی وايست:
ـ هيڅ ! پلار ته يې اند ېښنه ده.
زړې ښځې وخندل، مخکيني غاښونه يې د زرو ول، ورو يې وويل:
ـ مه ويرېږئ، د لارو پوليس د څو تومنو سپي دي.
خبره يې سمه وه، پلار مې راغی، په خپل ځای کېناست، خو د تندي ګونځې يې ژورې وې. مور مې د غوسې علت وپوښت، پلار ور ياده کړه چې سل ډالره يې ورنه يووړل.
موټر حرکت وکړ، ښه شېبه ووته، زړې ښځې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـپه تومنو يې بدل کړئ !

ښځه د ( ډالرو ) په تېکي پوهېدلې وه.

پلار مې د ورور په لاس کې د بيسکيټو نيولې قوطۍ ته وکتل.

مور مې وويل:

ـښځې ورکړ.

د باندې تياره وه، ځای ځای به د بس د څراغونو تېزه ژېړه رڼا پر را روانو ترافيکي لوحو لګېدله، نور هيڅ هم نه ښکارېدل.

سترګې مې درنې وې، د بس د چت سپين څراغونه ورو ورو کمرنګي کېدل، وروسته خوب وړې وم.

مريم وټوخل، ټوخی يې اوږد شو، بيا يې په کمزوري غږ وويل:

ـشور او زوږ و، سترګې مې رڼې کړې، دواړو غاړو ته کتار بسونه ولاړ ول، خلک يوې بلې خوا ته ګرځېدل. مور ته مې وکتل، له زړې ښځې سره يې خبرې کولې.

بس تش و، دوې څوکۍ ور هاخوا يوه بوډا کتاب وايه.

پلار ته مې پام شو، د مجلو او اخبارونو غرفې ته نږدې له موټروان سره ولاړ و

ورور مې راغی، له سرو شونډو يې د ګشنيزو نرۍ ډکۍ راوتلې و، برګر يې خوړ.

ولاړه شوم، مور مې راوکتل، خو څه يې ونه ويل.

د بس له شاتنۍ زينې کښته شوم، مخکې لاړم، يوه دوکان ته ودرېدم، ژاولو ته مې زړه وشو، خو ايرانۍ پيسې نه وې.

د پلار غږ مې واورېد:

ـڅه غواړې؟

ور و مې کتل، په لاس کې يې پلاستيکي نازکه خلطه نيولې وه. د پيپسې بوتلې او برګر پکې پراته ول.

و مې پوښتل:

ـتومن دې له کومه کړل؟

کيڼ لور ته يې اشاره وکړه، صرافي وه، د غرفې پر لوېه ښېښه رنګارنګ لوټونه سرېښ ول.

له دوکانه مې دوه درجنه ژاولې راواخيستې، ورغلم، پلار ته نږدې د لرګي پر اوږده څوکۍ لمر ته کېناستم. مخې ته مې وکتل، تر چمن ور هاخوا سيمټي نری سړک و، ډله خلک ګرځېدل، خو پر سړک يو کاغذ هم نه ښکارېده.

پلار مې په ډکه خوله وويل:

ـتهران ته يو زرو دېرش کيلو متره لار پاتې ده، تر ماښامه به په بس کې يو.

د مخامخ دوه منزله تامير پر سر لوی ساعت ته مې وکتل، د سهار اووه نيمې وې.

و مې پوښتل:

ـدا کوم ځای دی؟

ـد کرمان دبسونو اډه.

يو وړوکی توپ راوغړېد، د مرسل د ګلانو په بوټو کې ننوت. کوچيني ماشوم منډه پسې راواخيسته، بوټي ته نږدې ودرېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغلم، توپ د مرسل د بوټي په ژېړو لوېدلو پاڼو کې پروت و. لاس مې ور وغځاوه، توپ مې له اغزنو بوټو راویست.
ماشوم غبرګ، ټنډ لاسونه راته ونیول، توپ یې ور واخیست ، د بس خوا ته یې منډه کړه.
ګلانو ته مې وکتل، اخره یې وه، مړاوي ښکارېدل.
بېرته پر اوږده څوکۍ کېناستم.
پلار مې وویل:
ـمننه درنه کوي.
مخامخ مې وکتل، له ماشوم سره نږدې ولاړې ښځې لاس راته خوځاوه.
پر سړک یوه نجلۍ روانه وه، نری اندام یې درلود ، له ټکري یې د ویښتانو څوکې راوتلې وې.
ومې ویل:
ـملایان څه نه ورته وايي؟
ځواب مې وانه ورېد.
پلار ته مې وکتل، رنګ یې ژېړ و ، دوو راروانو عسکرو ته یې وچې سترګې نیولې وې.
په بېړه مې وویل:
ـمه ورته ګوره !
سر یې وځړېد.
عسکر راغلل، د یوه په لاس کې مخابره وه، د دوهم په کمربند پورې توپانچه ځړېدله.
یوه یې وویل:
ـښاغلیه، شاته دې کثافت دانۍ ده.
پلار مې موسک شو ، پښو ته نږدې د پپسي خالي قوطۍ یې ور واخیسته او په سره ټوکرۍ کې یې واچاوله.
مخابره وچونګېده: وارخطا غږ تري راووت:
ـدوه افغانان رانه ورک شول، یو یې اوږده ږیره لري، له رنګه سپین دی، د برش کلن ښکاري، د بل پر مخ د زخم چاپ مالومیږي، دواړه د ترمینال شمالي دروازې ته لاړل.
عسکرو منډه کړه.
پلار مې وویل:
ـپه موټر کې ناسته مو په خیر ده.
روان شوو ، ورور مې له مور سره ناست و. زړې ښځې کتاب وایه.
پلار ته مې مخ ور واړاوه، د پولیسو ولاړ موټر ته یې کتل:
ومې ویل:
ـویې نه پېژندلو.
پلار مې یوا ځې موسک شو.
پاو ووت، د سهار چایو ته تللي خلک بېرته موټر ته راوختل، د زړې ښځې لاس ته مې وکتل، ټیټه شوم، پاو کمې اته بجې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر حرکت وکړ، له دښتو او ورو ښارونو تېر شوو، یوه بجه مو په اصفهان کې ډوډۍ وخوړه، ماښام تیاره یې د عمومي سړک پر غاړه له بسه کښته کړو.

د تېلو ټانک و، لیرې رنګارنګ رڼاوې ښکارېدلې.

یو خیرن ډنګر بوډا راغی، موسک و، له څه ویلو پرته یې بکس اوږې ته واچاوه.

په هغه پسې لاړو، د تېلو د ټانک شاته وړه حویلۍ وه، پر چمن کېناستو. شاوخوا مې وکتل، د یوائینۍ کوټې سپین دېوالونه د ونو له ژېړو پاڼو ښکارېدل.

بوډا هماغه کوټې ته ننوت.

ورور مې منډه واخیسته، د هغه له تورو وېښتو ور هاخوا، له وچو بوټو د بتو (قو) سپینې غاړې راوتلې وې.

ورغلم، درې بتې د کوچیني حوض په رڼو اوبو کې ګرځېدې.

پلار مې راغږ کړ، ورو مې کتل، پیاله یې پورته نیولې وه.

ورور ته مې وویل:

ــچای تیار دی.

راوبې نه کتل، بتو ته یې د بسکېټ وړې ټوټې وراچولې.

سر مې پسې ونه ګرځاوه، د پلار تر څنګ کېناستم. مور ته مې مخ وراړاوه، د چایو له سورولو یې خوند اخیست.

بوډا یو غاب پر چمن کېښود، څو قند خیشتي پکې پرتې وې.

پیاله مې راډکه کړه.

بوډا په خواره خوله وویل:

ــبل څه خو به مو نه وي په کار؟

پلار مې مننه ترې وکړه، خو بوډا لا په خپل ځای ولاړ و، د خولې د دواړو غاړو ګونځې یې ژورې وې، خندل یې.

پلار مې جېب ته لاس کړ، بوډا ته یې یو لوټ ونیو، خو بوډا لاس ور ونه غځاوه.

پلار مې بل نوټ ورسره یو ځای کړ، بوډا هماغسې خندل.

خوښ مې شو، وږی نه و. خو یو دم یې وویل:

ــډالر غواړم.

پلار ته مې غوسه ورغله، لاس یې ور ټول کړ.

بوډا کېناست، په خواره خوله یې وویل:

ــښاغلیه مه خفه کېږه، دلته یوائې هغه افغانان راوړي چې اروپا ته ځي، ډېر یې ډالر راکوي.

پلار مې وخندل، له پیسو سره یې یو بل لوټ هم یو ځای کړ، بوډا ته یې ونیو، هغه لاس ور وغځاوه، خو هماغه پخوانۍ خندا یې نه وه.

چمن خوند کاوه، سړه هوا لګېده، د لندو خاورو بوی ته، په ذهن کې مې د وحید خبره راګرځېدله.

بوډا د کوټې تر مخ ولاړ و، پر پایپ یې ځمکه آبپاشي کوله.

نیم سات ووت، بوډا راغی، په لاس کې یې مبایل و، په غوسه یې وویل چې په ماپسې راځئ.

پلار مې بکس ورواخیست، د تېلو د ټانک تر مخ ولاړ ټکسي ته ور وختو.

موټر حرکت وکړ، مخکې لوحه راغله، لیکلي یې و، تهران، لس کیلومتره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو موټر لنډ راتاو شو، خامه وه، کله کله به د موټر ژېړه رڼا د ونو په سپېرو څانګو ولګېده.
پاو ووت، د بوې ټيټې غونډۍ سر ته وختو، لاندې زرګونه رنګارنګ ګروپونه بل وو.
پلار مې موټروان ته تر څنګ وکتل، ورو يې وويل:
_تهران دی؟
ځواب مو وانه ورېد.
ياخه ته ور وختو، موټر په نورو سلګونو موټرو کې ګډ شو. وروسته ودرېد، مخې ته مې وکتل، ترافيکي اشاره شنه وه.
شاوخوا مې سترګې واړولې، د مغازو له لويو ښيښو سپينې رڼاوې راوتلې وې. په پياده رو کې واړه زاړه روان ول، ټول پاک او پربوللې ښکارېدل، د نجونو له نريو ټکريو او تنګو پطلونونو پوه شوم چې اخوندانو ازادي ورکړې ده.
آينې ته مې پام شو، د موټروان پرسېدلې سترګې ښکارېدلې، زما مور ته يې کتل.
موټر حرکت وکړ، زړه مې ډاډه شو، آينه د موټروان د ککرې سپينو ويښتو نيولې وه.
غټې ښارو، سړکونه پاک ښکارېدل، د سړک دواړو غاړو ته غځېدلي ګلدانونه لا شنه وو. ځای ځای به هسک تاميرونه په مخه راغلل، عمومي سړکونو ته پخې کوڅې راپرې وې، په هر څه کې نظم ليدل کېده.
هماغسې مخکې تلو، هسک تاميرونه کم شول، زراعتي ځمکې راغلې، خو لا هم ځای ځای ښکلي کورونه ولاړ ول.
موټر له عمومي سړکه ووت، تر ټيټ د بوال تېر شوو، مخکې لاړو، يوې لويې دروازې ته ودرېدو، پر غټه لوحه د برګو غواوو عکسونه ښکارېدل.
دروازه خلاصه شوه، موټر حرکت وکړ، د خوشايو بوی ورو ورو ډېرېده.
موټر ودرېد، کښته شوو، د ونو په مينځ کې نرۍ لار پورته ختلې وه.
مخکې لاړو، موټروان په يوه وړه دروازه ننوت، دوه منزله تامير و، له يوې کوټې د خندا غږ راته.
دوهم منزل ته وختو.
د مريم خبرې مې ودرولې، د خرما قوطۍ مې راواخيسته او له ډکې پيالې چای سره بېرته کمپيوټر ته کېناستم.
مريم ويلي وو:
_ورور مې وار له واره کټ ته ور ټوپ کړل، ما په کوټه کې دوهمه دروازه خلاصه کړه، نل ته مې لاس ور وغځاوه، لاندې په سره سطل کې د اوبو د تويېدو غږ غلی شو.
آينې ته ودرېدم، مخ مې پاک و.
له تشنابه ووتم. مور مې سرتور سر ناسته وه، پلار مې د تلوېزيون د ريموټ بيطرۍ را ايستلې وې.
ورغلم، د مور پر ځنګانه مې سر کېښود.
شاوخوا مې سترګې ورغړولې، کوټه لويه وه، شيرچايي رنګ يې درلود، پر زړه غالۍ د لرګي درې او سپنيز کټونه ولاړ ول.
د مور غږ مې واورېد:
_مه يې څښه!
ورور ته مې وکتل، د کوچيني مېز له سره يې جګ ورپورته کړی و.
پلار مې د اوبو جګ ور واخيست، پزې ته يې ور نږدې کړ، ودرېد، ګروپ ته يې ونيو او له کوټې ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلويزيون ته ورغلم، سويچ مې کړ، په ګوته مې څو چاينلونه واړول، ملايان غږېدل.
کړکۍ ته ورنږدې شوم، پله مې خلاصه کړه، د چرسو بوی راغی، لاندې مې وکتل، دوه تنه پر پلاستيکي څوکيو ناست ول، د مېز پر سر په سګرېټ دانۍ کې سور سوکی ښکارېده.
پله مې وتړله، بلې کړکۍ ته ورغلم، پرده مې چوله کړه، ليرې زرګونه ګروپونه بل ول.
د دروازې کړپ شو، پلار مې تشناب ته ننوت.
مور ته مې وکتل، پر کټ اوږده پرته وه.
ورغلم، د هغې پر ورانه مې سر ولګاوه، ګوتې يې زما پر ويښتو کې تېرې کړې.
چوپه چوپتيا وه، کله کله به د څنګ له کوټې د خندا دپ اواز راغی.
دروازه وټکېده، ورور مې ورغی، د لسو، يوولسو کالو په عمر وچه کلکه نجلۍ کوټې ته راننوته، لوی پتنوس ورسره و، د پيالو د ربړدېدو غږ راته.
ور ولاړه شوم، پتنوس مې يې له لاسونو ونيو.
نجلۍ غلې له کوټې ووته.
مېز ته ور نږدې شوم، دواړه د ېګ برغولی مې ليرې کړ، مستې وې.
د پلار غږ مې واورېد:
ــ اوبه يې رانه وړې؟
مستو ته يې وکتل، په خوند يې وويل:
ــ هلې نو، لاسونه پرېمنځئ.
مور مې تشناب ته ننوته، خو ورور مې لا په خپل ځای ناست و. ويل يې چې زړه ته يې نه کيږي.
د ډوډۍ له خوړلو وروسته مې د چايو پياله راډکه کړه، ريموټ مې تلويزيون ته ونيو، خو کار يې نه کاوه.
مور مې په قبله پسې ګرځېده، يوه ته هم نه وه مالومه.
ټول ستړي وو، ورور مې له مور سره پرېووت، پلار او ما ته بېل بېل کټ راورسېد.
چوپه چوپتياوه، په سطل کې د څاڅکو د تويېدو غږ راته، وروسته مې سترګې درنې شوې.
يو وخت مې اوږو ټکان وخوړ، ورو مې کتل، مور مې وه، ويل يې چې په لمانځه کې لټه شوې يې.
سترګې مې وموښلې، د پردې پورتنۍ برخه د لمر رڼا ژېړه کړې وه. کړکۍ ته ور نږدې شوم. پرده مې چوله کړه، لېرې، تر هسکو تاميرونو تېر اسمان ژېړ ښکارېده.
د تشناب وره ته مې لاس ور وغځاوه، اودس مې وکړ، په لمانځه کې مې د پلار خرهاری اورېده.
ختلی لمر، دروازه وټکېده، بېګانۍ نجلۍ وه، د اوبو وړې جګ يې راپه زړه کړ. غوسه راغله، پتناسه ته ور ولاړه نه شوم.
مور مې پتنوس ور نه واخيست، نجلۍ په وېره وويل:
ــ اوبه مې هېرې شوې.
پلار مې وخندل:
ــ پروا نه کوي.
نجلۍ هماغسې په وېره وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـخير دى، على رضا ته مه وايا ست.
د پلار خندا مې زور ونيو:
ـعلى رضا څوک دى؟
غلې شوه.
لهجه يې ايرانۍ فارسي ته نه وه ورته.
ومې ويل:
ـد کوم ځاى يې؟
غتې مړې سترګې يې راواړولې، چو په خوله د باندې ووته.
د چايو د سورولو په وخت يودم زوږ شو. ټول کړکۍ ته ودرېدو، لاندې ډله کسان ګرځېدل، ډېر يې په کميس او پرتوګ کې ول.
پلار مې وويل:
ـيوا ځې نه يو.
پلار، مور او ورور مې بېرته خپلو ډکو پيالو ته ور وګرځېدل، خو زه له کړکۍ سره ودرېدم. د حويلۍ د دروازې تر ځنګ مې يوه پطلون کړي ځوان ته پام شو، پاک او سوتره و، په لاس کې يې کېبل ښکارېده.
نورو کسانو ته مې وکتل، ځينې ګرځېدل، نور د ېوال ته ناست وو، سترې ښکارېدل، زياتره يې خيرن او په دوړو سپېره ول.
د پلار غږ مې واورېد:
ـچاى سړېږي.
ورغلم.
مور مې وويل:
ـتر کومه به دلته يو؟
پلار مې ور وکتل:
ـنه پوهېږم.
مور مې سوړ اسويلى ويست، پياله يې ور واخيسته او پر کټ کېناسته.
ريموټ مې راواخيست، بيطرۍ مې ترې ويستې، لاړم او د کړکۍ تر لاندې مې لمر ته کېښودې.
حويلۍ ته مې وکتل، هيڅوک هم نه ول.
بلې کړکۍ ته ور وګرځېدم، لاندې پټي ول، د مخملو (لمرمخو) وچ بوټې پکې ولاړ وو، ور هاخوا دوه اوږده سالونونه ښکارېدل، مخې ته يې لويې تکې سپينې ډبرې پرتې وې، د کاشيو د جوړولو کارخانه راته واېسېده.
ليرې مې وکتل، تر هسکو تاميرونو کمرنګه لوګى را تاو وو.
د پلار خوشاله غږ مې واورېد:
ـپه تشناب کې تودې اوبه راځي.
ورومې کتل، مخ يې لوند و.
ټول خوشاله شوو، ځانونه مو په کابل کې وللي ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لس بجې ماته وار راورسېد ، اوبه تومړي وي، خو بدې نه لګېدې. کله چې له تشنابه راووتم، پلار مې زېرې ته چاړه نيولې وه.

مور مې تر ټوله ورځ په کوټه کې وو ، له ورې نجلۍ پرته مو بل هيڅوک هم ونه ليدل. نجلۍ هم د ډوډۍ د راوړلو له پاره راغله او چو په خوله بېرته له کوټې ووته.

بل سهار مې د ورور خلق تنګ و ، ويل يې چې په کوټه کې خپه شوی يم، پوره يو سات خبرې مې ورسره وکړې، راتلونکی ژوند او د لندن کيسې د زحمت په تېرولو ارزېدې، خو په دريېم سهار د ټولو زړونه تنګ ول. پلار مې حويلۍ ته کښته شو ، کله چې بېرته راغی، ډونګېده، ويل يې چې يوائې د غواوو په فارم کې د ګرځېدو اجازه لرو. يو ولس بجې ټول له کوټې ووتو ، په حويلۍ کې مې شاته وکتل. لاندې منزل د زندان غوندې جوړ و ، کړکيو پنجرې درلودې. ورهاخوا ډله ولاړو کسانو وچې سترګې راته نيولې وې.

د باندې لاړو ، د ونو په مينځ کې نرۍ لار کښته شوې وه. ځومره چې مخکې تلو ، د خوشايو بوی ډېرېده.

پراخه ميداني راغله. په عمومي دروازه کې دوه تنه ولاړ ول. کيڼ لور ته اوږد سالون ښکارېده ، د بام اهن چادر يې سترګې برېښولې.

د غوا رمباړه راغله. ورور مې هماغه لور ته منډه ورواخيسته، ورغلو ، په سالون کې دواړو غاړو ته په پنجرو کې نيول شوې لسګونه برګې غواوې ولاړې وې.

مخکې لاړو ، ورور ته مې وکتل. د يوه تور کوچيني سخوندر تر غاړې يې لاسونه تاو کړي وو.

غولي ته مې پام شو ، سپيني پرېوللې کاشۍ وې. خو لا هم د خوشايو بوی خوت.

د مور غږ مې واورېد:

ـغواوې يې په اسرات کې دي.

ورومې کتل. په پلاستيکي اخورونو کې د جوارو ميده شوې ژېړې پاڼې پرتې وې.

په سپينه چپنه کې يو دنګ سړی راغی. د څو غواوو غولانځو ته يې پايپونه ورواغوستل. د بوال ته يې لاس ور وغځاوه، سويچ يې وواهه. په رڼو پايپونو کې سپيني شېدې رواني شوې.

څو نور کسان راغلل. د غواوو ورنونو ته يې برسونه ونيول.

پلار مې د تلو راته وويل، خو د ورور مې پام غلط و ، له سخوندره نه ليرې کېده.

پلار مې زه او مور د کوټې تر وره راورسولو ، دی بېرته فارم ته لاړ.

دروازه مې خلاصه کړه، ورې نجلۍ زړې غالۍ ته جارو نيولې وه.

مور مې پر کټ کېناسته، بکس ته يې کتل. وروسته تشناب ته ننوته.

په کړکۍ کې ابښو بيطريو ته مې وکتل، سيوری پرې راغلی و. راوامې خيستې، شېبه وروسته مې تلويزون ته ريموټ ونيو ، کار يې نه کاوه.

نجلۍ ته مې مخ ورواړاوه:

ـنوم دې څه ده؟

را وېې کتل، په خواره خوله يې وويل:

ـزېبا.

ومې ويل:



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـنوې بيطرۍ نشته؟
ـعلي رضا ته به ووايم.
غلى شوه.
ومې ويل:
ـد کوم ځای يې؟
يوه شيبه غلې وه، بيا يې نرۍ شونډې وخوځېدې:
ـد بدخشان.
حيرانه شوم.
ـنو دلته څه کوې؟
د نجلۍ په سترګو کې اوښکې راټولې شوې.
هغې ته مې ژاوله ونيوله. راويې کتل، غومبرې يې سره ول.
ورو مې وويل:
ـدلته څه کوې؟
ځواب يې رانه کړ.
تر لاس مې ونيوله، پر کټ کېناسته، سر يې وځړېد ، جارو ته يې وکتل، ورور يې وويل:
ـکوټه پاتې ده.
ومې ويل:
ـپروا نه کوي.
ـعلي رضا ته غوسه ورځي، وايي چې ډالري کوټه سمه پاکوه !
خندا راغله:
ـډالري کوټه؟
نيغ يې راته وکتل، په سترګو کې يې وېره ښکارېدله.
ومې ويل:
ـمه ډارېږه.
سر يې وځړېد:
ـدې کوټې ته ډالري کوټه وايي، ډېر پام ورباندې کوي، دلته يوازې هغه کسان اوسي چې اروپا ته ځي.
د مور غږ مې واورېد ، ناولې جامې يې غوښتې.
ولاړه شوم، د تشناب ور مې خلاص کړ، د ستشويي له ځګه ډکه وه.
بېرته کټ ته ور وګرځېدم.
ومې ويل:
ـښه، زېبا ! دلته دې څوک شته؟
سوړ اسويلی يې وايست.
ـنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلۍ جارو ور واخیسته، تر مټ مې ونیوله، بېرته مې په خپل ځای کېښوله.
تندی یې تریو شو:
ـعلي رضا مې وهي.
ومې ویل:
ـهیڅ هم نه درته وایي.
غریو واخیسته:
ـنه، پرون یې هم موټ موټ وېښته رانه وشکول.
زېبا خپل سر ته لاس وروور، ټکری یې وښویاوه، غوږ یې وینې و.
په ژړغوني غږ یې وویل:
ـسهار یې خوله پرې ولګوله
زړه مې ولړځېد.
نجلۍ یو دم وژړل:
ـډالرې کوټه مې نه وه پاکه کړې.
د نجلۍ مټ مې پرېښود. جارو یې ور واخیسته.
ومې ویل:
ـدا سپی څوک دی؟
ځواب یې رانه کړ.
پر کټ اوږده وغځېدم، چت ته مې وکتل، د جارو له کرښنده غږونو سره ژړا هم ګډه وه.
د مریم یوه برخه خبرې خلاصې شوې، دوهمه برخه پاتې وې، خو ناوخته و، کمپیوټر مې مړ کړ، غبرګې درنې کمپلې مې پر ځان راکش کړې.

* * *

درب شو، سترګې مې رڼې کړې، پردې ته مې لاس ور وغځاوه، شین سهار و، د ځنګ همسایه واوره اچوله.
د بخارۍ له سره مې د اوداسه له پاره ترمې اوبه راواخیستې، لس دقیقې وروسته مې د دهلېز ور خلاص کړ، سور فرش ته سپینې واورې راورغړېدې. ګام مې واخیست، ښۍ پښه مې تر ځنګانه په واوره کې ننوته.
سړې ژمی سوړ و، تر دې مخکې هم واوره شوې وه، خو په یوه ځل دومره ډېره نه وه اورېدلې.
د همسایه غږ مې واورېد:
ـدا ځل مجبوره یې چې بام ته ور وخېژې.
ور غږ مې کړ!
ـد پارو ژۍ د بام ایزوګام ورسره اړوي.
ویې ویل:
ـ مخکینۍ واورې وچې وې، پروایې نه وه، خو دا واوره لنده ده، بامونه درنېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاره مې نه درلوده، د لرګي پر زينه وختم. شاوخوا مې وکتل، پر هر بام يو ــ دوه تنه ولاړ وو.
احتياط مې کاوه، خو بيا هم د پارو ژی، څو ځايه د ايزوګام سپين زرورق او د قير وړې ټوټې توري ورسره واخيستې.
ټليفون راغی، موټروان و، ويل يې چې سړک يوه ډېره ده، موټر چاپن شکولی، د باغ بالا پر غونډۍ نه شي درختلی.
د غيرحاضرۍ دليل پيدا شو. تر غرمې د بام پر سر وم، خو لا هم د دوو کوټو بامونه پاتې ول.
د څنګ ګاونډي راغږ کړل.
ــ درشم؟
ور ومې کتل، خپل بامونه يې تور وو.
ستړی وم، (نه) ته مې خوله نه جوړېده، لنډ يې زموږ بام ته د لرګي زينه ودروله، د ماسپښين له اذان سره سم بامونه خلاص شول.
ټوک ټوک وم، اوږو مې درد کاوه.
ماخوستن وختې پرېوتم سهار دوه- درې ځله موټر وښوېد، خو سرعت يې کم و، له ستونزې پر ته دفتر ته ورسېدو.
پنجشنبه وه، د تېرې ورځې کار هم را ته پاتې و، له کاغذونو مې سر نه شو پورته کولی.
په رخصتۍ کې ايمېلونو ته ورغلم، د لوسي په نوم ايمېل راغلی و، خلاص مې کړ. ليکلي يې وو:
د مريم خبرې مې در ولېږلې.
کور ته لاړم، برق نه و.
سهار مې له بامه په رالوېدلي واوره کې لار وابسته، د حويلۍ تر دروازې پورې ايله لس ګامه فاصله ده، خو دوه ساعته کار يې وغوښت، کله چې بېرته کوټې ته تلم، د لارې دواړو غاړو ته تر نامه واوره ولاړه وه.
لومړۍ مې چای دم کړ، بيا کمپيوټر ته کېناستم، د مريم پاتې دوهمه برخه خبرې مې راواخيستې. ويلي يې ول:
ــ زېبا مې له ذهنه نه وته. دوه ځله يې ډوډۍ راوړه، خو څه يې ونه ويل.
بل سهار مې پلاراو ورور د باندې ووتل، مور مې پر کټ پرېوته، را ياده يې کړه چې بېګاه يې د سر د درد له لاسه ټکې خوب هم نه دی کړی.
کړکۍ ته ور نږدې شوم، لاندې مې وکتل، زېبا د يوه سپورتي نوي موټر سايکل ټانکۍ ته سپينه ټوټه نيولې وه.
د مېز له سره مې د اوبو جګ راواخيست، بېرته کړکۍ ته ورنږدې شوم، ښيښه مې وټکوله، نجلۍ راوکتل، جګ مې پورته ونيو، په اشاره يې پوه کړم چې درځم.
بېرته پر کټ کېناستم، مور ته مې وکتل، سترګې يې پټې وې.
زېبا راغله، د مخ سرخي يې ډېره شوې وه، جګ ته ور وګرځېده.
ومې ويل:
ــ غواړم چې خبرې درسره وکړم.
له اوښکو ډکې سترګې يې راواړولې، جګ يې ور واخيست، له کوټې ووته.
وخت ووت، د موټر سايکل د چالانېدو غږ راغی، کړکۍ ته ورغلم. په عمر پوخ، تور سړی و، راوتلی ټټر يې درلود، د موټرسايکل په آينه کې يې د اغوستي تور يخن قاق غاړه سموله.
موټر سايکل حرکت وکړ، تر هغو مې پسې کتل چې د ونو څانګې پرې راغلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته پر کټ پرېوتم. سترګې مې پټې کړې، کړپ شو، ورو مې کتل، پر مېز د اوبو جګ ایښی و.
زېبا مې تر مټ ونیوله، غلې کېناسته.
و مې وویل:
ـعلي رضا و؟
راویې کتل، له ډکو سترګو یې پوه شوم چې ګومان مې سم وخوت.
ومې ویل:
کیسه راته وکه.
سر یې وخوځېد.
ومې ویل:
ـڅومره وخت کیږي چې دلته یې؟
ـدوه کاله.
زړه مې ولړزېد:
ـکورنۍ لري.
غریو واخیسته.
ـنه
ـولې؟
یوه شیبه غلې وه، وروسته یې په ډک ستوني وویل:
ـدوه کاله مخکې مې پلار ته یو لیک راغی، د جومات ملا ورته ولوست، تره مې تهران ته غوښتي وو، پلار ته مې یې لیکلي و چې دلته مې د ښځو په بټۍ کې سرګاریګري درته موندلې ده، د یوه کال د دهقانۍ پیسې، په یوه میاشت کې موندلی شې.
د پروړي له خرڅولو وروسته له کلي راووتو.
تر نیمروزه مو خپلې پیسې بس شوې، یوه هوټلي قاچاقبر راته ومونډ، د سړي پر سر یې یو میلیون تومنه غوښتل.
پلار مې خپل ورور ته ټلیفون وکړ، هغه ورياده کړه چې تاسو تر دې ځایه راشئ، مصارف مو زه په غاړه اخلم.
له زاهدانه ژر راووتو، خو په کرمان کې مو دوې هفتې تیرې کړې، وچه ډوډۍ یې راکوله، د شپې به د موټرو په ګراج کې ویدېدلو. قاچاقبر ویل چې د تهران لارې سختې دي، پولیس په افغانانو پسې ګرځي او د لارې ډېر هغه عسکر یې بدل کړي چې له دوی سره جوړ ول.
وروسته یې یوه بل وړوکي ښار ته یووړو، علي رضا مې هماڵته ولید، په دوهمه ورځ یې یوه بار وړونکي موټر ته ور وخېژولو، تر لسو یوولسو غواوو تېر شوو، څو نور افغانان هم پر شنو وښو ناست ول.
دوه ورځې مو مزل وکړ، دلته یې راوړو.
زېبا غلې شوه، ورو مې کتل، پر سرو غومبرو یې مړې اوښکې روانې وې.
ومې ویل:
ـبیا؟
شونډې یې وخوځېدې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـپلار مې څو ځله خپل ورور ته ټليفون وکړ، خو کار يې نه کاوه. علي رضا پيسې غوښتې، ويل يې چې له دې ځايه نه شئ وتى.
يوه اوونۍ تېره شوه، مورږ په همدې حويلۍ کې وو.
وروسته مې پلار د علي رضا پښو ته ورولوېد ، وريادة يې کړه چې د تهران د خښتو بټيو ته ورسره لاړ شي. خو علي رضا نه منله، دليل يې دا و چې دلته به سلګونو بټۍ دي، کومه يوه به پسې غواړې.
خو په دوهمه ورځ مې د مور ژړا تاثير ورباندې وکړ. پلار مې له علي رضا سره په موټر سايکل کېناست، خو کله چې مازديګر بېرته راغی، شونډې يې چاودلې وې.
ډوډۍ يې ونه خوړه، ټوله شپه له ځان سره ډونګېده، ورور ته يې بد رد ويل.
په بله ورځ يوه ايراني وريادة کړه چې څه موده مخکې د خښتو بټيو ته پوليس ورغلي ول، کوم افغان چې به په مخه ورته، موټر ته به يې خېژاوه، کېدای شي چې ورور دې هم پکې وي.
د پلار تمه مې وخته، داخل مې مور د علي رضا تر ځنګونو لاسونه تاو کړل، خو د هغه وروستۍ خبره دا وه چې دوه کاله به د غواوو په فارم کې له تنخوا پرته کار کوی.
مورږ ته يې د همدې تامير په پای کې ګوښې کوټه راکړه، وړه او چټله کوټه، خو بيا هم ښه و، د نورو مساپرو سترګې نه راباندې لګېدې.
پلار به مې ټوله ورځ په فارم کې خوشايي پاکول، کله چې به بيګا کوټې ته راغی، له جامو به يې سوړ بوی ته مور مې مساپرو ته ديګ پخاوه.
پلار به مې هر ماښام د کوټې پر دېوال ليکې ايستلې، وروسته به يې ټولې ليکې حساب کړې، له ځان سره به يې وويل:
ډېرې ورځې لا پاتې دي، ډېرې.
يوه ورځ علي رضا کوټې ته راغی، د وريجو صفت يې کاوه، مور ته مې يې ويل چې خوندورې يې پخې کړې وې. خو وروسته يې راتګ ډېر شو، دی به هغه وخت راته چې پلار به مې په فارم کې و.
يوه غرمه مې پام شو، مور مې ديګ کاوه، ده ورته کتل.
په بله ورځ يې زما مور ته يو کميس ونيو، هغې نه اخيست، خو علي رضا ټينګار کاوه. ماښام چې مې پلار د کوټې په کونج کې لوېدلی کميس وليد، مور مې يې دومره ووهله چې دوې ورځې له ځايه پورته نه شوه.
پوره څلور وخته مې مساپرو ته وچه ډوډۍ وروړه.
په درېيم سهار مې مور د مجبوريت له مخې ديګ ته ور پورته شوه، ما ويل چې پيازو به يې سترګې ور ترخې کړې وې، خو نه، هغې ژړل.
پلار مې هم خوابدی و، له مور سره به مې نه غږېده، دی به ډېر وخت غلی ناست و، د دېوال ليکې به يې شمېرلې.
يوه ورځ مې وريادة کړه !
ـوبه تښتو.
سوړ اسويلی يې وايست:
ـتاسو تر دېوال اوښتی شئ؟ !
يوه شوم، پلار مې زمورږ له پاره چېرته نه شوای تلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي رضا څو ورځې ورک و، يو ماسپښين راغی، زما د مور پر ورانه يې لاس کېښود، ويې ويل چې په سختو مې نه لورېږی. ته او لور دې له ما سره لاړې شئ.

مور مې همدا يوه خبره کوله:

ـد خدای له پاره، له کوټې ووځه!

علي رضا ماته وکتل، راياده يې کړه چې د پورتنۍ کوټې له يخچاله اوبه راوړه.

کوټې ته وختم، اوبه مې راواخيستې، کله چې مې وره ته لاس وروغځاوه، نه خلاصېده، ور د باندې له خوا تړل شوی و.

نه پوهېدم چې څومره وخت ووت، بيا په وره کې کيلي تاو شوه، دهلېز ته ورغلم.

علي رضا و، په مخ او غاړه يې سرې کرښې تيرې وې. د نوکانو نښې را ته ښکاره شوې، راياده يې کړه چې که دې چاته څه ويلي ول، نو پلار دې وژنم.

چاته به مې څه ويل؟ نه پوهېدم.

دی تر ما مخکې لاندې کښته شو.

مور ته ورغلم، لوڅه لغړه پرته وه.

زېبا يو دم چيغه کړه، پر خوله مې يې لاس ونيو، مور ته مې وکتل، ويده وه.

د زېبا سر مې پر خپل ټټر پورې ونيو، هغې ژړل، ما هم خپلې اوښکې نه شوای کابو کولی.

ښه شېبه ووته، وروسته يې په غريو کې وويل:

ـمور مې کېناسته، شکېدلې جامې يې واغوستې، له کوټې ووته، بېرته راغله، پر ما يې خپېړې کړې، تر ډېرو يې په غېږ کې ټينګه نيولې وم، بيا يې کلکه پر تندي ښکل کړم، يودم يې منډه واخيسته او سرتور سر د باندې ووته. ټکری مې راواخيست، پسې ورغلم، درب شو، له ځمکې دوړه پورته شوه، پښو ته مې وکتل، مور مې په خاورو کې پرته وه، تر خولې يې سرې وينې راووتې. دې د تامير له سره ځان راغورځولی و.

د زېبا پر خوله مې لاس کېښود، چېغه مې خولې ته راغله، په غريو کې مې وويل:

ـبس دی! نور څه مه وايه!

زېبا سرې سترګې راواړولې. لاس مې د هغې له خولې ليرې کړ، نجلۍ وويل:

ـتا کيسه غوښته!

غريو واخيستم:

ـسمه ده. ووايه!

نجلۍ وويل:

ـچيغې شوې، په کوټه کې د ولاړو افغانانو ګوتې د پنجرې تر او سپنيزو سيخانو تاوې وې، زورونه يې وهل، ايرانيانو ته يې کنځلې کولې، خو د او سپنې سيخان ټينګ ول.

د فارم کاريګر راغلل، پلار مې هم پکې و، دی زما مور ته ورنږدې شو، د هغې لاس يې پورته کړ، بېرته يې پرېښود، لاس پر ځمکه ولګېد.

تر ډېره غلی و، د مور شکېدلې ټټر ته يې وچې سترګې نيولې وې، وروسته يې د هغې سر له خاورو پورته کړ، په غېږ کې يې ونيو، يودم يې کوکه کړه، له چيغو سره يې په پنجره کې د ولاړو خلکو ژړاوې ګډې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار مې ښه شېبه وژړل، بيا يې ماته وکتل، سترګې يې له سرو رګونو ډکې وې. په غريو کې يې وويل:
ــعلی رضا و؟
سر مې د (هو) په ښه ورته وخوځاوه.
پلار مې د ېوال ته ولاړ ېبل ور وا خيست، منډه يې کړه، له حويلۍ ووت.
زېبا غلې شوه.
په غريو کې مې وويل:
ــنور؟
د نجلۍ سر وځړېد:
ــمور ته ورنږدې شوم، سترګې يې لوڅې وې، ماته يې کتل. يودم يې پر ټټر ور پرېوتم، پر غاړه مې يې مخ کېښود، خوله مې تروه وه، نه پوهېدم، زما اوښکې وې که د وينو خوند.
بيا چا تر وليو ونيولم، ور ومې کتل، علي رضا و، ټټر ته مې يې سوکان ونيول، علي رضا پورته کړم، پر ځمکه ولګېدم، په سترګو مې تياره راغله، هڅه مې کوله چې بانه سره جلا کړم، نه کېده، په سترګو مې زور راووست، څو پياوړو کسانو له ځمکې توره لويه پلاستکي خلطه پورته کوله، له خلطې زما د مور سپين لاس راوتلی و.
نور مې هيڅ هم ونه ليدل.
زېبا غلی شوه، د پلار غږ مې واورېد:
ــد باندی نه ځې، ښکلې هوا ده.
ور ومې کتل، پلار مې مور ته وچې سترګې نيولې وې.
ويې ويل:
ــڅه پرې شوې.
ځواب مې ورکړ!
ــسر يې خوږېده، ويده ده.
ــته نه ځې.
ــنه، مور مې يوا ځې نه شم پرېښودی.
پلار مې بېرته له کوټې ووت.
زېبا ته مې وکتل، سترګې يې له سرو رګونو ډکې وې. يوه شېبه غلې وه، وروسته يې ترخې موسکا شونډې سره ويږې کړې، په غريو کې يې وويل:
ــتاسو مه ويرېږئ، دوی ډالري مساپرو ته څه نه وايي.
په خبره کې يې ور ولوېدم.
ــدوی؟
ــهو، ماته يې ډېرې کيسې مالومې دي، دلته رقم رقم خلک راځي، علي رضا ډېر کسان پيژني، ځانته کوټه لري، ما څو ځله ډوډۍ ور وړې ده، ټول ترياک څکوي، توپانچې مې يې په خپلو سترګو ليدلې دي.
دوی دوه ډوله مساپر راوړي، ډالري مساپر کم دي، همدا کوټه يې ورته بېله کړې ده، خوراک، څښاک يې هم له نورو جلا دی، پام ورباندې کوي، خو هغه نور بيا دا سې نه دي، علي رضا د تومنې مساپرو نوم پرې ايښی دی، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسان ايران ته د کار له پاره راغلي، تر هغو د پنجرو تر شا ولاړ وي چې کوم خپل يا ملګری يې د قاچاقبر پيسې ورته راورسوي. خو داسې کسان هم پکې شته چې په هفتو هفتو دلته پراته دي. دوی د سهار له خوا يو اځې لس دقيقې له کوټې راباسي، علي رضا وايي چې تښتي، لس دقيقې تشناب ته د تګ او پښو غوړولو له پاره بس دي. که مړه هم شي، څوک ورنه ور خلاصوي، تېره هفته مې د يوه مساپر چيغې واورېدې، ځوان و، ګېډه يې خوږېدله، خو هيڅوک يې هم په کيسه کې نه شول، سهار ته مړ پروت و.

زېبا غلې شوه.

ومې ويل:

ـ ته دلته څه کوې؟

ـ ديګ پخوم.

لاس ته مې يې وکتل، غټه تڼاکه پرې ختلې وه.

په غريو کې يې وويل:

ـ د مور له مرګه وروسته يې يوه کورته بوتلم، څلور ښځې پکې اوسېدې، يوه زړه او درې ځواني، هرې يوې بېله کوټه درلوده، .دوهمه شپه مې پام شو، کور ته درې نارينه راغلل، بوډۍ پيسې ورنه واخيستې، بيا يې هر يو بېلې کوټې ته ور وليږه.

زېبا غلې شوه.

ور ومې کتل، شونډې يې لړزېدلې.

ومې ويل:

ـ بيا؟

ـ درې ورځې هلته وم، علي رضا راغی او بېرته يې دلته راوستم. خو يو شناخته مې هم ونه ليد. د پنجرو تر شا نور خلک ولاړ ول، د فارم کارګران هم بدل شوي وو، يو اځې په دروازه کې ولاړ خلک مې پېژندل.

له علي رضا نه مې د پلار پوښتنه وکړه، ويل يې چې لږ ژوبل شوی دی، بس، چې له روغتونه رخصت شو، ورسره تلای شې.

د شا کوټې ته يې بوتلم، يوه زوړ سړي ديګ پخاوه، علي رضا راياده کړه چې مرسته ورسره کوه!

د شپې به يو اځې وم، د کوټې کونج ته مې نه شو کتلی، مور مې ليده، لوڅه لغړه وه، د سر ويښته يې شکول. تر سهاره به ګروپ راته بل و، خو وروسته عادت شوم. علي رضا به د پلار احوال راته راووړ، ويل به يې چې مخ په جوړېدو دی.

ورځې تېرې شوې، پلار مې رانه غی. ما به هر وخت له علي رضا نه د هغه پوښتنه کوله. يوه ورځ يې راته وويل چې پلار دې پوليسو نيولی، اوس به يې خپل وطن ته اړولی وي.

. تمه مې ونه خته ، ځای ور مالوم و، ضرور راپسې راته.

يوه غرمه فارم ته لاړم، شېدې مې را اخيستې، د يوه کاريګر پښه وښوېده، نه شو ولاړېدی، له مانه يې وغوښتل چې د خوشايو ډک سطل د باندې وباسم.

ډېران د فارم د حويلۍ په کونج کې دی، دوی د ټولې هفتې خوشايې همالته اچوي، جومه موټر ورته راځي.

ورغلم، يو بوټ پروت و، شناخته رامالوم شو، په ټکري مې پاک کړ، زما د پلار بوټ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازې ته مې منډه کړه، چيغې مې کړې، بوټ مې د زاړه پيره دار سترګو ته ونيو.
هغه وارخطا و، يوې بلې خواته يې کتل، وروسته يې سترګې له اوښکو ډکې شوې، لاسونه يې رانه تاو کړل، ټټر ته يې ور نږدې کړم، پر ککرۍ يې شونډې راکښېښودې.
ده ژړل، خو زما د پلار په اړه يې څه نه ويل، اخير يې رایاده کړه چې علي رضا خبرېږي. له دې ځايه لاړه شه.
دوې ورځې وروسته علي رضا راغی، ورته ومې ويل. رایاده يې کړه چې پلار دې راځي.
وخت تېر شو، ديګ به مې يو اځې پخاوه.
يوه ورځ ځوان ساتونکی په ډوډۍ پسې راغی، د پلار پوښتنه مې ترې وکړه، په غوسه يې راته وويل چې نه پوهيږې.
په هماغه ماخوستن دروازه خلاصه شوه، هماغه ساتونکی و، د برق په رڼا کې يې سترګې سرې ښکارېدلې.
ده په دېوال پسې لاس ونيو، په دروازه کې کېناست، بوتل يې پر غولي کېښود، رایاده يې کړه چې د پلار په اړه مې پوهيږې.
خوشاله شوم، د مالوماتو پوښتنه مې وکړه، خو ده اول مچه غوښته. څه پروا يې کوله، مور او پلار ډېره ښکل کړې وم، خو دده مچه بل رنګ وه، زما ټوله خوله يې رالنده کړه، بوی يې ته، زړه مې راپورته شو، منډه مې ترې واخيسته.
دی همالته رنګ شو، له وېرې کوټې نه شوای ورتلای. شپه مې رڼو ستورو ته تېره کړه. سهار چې کوټې ته ورغلم، نه و. اته بجې راغی، وېرې اخيستی و، خواست يې کاوه چې علي رضا ته څه ونه وايم، هر څوک د نشې په حال کې چټيات وايي، پلار دې ژوندی دی
، خو ماته يې هيڅ هم نه و ويلي.
زېبا غلې شوه، ماته يې وکتل، په غريو کې يې وويل:
ـپلار مې راځي؟
د هغې تر نري ورمېږ مې ګوتې تاوې کړې، ټټر ته مې رانږدې کړه.
د زېبا ورو غږ مې واورېد:
ـعلي رضا اوس هم راته وايي چې پلار دې راځي، بيګاه يې کوټې ته ور وبللم، همدا خبره يې راته وکړه، له خولې يې د هغه ځوان د خولې غوندې بوی ته. بيا يې وخندل، زما ټټرېې څو ځله په خپلو ګوتو ټينګ کړ، ويل يې چې خوند درکوي؟
په چونډيو کې به نو څه خوند وي. ځواب مې (نه) و، خو هغه خندل، ويل يې چې ستاسو په راوستو کې تاواني نه يم، بس دوه، درې کاله وروسته د لارې سل چنده تومن راته ګټلی شې.
د مريم خبرې ختمې شوې.
جېب ته مې لاس کړ، فلش مې راويست، د لوسې په ايمېل راغلې خبرې لا پاتې وې. خو ټلېفون راغی، ملګری مې و، ويل يې چې مېلمه مې يې، موټر مې راوستی، پاخه ته راووځه.
بانه مې ورته وکړه، خو دی ټينګ و.
جامې مې بدلې کړې. کورته ورسره لاړم، له هالنډه مو د ليسې دو خت يو همصنفی راغلی و، نه يې پرېښودم، شپه مې وکړه، سهار په دوو نورو ټولګيوالو وګرځېدو، ماښام تياره کورته راغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مریم خبرو ته مې ببره وه، ویلي یې ول:
ـپه سره اور ناسته وم، ټیکه نه راتله، له علي رضا او دې کوره مې کرکه کېده، پلار به مې نن، سبا راته کول.
وخت ولاړ و، نه تېرېده، د زېبا مړاوو سترګو مې زړه خوړ، له وسه مې څه نه و پوره.
یو ماز دیګر مې د پلار له جېبه د لسو زرو تومنو نوټ راوایست، زېبا ته مې ونیو، ډېرې نه وې، درې ـ درې نیم سوه افغانۍ راتلې، خو زېبا نه اخیست، ویل یې چې څه یې کوم، په نږدې سیمه کې دوکان نشته.
وروسته ټوخی راته پیدا شو، پلار مې علي رضا ته وویل، ګولۍ یې راوړې، خو کرکه مې ترې کېده، ومې نه خوړې.
ورور مې هم تبې کولې، کوچیني سخوندر یې زړه وهلی و، ډېر وخت به له کټه نه ولاړېده.
یوولسمه ورځ له فارمه راووتو، مور، پلار او کوچیني ورور مې خوشاله ول، د موټر له ښیښو یې یوې بلې خوا ته کتل، خدای ته یې شکرونه ایستل، خو ما په لاس کې سوځېدلې وړې پراټې ته کتل، د زېبا له اوښکو ډکې سترګې مې له مخې نه لیرې کېدې، دهغې وروروستۍ جمله مې په ذهن کې راګرځېده:
ـهه! دا پراټه مې په خپله درته پخه کړه، وږې به شې.
د مور حیرانه غږ مې واورېد.
ـته ژاړې؟
مخ مې واړاوه، نه وم پوه شوې.
پلار مې وخندل:
ـاې لېونۍ، خوشاله اوسه، له زندانه راووتو.
څه مې ونه ویل، مخامخ په پیاده رو کې د زېبا په عمر ډله نجوني روانې وې، ښکلې ښکارېدلې، خندل یې، په ملاوو پسې یې د مکتب بکسونه سرېښې ول.
ټکسي وان په یوه باغ کې پرېښودو، رنګارنګ ونې وې، غولی ژېړو پاڼو نیولی و.
لنډ وخت وروسته د اوبو یو لوی ټانکر راغی، حیران شوو، موټروان ویل چې ټانکر ته ورکښېنه شئ.
پلار مې په غوسه و، نه یې ورسره منله، خو موټروان سل دلیلونه راوړل، د لارو سختۍ یې یاده کړه، ویې ویل چې ډېرې کورنۍ مو په همدې ټانکر کې وړې دي.
پلار مې نه قانع کېده، د موټروان وروستۍ خبره دا وه چې علي رضا ته به ټلیفون وکړي.
زړه مې ولړزېد، پلار مې وپوهاوه چې بیا هغه کور ته نه شو تلای.
ټانکر ته ورکښېنه شوو، وچ و، خو د ماهیانو غوندې سوړ بوی پکې لګېده.
ټول پر یوه هواره پنډه توشکه کښناستو، شاوخوا مې وکتل، تیاره وه، پورته اسمان د شنې داېرې غوندې ښکارېده.
موټروان رایاده کړه چې د موټر د درېدو په وخت کې به له توشکې سره د ټانکر شاتنۍ برخې ته ورځی.
شېبه وروسته موټر حرکت وکړ، د جمپونو له
ورکېدو پوه شوم چې پاخه ته وخوت.
یو، یو نیم ساعت ښه وو، خو وروسته مو ساه بندېده، ټولو پورته، ګردې دریڅې ته خولې نیولې وې.
یو ځای موټر ودرېد، توشکه مو په احتیاط شاته یووړه، یوه دقیقه لا نه وه وتلې چې موټر حرکت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیم ساعت وروسته بیا موټر ودرېد ، موټروان و، ویل یې چې د هوا د تبدیلۍ له پاره د باندې راووځئ.
موټر له عمومي سړک نه چپ په ژېړو ونو کې ولاړو.
موټروان کیڼ لور ته اشاره وکړه، له یوه لوري ځایه، رڼې اوبه راتوېېدلې.
سر مې ګرځېده، ورغلم، اوبو ته مې لاسونه ونیول.
پلار ته مې وکتل، له موټروان سره یې خبرې کولې.
کله چې بېرته ټانکر ته ورکښېنستو، پلار مې رایاده کړه چې تر مهاباده به همدلته یو. د مهاباد په اړه مې مالومات
ترې وغوښتل، د موټروان له خولې یې وویل چې ترکیې ته نږدې کوم ولایت دی.
سفر سخت و، خو بیا هم د ترکیې نوم زړه راکاوه.
یو ځای مې د ورور خوا راوګرځېده، پلار مې تر ډېره پر اوږو کېنولی و، ورور مې ازاده هوا اخیسته، وروسته یې
یخني وشوه او بېرته پر توشکه کېناست.
لمر لوېدلی و چې مهاباد ته ورسېدو.
یوه کور ته لاړو، ساه مو لا نه وه سمه کړې چې یو دوه سیټه ټیوټا موټر راغی. خامې لارې مو په مخه ورکړې،
ماخستن ناوخته ترې کښته شوو.
تیاره وه، سپي غپ ووهل، ورور مې د مور غېږې ته ځان ور واچاوه.
لاټین ښکاره شو، مخکې راغی، یوه بوډۍ وه، په ژبه نه سره پوهېدو، په هغې پسې روان شوو.
د وره غنجا مې واورېده، ورغلو، یوه لویه کوټه وه.
په زړه درۍ کېناستو، د لاټین په ژېړه رڼا کې مې سترګې ورغړولې، تنور، په کونج کې له ختې جوړ نغری، ځنګ ته
ایښې وچ لرګي... ټول د کلیوال ژوند ننښې وې.
بوډۍ زوړ دسترخوان پرانیست، وچه ډوډۍ مو له پنیر سره وخوړه.
وروسته یې ځلور کمپلې راوړې، ستړي وو، پلار مې بکس تر سر لاندې کړ، نور له بالښته پرته، پر کلکه درۍ
پرېوتو. ناوخته مې د ورور غږ واورېد، له بولو پاذاب وم، خو ځان مې غلی ونیو. د کوټې له دروازې سره د پراته
سپي د ساه ایستلو غږ راته.
سهار وختې مې مور د ورور جامې وربدلولې، د هغه د وېدېدو ځای ته مې وکتل، دوه لویشتې درۍ لنده وه.
د باندې ووتم، سوړ باد چلېده، د یوې هسکې غونډۍ په لمنه کې درې، ځلور خام کورونه ولاړ ول. له دود کشونو
یې لوګي ختل، په دېوالونو کې یې تېرې او ښویه لرګي کار شوي وو.
زړه مې خولې ته راغی، سپي ته نږدې ولاړه وم، وغرېد، ټوپ یې کړل، ځنځېر وشرنګېد.
بوډۍ منډه راواخیسته.
ځای پر ځای ناسته وم، له پښو مې سېکه ختلې وه.
بوډۍ لښته پورته کړه، ترلي سپي کوړنج وهل، غلی د دېواله ته پرېووت.
بوډۍ تر مټ ونیولم، تر بې پاڼو غوټه نیالګیو تېر شوو، په لښتي کې رڼې اوبه راتلې.
کله چې په کوټه کې قبلې ته ودرېدم، غاښونه مې سره لګېدل.
له چایو وروسته د باندې ووتم، لمر و، پر یوه هسکه غونډۍ د ترکیې بېرغ رپېده. مور ته مې ورناره کړه، راغله، د
بېرغ په لېدو یې بېرته کوټې ته منډه واخیسته، شېبه وروسته ټولو بېرغ ته وچې سترګې نیولې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې ټوپونه وهل، ترکيه تر يوه کيلو متره نېږدې وه.
بوډۍ راغله او په اشاره يې پوه کړو چې بايد کوټې ته ننوځو.
هماغسې مو وکړل، ټول پر درۍ کېناستو، ورور مې پر لانده ځای بکس کېښود.
د بوډۍ غږ مې واورېد، دومره يې وپوهولو چې ډله مه وځئ. خو شېبه وروسته مې له مور سره يو ځای د باندې ووته. له ورسۍ مې وروکتل، بوډۍ اوزه لوشله، مور مې د لښتي په اوبو کې د ورور لندې جامې پرېوللې، ورهاخوا، د غونډۍ تر سره ژېړ وابنه ختلي وو.
ورځ تېره شوه، ماښام قضا يو جګ سړی کوټې ته راغی، پر شونډو يې سپين برېتونه پراته ول، ټول تندی يې ګونځو نيولی و.
سړي د بګدان ته ور وګرځېد، له جوش د ډګه يې د چرګ ورون ور وايست، ور يوه يې کړل، خولې ته يې ور وور، د بريتو اوږده سپين ويښته يې د چرګ پر ورانه راپرېوتل. زما مور ته يې وکتل، په ډکه خوله يې وويل:
ـ ښکلې مال دی.
زړه مې ولړځېد.
پلار مې ولاړ شو، مخې ته يې ودرېدم.
سړي وخندل:
ـ پرې يې ږدئ. هيڅ هم نه شي کولای.
پلار مې کېناست.
سړي چيچل شوی هډوکی په اور کې واچاوه، په زوره يې وويل:
ـ ننه، چای راوړه!
وروسته يې له جېبه څه راويستل، د قير غوندې سرېښناکه وړې ټوټې وې. ويې خندل:
ـ چرس، ډېر خوند لري...
بوډۍ کوټې ته راغله، پرېولې پياله او کوچينی ترموز يې د سړي تر مخ کېښودل.
سړي ډکه پياله خولې ته وروړه، پلار ته مې يې وکتل:
ـ صاحب منصب يې؟
پلار مې وچې سترګې ورته نيولې وې.
سړي وويل:
ـ ډېر ايراني پوځيان راسره بلد دي، له ولاړېدو دې پوه شوم.
پلار ته مې وکتل، په غوسه و.
شېبه وروسته کوټه د چرسو له بويه ډکه شوه. بيا يې زما پلار ته سګرېټ ونيو، لاس يې هماغسې غځېدلی پاتې شو، بېرته يې سيګرېټ خپلې خولې ته ور نږدې کړ، ټوخي واخيست، زما پلار ته يې وکتل، په ملنډو يې وويل:
ـ ډېر غيرتي يې!
يو دم يې وخندل:
ـ خو دلته هيڅ هم نه شي کولای.
د پلار په سترګو کې مې غوسه لېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي وويل:
ـتېر کال مې يوه ايراني کورنۍ له سرحده اړوله، دوې پيغلې پکې وې، په تګ کې مې له يوې سره ناپامه اوږه ولګېده، ورونيو ته يې وويل، د سوکانو وار نه راباندې کېده، خو کله چې له سرحده واوښتو، هماغه نجلۍ مې په غېږ کې ونيوله، مچې مې ترې واخيستې، ورونيو يې راته کتل، خو هيڅ يې هم نه شواى کولاى.
څه به يې کول؟ هه ! هيڅ، نه پوليسو ته ورتلاى شواى او نه يې هم ماته کومه څپېړه راکړه. زارى يې کولې، ويل يې چې خويندو ته مې څه مه وايه.
خاوره هماغه وه، هوا هماغه وه، زه هماغه وم، دوى هماغه ول، خو وطن هماغه نه و. يو اځې يو کيلو متر واټن ټول غيرت ورڅخه واخيست. د غونډۍ په دې سر کې مې په ناپامۍ اوږه ورسره ولګېده، د سوکانو وار نه راباندې کېده، خو د همدې غونډۍ په بل سر کې مې مچې ترې اخيستې، زارى يې کولې. ډېر فرق دى، نه؟
د سړي خبره سمه وه، تېر کال له پوهنتونه کورته تلم، په کوڅه کې يو هلک ولاړ و، مازې يې راته وخندل، خو ښه نه راباندې ولګېده، پلار ته مې وويل، ماښام کور ته ورغى، د هلک پلار يې راوايست، جنرال و، يوه عادي دوکاندار يوه روپۍ کړ، خو دلته يې يوه معتاد ايراني ته هيڅ هم نه شو ويلى.
د سړي په غږ مې فکر سره راټول شو.
ـمه ويرېږئ !
ورو مې کتل، زما مور ته يې وچې سترګې نيولې وې.
سړي وخندل:
ـ مور دوه ډوله مسافر لرو، ځينې کمې پيسې راکوي، مازې يې تر سرحده اړوو، نور يې خپل کار، څه کوي، چېرته ځي، په موږ پورې اړه نه لري، خو ستاسو غوندې مسافر بيا په ټولو قاچاقبرو پورې تړلي دي، بس، ما هم په همدې ډله کې وشمېرئ، هره مياشت، لس، پنځلس مسافر تر سرحده اړوم، د هر مسافر پر سر زر ډالره راکوي، اعتبار نه شم خاموله، ډېرې پيسې دي.
غلى شو. ګړى ته يې وکتل، ويې ويل:
ـدولسو بجو ته ځانونه تيار کړئ.
ودرېد او له کوټې ووت.
يوولس نيمې بجې راغى، زما پلار ته يې يوه پلاستيکي کڅوړه وروغورځوله، ويې ويل چې د پوستې د عسکرو له ديده مو ساتي.
پلار مې له خلطې دوه، تور يخن قاقه را وايستل، يو يې په خپله واغوست، بل يې زما ورور ته ونيو. کله چې د باندې راووتو، پلار او ورور مې په توره شپه کې سم نه ښکارېدل.
مخکې لاړو، سړي رايادا کړه چې له پښو سره مو پام کوئ، هڅه وکړئ چې وړې ډبرې لاندې ونه رغړي.
دا يې هم وويل چې تشويش مه کوئ، يوه پوسته ده، ليرې ورنه تېرېږو، په پنځلس کاله کې يې يواځې يو ځل ډزې راباندې کړېدي.
ټول د غونډۍ په پيڅکه کې په سړي پسې روان وو، يو ځاى ودرېدو، د يوې هليکوپترې له کمزوري غږه پرته، نور څه نه اورېدل کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې لاړو، وچ خوړو، پورته وختو، یو ځای تیږه ورغړېده، پرېوتو، تر ډېره مو حرکت نه کاوه، بیا ولاړ شوو، سړي زما له پلاره بکس ور واخیست، په احتیاط مخکې تلو، یو دم ډزې شوې، له ډېرو سره سوکي ( سپرغي ) باد شول، شاته مو منډه واخیسته، تر کمره لاندې پرېوتو.

مور مې چیغه کړه !

ـزوی مې.

سړي یې پر خوله لاس کېښود.

زړه مې ولړزېد، ورور مې نه و.

پلار مې ولاړ شو، سړي تر پښې ونیو، په ټیټ غږ یې وویل: ـوژني مو.

غږونه مو واورېدل، عسکر ول، چیغې یې وهلې.

پر مخامخ ډبرو د بتۍ سپېنه رڼا پرېوته، ورور مې ولید، پروت و، سپینې سترګې یې نیولې وې، د غوږ لاندینۍ برخه او غاړه یې لانده ښکارېدل.

رڼا بلې خواته ولاړه.

مور مې لاندې ورغړېده، ورغلم، خرهاری یې خوت.

چیغې شوې، پورته مې وکتل، د بتۍ سپېنه رڼا مې په پلار لګېدله، هغه زما د ورور خواته منډې وروهلې، ډزې شوې، مخې ته یې سره سوکي باد شول، بېرته راوګرځېد.

سړی راغی، زما مور یې له ځمکې پورته کړه، مخ کښته ګړندي روان شو.

پر سر مې د مرمیو شنهارۍ واورېد، پلار مې تر مټ ونیولم، دواړو لاندې خوړ ته منډه واخیسته.

سړي راغږ کړل، ورغلو، د لویې تیږې تر شا کېناستو.

مور مې پرته وه، خرهاری یې خوت.

سړي یو دم منډه واخیسته، پورته د سپینو رڼاوو خواته ورغی، ډزې شوې، بېرته راغی، درب شو، بکس پر ځمکه ولوېد.

عسکرو چیغې وهلې، کله کله به د بتیو سپینې تېرې رڼاوې پورته په تیاره کې تېرې شوې.

مریم غلې شوه، ورروسته غریو واخیسته، ویې ژړل، بیا یې په ډک ستوني وویل:

نه وم پوه شوې، یو وخت مې د پلار ژړغونی غږ واورېد:

ـمریم، مریم، سترګې رڼې کړه !

ور ومې کتل، همالته په ډبرو کې پرته وم. پلار مې زما د لاسونو غروې موښل.

ځان مې د هغه غېږې ته ور وغورځاوه، ومې ژړل، د ورور په وینو لړلی غوږ مې له ذهنه نه ووت.

مور ته مې وکتل، بې حرکته پرته وه، خرهاری یې نه خوت.

د غونډۍ په بل سر کې سپینې رڼاوې یوې بلې خواته کېدلې.

د سړي غږ مې واورېد:

ـکمه لاره پاتې ده.

پلار مې حرکت ونه کړ.

سړي د هغه پر اوږه لاس کېښود، ورو یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ سخته ده، خو بله چاره نه لرئ.
پلار مې هماغسې ژړل.
سړي بکس ته ډېره ووهله، یوه شېبه غلی و، بیا یې وویل:
ــشاته نه شئ تلای، د ایران پولیس مو نیسي، لور او ښځه د زنانه زندان په نوم درنه بیایي، هر څه چې یې زړه ول، کوي یې.
پلار مې هماغسې ژړل.
سړي بکس ور واخیست، ولاړ شو، ویې ویل:
ــ رڼاوې لیرې دي، داسې وخت بیا نه شې موندلی.
پلار مې یوه شېبه غلی و، بیا ودرېد، مور مې یې پر اوږه واچوله. نیم ساعت لا نه و پوره چې د سرحد بلې غاړې ته ورسېدو.
د مریم خبرې ختمې شوې.
پاو وروسته یې ټلیفون راغی، ویې ویل چې د روغتون د دهلېز رنګ یوه ورځ نور وخت نیسي، خو لوسي په کور کې انټرنیټ لري، نن مې د هغې په ادرس نورې خبرې درولېږلې.
مریم خوشاله وه، ویل یې چې د پلار وکیل یې زنګ ورته وهلی و. شاید دوهمه محکمه یې د قید موده راټیټه کړي.
نه مې شوای کولای چې د خوشحالۍ پرمهال تېر وختونه ور په زړه کړم، خو د مریم په رالېږلو خبرو کې یو څه کم و. کیسه سمه نه راتله، باید ورباندې پوه شوی وای.
بخت یارې راسره وکړه، د پوښتنې یې راته وویل، سل زړونه مې سره وتړل، ور یاده مې کړه چې ورور دې څنګه شو او تر سرحده په څه ترتیب واوښتئ؟
مریم غریو واخیسته، ټلیفون قطع شو.
ځان بد راته وایسېد، خو چاره نه وه، نن، یا سبا، باید پوهېدلی وای.
لنډ وخت وروسته ټلیفون راغی، مریم وه، ښښنه یې وغوښته، په ژړغوني غږ یې وویل:
ــدواړو غاړو ته هسکې پرښې ولاړې وې، مجبوره وو چې پر هماغه لاره پورته وخېژو. یو ځای ودرېدو، زه او پلار دواړه کېناستو، په ځمکه کې ستورې ښکارېدل، لاس مې ور وووړ، له وروره پاتې ډب وینه لا توده وه. چیغه مې ستوني ته راغله، پر مړوند مې غاښونه ټینګ کړل.
سړي تر مټ ونیولم، پلار مې هم په زحمت ولاړ شو، تیاره وه، خو بیا مې هم د مور ځړېدلې سپین لاسونه لیدل.
سړي تر مټ نیولې وم، ګړندۍ ورپسې تلم، ډبرې رغړېدلې، نه مې ټک واورېد او نه هم د عسکرو چیغې، پاو وروسته د غونډۍ په بله غاړه کې کېناستو.
مریم یو دم وژړل او خبرې یې پرې شوې.
وروسته یې په غریو کې وپوښتل:
ــورور به مې ژوندۍ وي؟
غلی وم..
د مریم ژړا زور ونیو.
ټلیفون قطع شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سبا مې د مريم خبرې راواخيستې، ماخستن کمپيوټر ته کېناستم، ويلي يې و:
ـ په رنګو د ېوالو کې کېناستو، خرابه وه، پخواني خرابه، د ستورو تته رڼا له د ېواله په رالوېدلو لويو- ورو ډبرو لګېدله.
پلار مې تېزه تېزه ساه ايسته، ستړی و، يو پاو يې زما مور پر خپلو اوږو راوړې وه.
سړی هم غلی پر يوه تيږه ناست و، شېبه وروسته يې وويل:
ـ زه تر دې ځايه درسره وم.
ولاړ شو، د بکس ځنځير يې کش کړ.
د پلار اوږه مې وخوځوله، وروېې کتل، يودم ودرېد، سړي يې تر مټ ونيو، په حيرانۍ يې وويل:
ـ دا زمور بکس دی؟
سړي په خبره کې ورولوېد:
ـ خو دا ستاسې نه ده!
لاس يې راويست، کڅوړه وه.
پلار مې په بيړه وويل:
ـ څه دي؟
ـ پوډر.
يودم يې د سړي ګرېوان ته لاس ورواچاوه، چيغه يې کړه!
ـ تا زمور په بکس کې پوډر ايښي ول؟
سړي خپل دواړه لاسونه زما د پلار پر ټټر کېښودل، پورې يې واهه، له د ېواله يوه غټه تيږه رالوېده.
سړی ودرېد، په ملنډو يې وويل:
ـ د همدې پوډرو په خاطر مې سړې مرمۍ ومنلې او بکس مې راووړ.
پلار مې لاس پورته کړ.
سړي وويل:
ـ احمقتوب مه کوه، ښځه او لور دې لا پاتې دي.
پلار مې کېناست.
سړی دوه ګامه شاته لاړ، يوه لويه ډبره يې ليرې کړه، وړه کنده وه، کڅوړه يې په کنده کې واچوله، هماغه غټه ډبره يې پرې کېښوده.
بېرته په خپل ځای کېناست.
مور مې يودم چيغه کړه، پلار مې د هغې پر خوله لاس کېښوده.، د هغې خرهاری شو، بېرته بېسده پرېوته.
د ښپو غږ راغی، ورې ډبرې ورغړېدې ټول پرېوتو.
د شغال ورو انګولا شوه، سړی بېرته نيغ کېناست، په ټيټ غږ يې و انګولل. دوه تنه راغلل، دواړه تنکي ځوانان ول، يو يې له سړي سره ودرېد، بل يې تېرې ته ور وګرځېد.
سړي د مخامخ ولاړ ځوان پر اوږه لاس کېښود، مور ته يې وکتل، ويې ويل:
ـ دی اوزکان نوميږي، تاسو به تر وان پورې رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې ځوان ته څه وویل، پوه نه شوم، فکر کوم چې ترکي ژبه وه.
ځوان بکس ور واخیست، په لهجه لرونکې فارسي یې وویل:
- دا سیمه خطرناکه ده، باید لاړ شو.
پلار مې، مور پر اوږه واچوله.
ټول راووتو، سړی ایران ته ور وګرځېد، هغه بل ځوان د پوډرو له کڅوړې سره بلې خوا ته په تیاره کې ورک شو، موږ هم په خپل رهنما پسې روان شوو.
مخکې لاړو، پلار مې ستړی و، تېزه تېزه سا یې وهله.
یو ځای کېناستو. د موټر بل ځراغونه پر لوځو ونو ولګېدل، بېرته مو حرکت وکړ.
تر دوو پوستو تېر شوو، لیرې وې، خو رڼاوې یې ښکارېدلې.
د مور په خاطر مو یو ساعت لاره، په دوه، دوه نیم ساعته کې ووهله.
د مېږو غږ راغی، ګړنجوني وګړنجېدل، د سپیو غپا په تېزۍ سره نېږدې کېدله. ورغلو، ځوان لاسي بټۍ ولګوله، دوو چیني کوچینیو سپیو منډه راواخیسته، تر ځوان راوګرځېدل، لکۍ یې وهلې.
یوې کوټې ته ورننوتو، ځراغ بل و، د خړې درۍ پر سر د غالۍ اوبدلو وره کارګاه ولاړه وه، څنګ ته ګډوډې زړې بړستې پرتې وې.
ځوان ځراغ ور واخیست او د باندې ووت.
ښه شېبه ووته، پلار مې اورسۍ ته ناست و، سلګۍ یې وهلې، مور مې لا په سد نه وه راغلې، ما هم هڅه کوله چې کومه چیغه مې تر خولې راونه وځي.
ما تر ډېره د پلار سلګۍ اورېدلې، کله کله به د ګړنجوني غږ هم پورته شو، وروسته خوب وړې وم.
نه پوهېږم، څه وخت و، خو مور مې چیغې وهلې.
سترګې مې رڼې کړې، رڼا وه، مور مې خپل لاس ته کتل، لاس یې زما د ورور پر وچو وینو سور و، له چیغو یې وار نه کېده.
ورغلم، د مور پر اوږه مې لاس کېښود، را ویې کتل، سترګې یې د انګار غوندې سرې وې، را ړنګه شوه، سر یې زما پر اوږه کېښود، د زړه له زوره یې چیغه کړه.
ټولو ژړل، کوکې مو وهلې، د ورور نوم مو اخیست.
ښه شېبه ووته، کوټې ته دوې ښځې راغلې، په عمر پخې وې، د کوچیانو غوندې له رنګو (پاولیو) ډک، ګرد کمیسونه یې اغوستي ول.
یوه یې زما مور ته ورغله او بلې یې زه په غېږ کې ونیولم. له نازه یې پوه شوم چې اصلي کیسه ور مالومه ده.
په ژبه یې نه پوهېدم، خو پوست غږ یې د غمرازۍ مانا ورکوله.
دوې ورځې همالته و، څو کوره ول، رمې یې درلودې، سړو یې ارت پطلونونه اغوستي ول، سدریو (واسکټونو) یې راوتلي جېبونه لرل، په ختّه کردان وو.
په دوو ورځو کې مې له مور او پلار سره یوه خبره هم ونه کړه، څه به مو ویل، هیڅ.
ټول غلي وو، خو مور به مې کله کله له ځان سره غږېدله، د زوې نوم به یې واخیست، بیا به یې یو دم چیغه کړه:
ـ راځي، راځي، ضرور راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ به يو اځي ژړل.
په دربيم سهار يو موټر راغی، په باډۍ کې يې له وطني چرګانو ډک قفسونه ايښې ول.
موټروان په قفسونو کې لار وايسته، موږ ته يې اشاره وکړه، له څه ويلو پرته ورغلو، کېناستو، مخې او دواړو غاړو ته مو له چرګو ډک قفسونه ول، يو بل قفس راغی، زموږ تر سرونو يوه لوېشت پورته ودرېد.
بوی و، سوړ بوی، ټپکه نه کېده.
مور ته مې وکتل، زما د پلار پر اوږه يې سر ايښې و، د ککرۍ پر تور ټکري يې د چرګانو سپينه چټلي ښکارېدله.
موټر حرکت وکړ، ښه و، سوړ باد د چرګانو بوی ورسره ووړ.
موټر پاخه ته وخوت، يو پاو مزل مو وکړ، بېرته خامې ته ولوېد، تر غټ کلي تېر شوو، کورونه خام ول، د لرګي ناوې ترې راوتلې وې، د بامونو پر سرونو وچ وانښه ښکارېدل.
په دښته کې مخکې لاړو، غونډۍ راغلې، موټر ودرېد.
د دوو چرګو له مينځه مې ور وکتل، د خام سړک پر سيميټي پلچک ناستې زړې ښځې پيسې شمېرلې.
موټروان راغی، زموږ پر سر د ايښې قفس دروازه يې خلاصه کړه، دوه چرګان يې پکې واچول.
موټر حرکت وکړ، مور ته مې وکتل، هماغسې يې خپل سر زما د پلار پر اوږه ايښې و.
غرمه پاخه ته وختو، د سړک پر غاړه ولاړه لوحه تېره شوه، چرګې وې، ومې نه شوای لوستلی، خو دوهمې لوحې ته مې مناسبه چوله پيدا کړه، د يوې چرګې تر سره وزر لاندې مې ولوستل:
ــوان، ديرش کيلو متره.
موټر خامې ته ولوېد، جمپونه يې نه خوړل، جغل و.
وخت ووت، موټر ودرېد، چرګو چيغې کړې، د سر قفس ليرې شو.
ودرېدم، ونې وې، ژېړ چمن رالوېدلو سوروزمه پاڼو نيولی و.
پر يوه لويه تيږه کېناستم، مور ته مې وکتل، د خپل ټکري پيڅکه مې تر ګوتو تاوه کړه، پيڅکه مې د مور پر سپين، صاف تندي تېره کړه، د چرګانو وچه چټلي لاندې ولوېده.
پلار ته مې سترګې ور واړولې، دواړه اوږې يې ککړې وې، په رسيدلې ږېره پسې يې مړه ښکه سريښ وه.
خپل ټکری مې ليرې کړ، مازې يو ځای چټل و.
موټروان قفسونه سم کړل، په اشاره يې پوه کړو چې له ونو مه وځئ.
د چرګانو نارې تر هغه وخته راتلې چې موټر پاخه ته وخوت.
پاو ووت، ټکسي راغله، لس دقيقې وروسته په يوه کور کې وو.
دوې ځواني نجونې راغلې، يوې يې زه تر لاس ونيولم، بله زما مور ته ورغله.
ارت او ښکلي سالون ته ورننوتو، نيمايي دېوال، آيينې نيولی و، لاندې يې پر مېز د اراېش مختلف وسايل ايښې ول.
تشناب ته ورغلم، نجلۍ راځېدلو جامو ته اشاره وکړه، پوه يې کړم چې تر ځان مينځلو وروسته همدا جامې واغونده.
کله چې په سالون کې ولاړې آيينې ته ودرېدم، ځان ښه راته ونه ايسېد، پر چسپ پطلون د يخن قاق لنډه لمنه پرته وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور مې يې راوسته، پوه شوم، لمبولې يې وه. خو ارت او اوږد يخن قاق يې ښه و، کمر بند يې نه مالومېده.
پلار مې ولید ، جامې يې بدلې وې، تر خريلي ستوني لاندې يې سره نيکټايي ور تړلې وه.
شېبه وروسته له کوره ووتو او په هماغه ټکسي کې کېناستو. مور ته مې وکتل، غټې سترګې يې له غمه ډکې وې، د تورو اوږدو وېښتو پيچلې څوکې يې لا لندې ښکارېدې.
وان کوچيني، خو ښکلې ښار و، ډېرې کورونه يې دوه يا درې پوړېزه ول.
د ريل په ايستګاه کې يې يو بل سړي ته ور وسپارلو، سړی له ونې هسک و، د تګ په وخت يې د ورمېږ غوښې ښورېدلې.
تر مساپر وړونکي ريل تېر شوو، تر دوو پټليو واوښتو، بار وړونکي ريل ته ور وختو، له کارتنونو ډکه تياره کوټه وه.
مخکې لاړو، د کارتن پر هوار شوي کاغذ کېناستو، سړي يوه پلاستيکي کڅوړه راته ونيوله او په خپله له ډبې کښته شو.
شېبه وروسته يې نور کارټنونه راوړل، زموږ له پښو سره يې تر چته ودرول، تر يوه وخته د کارټنونو له چولو څخه د وره رڼا ښکارېدله، خو وروسته تپه تياره شوه، هيڅ مو هم نه ليدل.
ډېر وخت د رېل په ولاړه ډبه کې وو. يو ساعت، دوه ساعته، درې ساعته، نه پوهېږم، تر دې ډېر. يو وخت ځوکې ولړځېدلې، د رېل پر شاتنې د بوال مې غوږ ولګاوه، ماشين چالان و، وروسته مو وړې جټکې وخوړې، ريل حرکت کړی و.
د پلاستيک کړپا شوه، پلار مې وويل:
ـهه، له سهاره راهيسې مو څه نه دي خوړلي.
ګوتې مې په هوا کې وتپولې، د هغه له لاسه مې يو څه راواخيستل، پزې ته مې ور نږدې کړ، د چپسو بوی يې درلود.
ټول غلي وو، يوازې د پلار د ژامې د ښورېدو غږ راته.
دوه، درې چپسه مې خولې ته واچول، زړه مې نيولی و، خوند يې رانه کړ.
شاته مې ولې ولګول، او سپنه سړه وه.
ښه شېبه ووته، خوب راغی، د پلار پر څنګانه مې سر کېښود. په وېښتو کې مې پنډې ګوتې تېرې شوې.
يو وخت چې مې سترګې رڼې کړې، د موټرو هارنونه ول، ريل ولاړ و، پلار مې خرېده. مور ته مې ور غږ کړ، هغه هم وېده وه.
نه پوهېدم چې شپه وه که ورځ. کله چې ريل حرکت وکړ، بېرته مې سترګې پټې کړې.
د مريم خبرې مې ودرولې، بخاری ته مې وکتل، برهاري يې خوت، خو کوټه سړه وه. مخ مې واړاوه، د پردې پيڅکه رپېدله. ورغلم، علت مې وموند، د کړکۍ پله چوله وه.
بېرته پر خپل ځای کېناستم. مريم ويلي و:
ـهره خوا سرې غوښې وې، په لسګونو له پوسته شوي ځاروي راځړېدل، له پرې شويو غاړو ځاځکي ځاځکي وينه توېدله. سپيني کاشۍ سرې وې.
مخکې لاړو، په سپينو چپنو کې کتار خلک ولاړ ول، ساتولونه په وينو لړلي وو، کړپا وه، هډوکي ماتېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور مې وښوېده، درب شو، پلار مې تر مټ ونيوله، هغې خپل لاس خپلو سترګو ته ورنږدې کړ، لاس ته مې يې وکتل، سور و، مور مې يودم چيغه کړه:

ـ وينه.

پلار مې په غيږ کې ونيوله.

مور مې چيغې وهلې. د خپل زوې نوم يې اخيست، په سپينو چپنو کې ولاړو خلکو په حيرانۍ ورته کتل.

مخکې تللی ډنګر سړی ببرته راوګرځېد. په خشکه يې څه وويل، ټول په هغه پسې روان شوو.

په وينو سرې زينې وې، لاندې لاړو، سرې او سپنيزه دروازه خلاصه کړه، ورغلو، ژېړ ګروپ ته ډله ښځې، ماشومان او نارينه ناست ول.

مور هم ساړه دېوال ته ډډې ووهلې، ناستو کسانو وچې سترګې راته نيولې وې.

مور مې خپل لاس ته کتل.

د بکس څنځير مې کش کړ، يوه ټوټه په ګوتو راغله، ټوټه مې د مور پر لاس تېره کړه، خو هغې يودم پر ټوټې ګوتې ټينګې کړې، ور ومې کتل، زما د ورور کميس و.

مور مې کميس پر خپل ټټر پورې ونيو، په چيغو چيغو يې وژړل، ناستو کسانو په حيرانۍ ورته کتل.

وخت ووت، دوو ماشومانو په خپلو کې عربي ويله.

په دوی کې يو هم افغان نه شو راته ښکاره.

مور د ترکيې په پايتخت انقره کې وو. بس! يو ساعت مخکې يې له ريل څخه کښته کړو، لمر مو پر سر ولاړ و، رڼا يې بده لګېده، له شپاړس ساعته تياري وروسته مو سترګې برېښېدلې.

لنډ يې همدې مسلخ ته راوستو.

درې ورځې په همدې کوټه کې وو، ناست کسان له عراق او سوريې څخه راغلي ول، زموږ غوندې غير قانوني مهاجرول او اروپا ته يې د تګ نيت درلود.

په څلورم سهار يې ټول د باندې را وايستو، يو اتلس ټايره موټر ولاړ و. کانټېنر ته ورته اوږده ډبه يې درلوده، ور وختو، سرې غوښې راځړېدلې.

مخکې لاړو، هوا سړه وه، تر پايه پوست شوي اوږده څاروي ځوړند ول، پنځلس نفره د دوو کټونو په اندازه ځای کې کېناستو.

لاس مې سوړ شو، ور ومې کتل، د يوه څاروي په حلاله شوې غاړې مې ګوتې ايښې وې.

ګوتې مې وسولولې، وچې وې. د څاروي ورون مې په ګوتو کې ټينګ کړ، کنګل و. دېوال ته مې لاس ور ووړ، پرخه يې را ايستلې وه.. ټول په يخچال کې ناست وو.

د يخچال د دروازې د ترلو غږ مې واورېد.

ټول غلي ول، ماشومانو په راوتليو رډو سترګو سرو غوښو ته کتل، پورته کوچيني سپين ګروپونه بل وو.

موټر حرکت وکړ، يوـ يو نيم هيڅ خبره نه وه، خو وروسته مې لاسونه ساړه شول، له بکسه مې د پلار جمپر را وايست، جمپر مې د مور پر اوږو واچاوه، پلار ته مې بنيان ونيو، ما هم تور ټکری تر ځان تاو کړ، له ټکري د چرګانو سوړ بوی ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو مساپرو هم د بکسونو ځنځیرونه کش کړل، شېبه وروسته یو اخې یوه نجلۍ پاتې وه، ژامې یې سره لګېدلې، نه پوهېږم، د اغوستلو له پاره به یې اضافه څه نه لرل.
د ورور جاکټ مې راوایست او د نجلۍ پر اوږو مې واچاوه، د هغې تر څنګ ناستې ښځې څه وویل، دومره پوه شوم چې خپله یې ده او مننه رانه کوي.
مور ته مې وکتل، جاکټ ته یې وچې سترګې نیولې وې.
وخت تېرېده، یخني ډېرېده او د ماشومانو نا ارامۍ زور اخیست. شېبه وروسته بکسونو وازې خولې نیولې وې، د اغوستلو وړ هر څه ترې اېستل شوي وو.
مور ته مې وکتل، د جاکټ ځنځیر مې وروتاړه.
یوې ښځې چیغه کړه، مخ مې ور واړاوه، یو کوچینی هلک یې په غېږه کې پروت و.
یوه ړیرور سړي په بیړه ماشوم ور واخیست، په سینه پورې یې ونیو، لاسونه یې ورومونښل، ماشوم په سد را غی.
خو یو بل تنکی ځوان ړنګ شو.
نارینه ولاړ شول، اوسپنز دیوال ته یې سوکان ونیول، یخچال چیغو په سر واخیست.
موټر ودرېد، شاتنۍ دروازه خلاصه شوه، د لمر ژېړه رڼا تر ځړېدلو سرو غوښو راووته.
ټولو د وره خواته منډه واخیسته، یو ورون له چنګکه بېل شو، مخامخ راباندې راغی، ځان مې څنډې ته کړ.
ډز شو، ورغلم، ټول په وره کې ولاړ ول، ښځو او ماشومانو ژړل.
د یوه ماشوم تر اوږې مې لاندې وکتل، یوه ځوان پر تور سړک پلتۍ وهلې وې، سر یې ځړېدلی و، درې تنه له توپانچو سره ولاړ ول.
ځوان ته مې وکتل، خړ جاکټ یې د مټ په برخه کې په وینو سور و.
یوه وارخطا عرب په انګریزي ژبه وویل:
_د خدای له پاره، ماشومان مو له یخنۍ مړه شول.
یوه وسلوال چیغه کړه !
_ستاسو له پاره یو کانتېنر غوښه نه شو خرابولی.
بل وسلوال رامخته شو، د پراته ځوان تشي ته یې لغته ورکړه، په غوسه یې وویل:
_موټر ته وخېژه !
ځوان په زحمت ولاړ شو.
هماغه وسلوال وویل:
_یخچال مو تر ټولو په ټیټه درجه درولی دی، که یې بند کړو، نو پولیس شک کوي. مخکې تلاشي ده، غږ مو وانه ورم.
ټول بېرته خپلو ځایونو ته راغلو.
مور مې له ځایه نه وه خوځېدلې.
موټر حرکت وکړ، پنځو، شپږو دقیقو خلاصې دروازې د یخچال هوا بدله کړې وه، د بې سده تنکي ځوان سترګې لوخې وې، یوه سړي یې پر اوږو تولیا ور سموله.
لنډ وخت وروسته موټر ودرېد، زړه مې درېبده، خو د یخچال دروازه خلاصه نه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر ببېرته حرکت وکړ، د ټېپي ځوان زګیروی خوت، سړه هوا ورو ورو تو دېدله، خو یخچال لنډ وخت بند و، کله چې دوهم ځل چالان شو، له دېوالونو سوړ باد راته.

وخت ووت، یو ډنګر سړی او دوه ماشومان ړنګ شول، زما له مور پرته، نورو ټولو او سپنیز دېوال ته سوکان ونیول، ښځو او ماشومانو ژړل، نارینه وو، ناري وهلې...

موټر یودم برېک ونیو، ټول پر مخامخ دېوال ورغلو، سر مې له سړې او سپنې سره ولګېد، موټر روان شو، تېزه جټکه یې وخوړه، واړه زاړه شاته ولوېدل.

پلار ته مې وکتل، له یوې ماشومې یې د غوښې لوی ورون لیرې کاوه.

مور ته مې سترګې وروا ړولې، سر یې په غبرګو لاسونو کې ټینګ نیولی و.

شونډې مې تودې شوې، لاس مې وروور، پزه مې وینې وه.

ګنګس وم، ښځو کوکې وهلې، دوه، درې ماشومان او ډنګر سړی بېسده پراته ول.

مور ته ورغلم، د هغې پر سر مې ګوتې تیرې کړې، ښه راته ښکاره شوه.

یو بېسده ماشوم مې له ځمکې راپورته کړ، نبض مې یې وکوت، ژوندی و.

په خپل ټکري کې مې دوه ماشومان ونغښتل، وړه نجلۍ مې راپورته کړه، غاړه یې د یخچال د دېوال غوندې سړه وه.

نجلۍ مې په ټټر پورې ونیوله، سر یې یوې خواته کوږ شو.

غبرګ لاسونه راوغځېدل، نجلۍ یې زما له ټټره واخیسته، ور و مې کتل، مور یې وه، دوه درې ځله یې د نجلۍ نوم واخیست، اوس مې هم په یاد دی، زینب نومېده.

مور یې تر ډېره نجلۍ ته کتل، وروسته یې یودم کوکه کړه.

چیغې ډېرې شوې، نه یخچال بند شو او نه هم موټر ودرېد.

مریم ټوخي واخیسته، څو ځله یې د خبرو هڅه وکړه، خو ټوخي وار نه ورکاوه، وروسته یې په جګ غږ وویل:

ــنن ښه نه یم، دوه ځله مې وینه وګرځوله، د خبرو سېکه نه ده راپاتې، خو نه غواړم چې کیسه مې نیمګړې پاتې شي.

مریم وټوخل، بیا یې وویل:

ــموټر جمپونه وخوړل، ودرېد، د یخچال دروازه خلاصه شوه، د ماهیانو له سوړ بوی سره د څپو غږ راغی.

دوه تنه راغلل، توپانچې ورسره وې، له مونږ څخه یې وغوښتل چې له موټره کښته شو.

په زحمت ولاړه شوم، پلار ته مې وکتل، زما مور یې تر ولیو نیولې وه.

د باندې تیاره وه، تود باد لګېده، یا به مونږ ته تود اېسېده، خو هر رنګه چې و، د یخچال تر هوا ښه و.

شېبېه وروسته له پنځلسو کسانو څخه یو ولس تنه په شګلن ساحل کې ولاړ وو.

دوو ښځو ژړل، په یخچال کې یې د پرتو ماشومانو د جسدونو خواته زورونه وهل، خو دوو عربو ټینګې نیولې وې.

ښځو تر هغو چیغې وهلې چې د اتلس ټایره موټر رڼا په ونو کې ورکه شوه.

پر شګو کېناستو، څپې په اوبو کې له راوتلیو تیږو سره لګېدلې.

د ماشین غږ مو واورېد، له اوبو راته، نږدې شو، وړه ماشیني کشتۍ وه.

ورغلو، اوبه مو تر ځنګنو راپورته شوې. ټول په کشتۍ کې کېناستو. کشتۍ حرکت وکړ، ځراغونه یې مړل ول، د اوبو ساړه څاڅکي مې پر مخ لګېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې لاړو، ګڼو ګروپونو ته ورو ورو ور نږدې کېدو. په تېز باد کې د ماهيانو سوړ بوی ګډ و.
د اتم صنف جغرافيه را په زړه شوه، ليکلي و، چې استانبول په اروپا کې پروت دی او د ترکيې له نورې خاورې څخه د اوبو په واسطه جلا شوی.
فکر مې سم وخوت، ساحل ته نږدې مې د ترکيې بيرغ وليد.
موږ د يوې لويې زړې کشتۍ لاندې ودرېدو، د کشتۍ د بوال سوری و، ورغلو، رهنما لاسي بتۍ بله کړه، موږ د کشتۍ په ماشين کې وو. تر اوسپنېزو زنګنو لويو ګراړيو تېر شوو، پورته وختو، غټه کوټه وه، له سوريو د بوالونو څخه يې نری باد راووت، د بتۍ سپينه رڼا پر پلاستيکي زړو خلتو لګېدله.
د رهنما په امر همالته کېناستو، شپه مو د لرګي پر لندې تختې تېره کړه. ټوخي خوب ته نه پرېښودلم.
د سمندري مرغانو په چيغو مې سترګې رڼې کړې، شاوخوا مې وکتل، ټول ويده وو.
ولاړه شوم، کونج ته په جوړ شوي نغري کې مړې ايرې پرتې وې. له زړو بوټونو، ټوټو، د سګريټو له ډبيو، چيچل شويو هډوکو... داسې رامالومه شوه چې دلته پخوا هم ډېر خلک راوستل شويدي.
د کشتۍ سر ته د لرګي زينه ختلې وه. پر زينه مې لاس کېښود، يو غږ مې واورېد، پورته مې وکتل، ولاړ سړي په اشاره پوه کړم چې مه راخيژه.
ټوله ورځ په کشتۍ کې و، يواځې د سمندري مرغانو اود يوې نيمې تېرېدونکې کشتۍ د ماشين غږ مو اورېده.
ماښام تياره د باندې ووتو، په وړه کشتۍ کې کېناستو، تر ساحله، پنځوس، شپېته متره واټن و.
وچې ته وختو، د کثافاتو موټر راغی، باډۍ ته ور پورته شوو، توري ډکې خلتې وې، پرېوتو، دوو سړو له کثافاتو ډکې خلتې راباندې واچولې.
موټر حرکت وکړ، دومره پوهېدم چې په ښار کې روان يو. کم او زيات، نيم ساعت وروسته خلطې رانه ليرې شوې. په ارته چهاردېوالۍ کې د غټو موټرو زرګونه ټايرونه پراته ول
د باروړونکي موټر باډۍ ته وختو، ټايرونه د ځاه د چکونو غوندې پر يوه بل ايښودل شوي وو. ډنګر سړي په اشاره پوه کړم چې د ټايرونو مينځ ته ورکښته شم. همداسې مې وکړل، ولاړه وم، ځای تنګ و، زنه مې د وروستي ټاير پر ژۍ لګېدله.
نورو ته مې وکتل، ټول په ټايرونو کې ولاړ ول.
شېبه وروسته يې بل ټاير راوړ، تور ټايرونه مې تر سر پورته وختل، د رابړ بوی ته.
په وروستي ټاير يې د لرګي تخته کېښوده. دربا وه، د تختې پر سر يې نور ټايرونه ايښودل.
ساعت ووت، موټر حرکت وکړ، د بدن کنټرول مې له اختياره وتلی و، له جمپ سره به ټايرونو مخکې، شاته ورسره وړلم.
هيڅ مې هم نه ليدل، خو کله کله به مې له ښې اړخه د پلار غږ واورېد:
ـښه يې؟
دوه ساعته وروسته له ټايرونو څخه راوختم، زړه مې راډکېده، ټوک ټوک وم.
يوه کور ته يې بوتلو، کوټه ښه وه، اورسۍ يې لرله، خو په اول منزل کې وو، په چمن کې له ولاړې ونې پرته نور هيڅ هم نه ښکارېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپې تږخې واخیستم، سینه مې وسوځېده، خوله مې تروه شوه، تشناب ته لاړم، آېینې ته ودرېدم، شونډې مې سرو وینو نیولې وې.

په درېیو ورځو کې مې دوه ځله وینه خولې ته راغله، خو مور او پلار ته مې څه ونه ویل.

په څلورم ماښام یې یوه ځنګله ته بوتلو ، هماغه یوولس نفره وو ، قاچاق وړونکي په دوو ټکو ټینګار وکړ.

ـپنځه ساعته پیاده روي ده او که څوک پاتې شول، نو پاتې به وي.

څه به مو ویل، په خپل اختیار نه وو.

مخکې لاړو ، غونډۍ وې، د ناجو په ونو پوښلې تکې شنې غونډۍ.

ټول کتار روان ول، یو وسلوال مخکې ته، بل په موږ پسې و. د سپوږمۍ رڼا دومره زور درلود چې پل سم ځای کېږدم.

له یو نیم، دوه ساعته مزل وروسته مو دمه ونیوله، لوبې ډېرې وې، د سپوږمۍ رڼا ، ځای ځای د ونو له چولو راوتلې وه او پر ځمکه لګېدله.

نږدې انګولا پورته شوه، د توپانچې د کپاق له کشولو پوه شوم چې لېوه دی.

پنځه دقیقې وروسته بېرته له ډېرو پورته شوو ، د لېوانو انګولاوې شاته پاتې شوې، د غونډۍ سر ته وختو ، کښته شوو ، د غونډۍ په څنډه کې مخکې روان وو.

یودم درب شو ، یو څوک لاندې ورغړېد ، پسې ومې کتل، ټکری د ونې په ښاخ کې بند و. ورغلو ، د ښځې په ګېډه کې د ونې وچ ښاخ ننوتی و ، وینو دارې وهلې.

یوه عرب په بېړه د ښځې سر له ځمکې پورته کړ، ښځې دوه درې ځله خپله خوله خلاصه کړه، سترګې یې سپینې راوختې، سر یې یوې خوا ته کوږ شو.

سړي کوکه کړه، د ښځې سر یې په خپل ټټر پورې ټینګ ونیو ، په چیغو چیغو یې وژړل.

یو وسلوال ورغی، د سړي تر مټ یې ګوتې تاوې کړې، خو هغه نه ولاړېده.

لېوانو وانګولل.

هماغه وسلوال وویل:

ـځئ !

روان شوو ، مخکې لاړو ، خو لا هم د سړي چیغې راتلې. شېبه وروسته د لېوانو انګولا هم ورسره ګډه شوه. چیغې او انګولاوې سره نږدې وې.

په څو غونډیو وختو ، بېرته کښته شوو ، خو ونې نه خلاصېدې.

له پنځو ساعتونو منزل وروسته له لرګیو جوړې یوې کوټې ته ور ننوتو ، کوټه په ځنګله کې وه، ور یې نه درلود ، دېوالونه یې له پنډو تختو جوړ ول، د خیرن، مات مېز پر سر د ښکارې ټوپک تش پلاستیکي کارتوس ښکارېدل.

ساعت ووت، درې نور کسان راغلل، له امرونو یې پوه شوم چې له دې هېسته به په دوی پسې روان یو.

اټکل مې سم وخوت، شېبه وروسته نوي راغلي کسان راته غږېدل، ویل یې چې د یونان په خاوره کې یاست، د باندې به نه وځئ ! سهار اته بجې به سره ګورو.

پرېوتو ، بیا مې له پښې سره یو څه ولګېدل، سر مې پورته کړ، د یوه عرب لاس و ، پښه مې راټوله کړه، لاس پسې را اوږد شو ، چونډۍ یې راولګوله. کېناستم، پلار ته مې وکتل، ویده و ، پاتې شپه مې په رڼو سترګو تیره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار مې د چونډۍ وال له برګ لستوني ويېژاند .له عمره پوخ چاغ عرب و ، سترګې يې مړې وې، نه يې راته کتل.
د لندې خاورې بوی راغی، په وره کې ودرېدم، باران و.
اته بجې يو ډنګر سور ځوان راغی، پړاشوټي خولۍ لرونکی جاکټ يې اغوستی و ، ويې ويل چې تر ماښامه به
همدلته ياست، وروسته يې ټولو ته يو يو ډبۍ بيسکيټ ورکړ او له کوټې ووت.
سر مې د پلار پر ځنګانه ولګاوه، خوب راته، ويده شوم.
کله چې مې سترګې رڼې کړې، سر مې د مور پر ځنګانه ايښی و.
وره ته ورغلم، د ونو له تېرو ، لندو پاڼو د مازديګرني لمر ژېړې وړانګې راوتلې وې.
ماښام هماغه درې تنه راغلل، روان شوو ، له نيم ساعت مزل وروسته مې د موټر غږ واورېد ، تر غونډۍ راتاو شوو ،
سل، يونيم سل متره مخکې پوخ سړک و.
د ونو په مېنځ کې کېناستو ، يوه قاچاقبر راياده کړه چې ساراګشت ته تير شی. يوه شوم، اورېد مزل مو په مخکې و.
ماښام له سړکه يو اتلس ټايره موټر راوګرځېد ، په ګڼو ونو کې ننوت.
ورغلو ، په موټر کې د جامو مېنځلو لوی ماشينونه بار ول. وروختو ، يوه ماشين ته مې پښې وروغځولې.
چيغې شوې، ورومې کتل، برګ لستونی چاغ عرب په ماشين کې نه ځايده، نورو دوو کسانو يې پر اوږو زور
راوستی و.
کېناستم، د جامو مېنځلو ځای بد نه و ، خو زنګنونه يې نيول ل.
ځنګ ته مې پام شو ، ماشين سوری و ، هوا راتله، داسې راته واېسېده چې خاص د غير قانوني مساپرو د وړلو له
پاره جوړ شويدي.
د پښو دربا مې واورېده، پورته مې وکتل، يوه سړي د اورلګيت په اندازه کوچينۍ قوطۍ راته نيولې وه.
شېبه وروسته يې زما پر سر بل ماشين کېښود ، تياره وه، يوازې په ماشين کې له پرې شوي سوري څخه خپه رڼا
راوتله.
وخت ووت، قوطۍ مې خلاصه کړه، ژاولې راته ښکاره شوې. يوه مې خولې ته واچوله، جوهر داره خوند يې درلود.
شېبه وروسته مې سترګې درنې شوې، خوب مې پوره و ، خو د بيهوښۍ څپه راباندې راتله. خبره په ژاولو کې راته
واېسېده.
مريم همدومره غږېدلې وه.

* * *

سهار په دفتر کې وم چې ټليفون راغی، ورور مې و ، ويل يې چې د پلار صحت ښه نه دی.
اندېښنه راولوېده، رخصت مې واخيست، سړک کنګل و ، موټر بې چاينه نه شوای تلای، د دريو ساعتونو لاره مو
په دوه چنده وخت کې ووهله.
پلار مې د زړه حمله تېره کړې وه، اوس ښه و ، خدای ته مې شکرونه وايستل.
درې ورځې په کلي کې پاتې شوم، ماشومان راته خوشاله ول، نيمايي ورځ به مو د واورو په ويشتلو تېره کړه، کله
چې په څلورم سهار له کوره راوتم، واوره په شدت اورېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه بجه د وردګو سيد اباد ته راورسېدم، د امريکايانو د اکمالاتي کاروان دوه موټره ښوېدلي وو، لاره بنده وه.
ماښام قضا کورته راغلم، خلته مې خلاصه کړه، مور مې د لاندې پخه غوښه په پاستې کې راته پېچلې وه.
سهار دفتر ته لاړم، د مريم يو ايمېل راغلی و.
ماخستن کمپيوټر ته کېناستم.
مريم ويلي و:
ـ وخت نه و رامالوم، يو ساعت، دوه ساعته، يوه ورځ، دوې ورځې، نه پوهېدم، خو کله چې په هوښ راغلم، رڼا وه.
په سر کې مې څرېکه شوه، کېناستم، ګنګس وم. شاوخوا مې وکتل، زنګ وهلې اوسپنې وې.
د پلار غږ مې واورېد:
ـ ښه يې؟
مخ مې ور واړاوه، د موټر پر اشترنګ يې ډډه لګولې وه. ولاړه شوم، په زاړه، زنګ وهلي بس کې وم.
مور ته مې وکتل، د څوکيو تر مينځ بېسده پرته وه.
پلار مې وويل:
ـ وخت غواړي، زه خپله يو ساعت مخکې په سد راغلم.
د ماشوم ژړا مې واورېده. د بس ښيښې ته پلاستيک نيول شوی و، چوله مې کړ، يوه ډنګره ښځه پر ټاېر ناسته وه، ماشوم ته يې په چوشک کې شيدې ورکولې.
د باندې ووتم، په سلګونو زاړه موټر يو پر بل پراته ول.
تر بس راتاوه شوم، وړه ميداني وه، شاوخوا يې له زړو موټرو جوړ هسک دېوالونه راګرځيدلي وو.
له يوه ولاړ زاړه موټره خرهاری راته، ور ومې کتل، د موټر په شاتنې بې پوښه سيټ کې چاغه ښځه ويده وه.
کړنګ شو، پښو ته مې وړه اوسپنه ولوېده، پورته مې وکتل، د زاړه بيلدوزر په بيل کې يو څوک ناست و، ډکې وينېته يې پر سر نه وې پرېيښې، خو له راوتلې ټټر څخه يې پوه شوم چې نجلۍ ده.
نجلۍ پښې وځړولې، پر ورانه يې د ښامار انځور کښل شوی و. د تنګ زاړه کاوبای نيکر له کمربنده يې توپانچه ښېله کړه، پوه يې کړم چې بېرته شاته وګرځم.
بس ته وختم، مور مې په سد راغلې وه، خو لا يې غټې سترګې مړې ښکارېدلې.
پر بې پوښه زنګ وهلې څوکۍ کېناستم، له ماتې ښيښې مې د باندې وکتل، هره خوا زاړه، لوی او واړه موټرول.
سر مې د مخامخ څوکۍ پر اوسپنه ولګاوه، د خپل وطن يادونه مې په زړه را وورېدل، ورور مې خندل، ما چرخه ورته نيولې وه، کاغذ پران يې د بل کاغذپران په تار کې بند و.
وحيد مې سترګو ته ودرېد، په صنف کې يې ماته کتل.
وخت ووت، د اوسپنې ټکا راغله، د بس تر ماتې ښيښې مې ور وکتل، سر خرېيلې نجلۍ د يوه زاړه موټر بانټ ټکاوه.
د نورو موټرو دروازې خلاصې شوې، واړه زاړه، ښځې او نارينه ترې راووتل، په لاسونو کې يې نکلي کاسې وې.
مور هم ورغلو، په کتار کې ودرېدو. کله چې نوبت راورسېد، يوه بوډا نکلي زړه کاسه راته ونيوله، په اوبو کې جوش کړی کچالو پروت و.
بېرته بس ته راغلم، سوړ کچالو مې تر ستونې نه تېرېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باندې مې وکتل، خلک پر او سپنو ناست وو، کچالو يې خوړل. له ببرو وېښتو او خيرنو جامو يې پوه شوم چې ډېر وخت يې اوبه نه دي ليدلې.
ټول زموږ غوندې غير قانوني مهاجر وو، هره کورنۍ په يوه موټر کې اوسېدله.
مازديگر مې يوه سندره واورېدله، د فرهاد دريا غږ و. په بيړه د باندې ووتم، سندره د يوه امبولانس له زړې ډبې څخه راتله. ورغلم، دروازه مې وټکوله، د لسو- يولسو کالونو په عمر وړې نجلۍ ور راته خلاص کړ، په بېړه مې وويل:
_افغانان ياست؟
د دروازې خېرنه پرده ليرې شوه، سلامته کورنۍ وه.
يوې په عمر پخې ښځې په غېږ کې ونيولم، بلې پيغلې د کارتن کاغذ راته هوار کړ، کېناستم، شپږ تنه وو. انا، مور، پلار او درې اولادونه.
شاوخوا مې وکتل. د سيروم د څړولو پر زنگنه پايه، خيرنې جامې راځوړندې وې، د موټر د ټايپ په راوتليو کولمو پسې بيطرۍ تړلې وه. د انا زگيروی خوت، وضع يې ښه نه شوه راته ښکاره.
د دوی له خبرو پوه شوم چې دلته نور افغانان هم شته.
نيم ساعت ووت، د باندې راووتم، پيغلې ته مې د خپلې کورنۍ د اوسېدو ځای ور وښود.
مور مې خبره کړه، سترگې يې وځلېدې. خو څه يې ونه ويل.
ماښام ژېړه رڼا شوه، ور ومې کتل، د يوه زاړه تراکتور گروپ بل و.
ماخستن يې وچې وريجې په کاسو کې راواچولې، خو وږې وم، له غرمنې پاتې شوي کچالو سره مې وخوړې.
پر يوه ټاېر کېناستم، افغانه پيغله راغله، مينه ناکه نجلۍ راته وايسېده، مژگان نومېده، ويل يې چې تر استانبوله يې په طياره کې راوړو، يونان ته په پښو راواوښتو او تر دې ځايه يې د جامو مينځلو په ماشينونو کې راورسولو.
مژگان وويل چې يو ځل يې په کشتۍ کې کېنولو، خو سمندر طوفاني شو، بېرته راوگرځېدو، له دوو اونيو راهيسې دلته يو. له قاچاقبر سره مو تر دنمارکه ويل کړې دي، هلته مو د تره کور دی.
د دوو اونيو ټکي مې زړه وخوړ، خو مژگان په خاوره کې ناستو ماشومانو ته گوته ونيوله، ويې ويل چې عراقيان دي، مور يې وايي چې له يو ويشتو ورځو راهېسته، دلته يو.
مژگان غلې شوه، ور ومې کتل، دا زما په خپگان پوهېدلې وه، په خندا يې وويل چې بخت او طالع هم مهمې دي.
موږ تر ډېره پر ټاېر ناست وو، سر خربيلې نجلۍ د يوه سره سرې په غېږ کې پرته وه، يوه تور پوستي ځوان په خاورو کې پلتۍ وهلې وې، سندره يې ويله، په مانا يې نه پوهېدم، خو په غږ کې يې غم گډ و. د موټرو تر ډبوال پورته گڼ ستوري ځلېدل
سهار د مژگان په غږ له خوبه راپورته شوم، بس ته يې توره چايجوشه راوړې وه. د چای سورولو په وخت مې د موټر غږ واورېد، ور ومې کتل، له تورو ښيښو لرونکې ښکلې موټر څخه يوه دنگه نجلۍ کښته شوه. نجلۍ پاکه او ښا ېسته ښکارېده، تورې، غټې عينکې يې په ستر گو وې. لاړه او پر ټاېر څړېدلی سر غلې کېناسته.
له مژگان څخه مې وپوښتل:
_قاچاق وړونکې ده؟
ويې خندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـنه، زموږ غوندې غیر قانوني مهاجره.
حیرانه شوم.
مژګان وویل:
ـایرانۍ ده، کیسه یې راته وکړه، ورور یې په لاره کې یوناني پولیسو وویشت، قاچاقبر تر دې ځایه د رارسېدو پیسې ورنه غواړي، خو دا یوه روپۍ هم نه لري، هره شپه په زور مختلفو هوټلونو ته وړل کیږي، دا باید له دېرشو نارینه وو سره پرېوځي چې د قاچاقبر درې زره ډالره پوره کړي.
بدن مې زیږ شو.
مژګان وویل:
ـهاغه هلک وینې؟
د هغې په غځېدلې ګوتې پسې مې وکتل، پر لویه او سپنه ، ببر سری تنکی ځوان ناست و.
ومې ویل:
ـهو
ـافغان دی، له دې ځایه سم نه ښکاري، خو که ور نږدې شې یوه سترګه یې پوچه ده، بس، زموږ د لارې ملګری و، تندې وا خیست، له قاچاقبر سره یې خوله ووهله، او به یې غوښتې، چاقو یې وخوړ.
د مژګان له خبرو پوه شوم چې دلته د انسانانو پر سر سمې سوداوې کېدې، د بې سرپرسته ماشومانو د اخیستلو بازار تود و، بېوږدې ترې ایستل کېدل او یا هم فحشا ته اړ کېدل.
یو غږ مې واورېد ، د مژګان وړه خور وه، ویل یې چې د انا وضع ښه نه ده.
په بېړه ورغلو ، د مژګان پلار د زړې ښځې زنه ور تړله.
مژګان کوکه کړه، پر خپله انا ور پرېوته.
بېرته بس ته راغلم، پلار او مور مې خبر کړل. ساعت وروسته مې پلار راغی، لاس یې وینې و، ویل یې چې د موټرو په مینځ کې یې قبر کېنده، بیل نه و، زړې او سپنې یې لاس ژوبل کړ.
بخت یارې راسره وکړه، اتم ماښام په یوه تېز رفتاره کشتۍ کې کېناستو ، کشتۍ ډکه وه، خلک نه شمېرل کېدل، د اټکل له مخې پنځوسو ته نږدې ول.
مژګان مې تر څنګ ناسته وه، وارخطا ښکارېدله، د تېر ځل کیسه یې راته وکړه، ویل یې چې سمندر طوفاني شو، یوه هسکه څپه راغله، پر کشتۍ راواوښته، بېرته شاته لاړه، دوه تنه نه ول.
د مژګان خبرو لړزه راباندې راوسته، اوبو ته مې وکتل، ارامې وې، پورته د وربځو په لویه سپینه ټوټه لا د لوېدلي لمر سرخي پرته وه.
مریم لنډې خبرې کړې وې، بس همدومره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

دوې ورځې ووتې، د مريم درک مالوم نه شو، نه يې ايمېل راغی او نه هم ټلېفون.
د مريم د ټلېفون نومره مې ووهله، بند و.
اوونۍ پوره شوه، احوال رانه غی.
يکشنبه، دوشنبه، نه پوهېږم، هېر مې دي، د لوسي په نوم يو ايمېل راغی. دومره يې ليکلي و چې د مريم خبرې خبرې مې راواخيستې، ټېکه نه راتله، په دفتر کې مې روښانه کړې، د کمپيوټر له لاوډ سپيکره د مريم ټوخی راووت، يوه همکار مې راته وکتل، خبرې مې بېرته بندې کړې.
ماښام کورته راغلم، د بخارۍ له بلو لو مخکې کمپيوټر ته کېناستم، مريم ټوخل، ساه يې لنډه لنډه کېده، په زحمت يې وويل:
ـ ځو ځله مې ټلېفون درته وکړ، نه وې.
بېرته ټوخي واخيسته.
پوه شوم، دا خبرې هغه وخت ثبت شوې وې، چې زه په کلي کې وم.
د اوبو غوړپ مې واورېد. غږ يو څه ښه شو، مريم ويلي ول:
ـ د ادرياتيک بحيره د غير قانوني مهاجرينو هديره وه، ددې بحيرې شنو اوبو سلګونه، نه پوهېږم، شايد تر دې ډير غير قانوني مهاجر ډوب کړي وو، خو موږ پوره پنځه ساعته مزل پکې وکړ، نه سمندر طوفاني شو او نه هم د ايټالياوي پوليسو بېړۍ په مخه راغلې، بس، ساحل ته نږدې هسکې تورې ډبرې ولاړې وې، همالته ور وختو، ارت غار و، کمرنګه ګروپ پکې بلېده.
مخکې لاړو، ميداني وه، له ډبرو جوړو وړو کوټو پنجرې درلودې، تور او سپين لاسونه ترې راوتلي وو.
تېرو ته کېناستو، چيغې وې، د دوو ډبرو تر مينځ د انسان سپينه جمجمه او مات هډوکي پراته ول. له لندو ډبرو څاڅکي څاڅکي اوبه راتويېدلې.
په قفسونو کې د مفلسو خلکو زګيروي ختل.
د مژګان دوی کورنۍ يې په هماغه سهار د باندې وايسته، خو موږ ته دربيمه ورځ نوبت راغی.
شنو غونډيو ته لنډه لار ختلې وه، د ناجو ونې لندې وې. له نرې باد سره د نمجن بوی ګډ و.
لنډه لاره وه، بس، يوا ځې يوه غونډۍ ور هاخوا لاندې پر تک تور سړک د ناجو دو نو شنې، تېرې، پرېوللې پاڼې راغلې وې.
سړک ته ورکښته شوو، يو ټرېلر ودرېد، د سيت تر شا چپرکټ ته ور تېر شوو، همالته کېناستو.
موټر حرکت وکړ، دوه ساعته لار مو ووهله، موټروان سړک ته نږدې د يوه ګوښې کور مخې ته پرېښودو.
څلو ښت، پنځه څلو ښت کلن سړي دروازه راته خلاصه کړه، وړه کوټه وه، له دېوال سره درې څوکۍ اېښې وې، څنګ ته دوه منزله کټ ښکارېده، د يخچال دروازه نيمه لوڅو عکسونو نيولې وه.
ورغلو، پر څوکيو کېناستو، د څنګ له کوټې خندا راتله.
پاو ووت، يوه خبره مو هم ونه کړه، پلار مې خوله وازه وازه کوله، دوې شپې يې د تبې له لاسه سترګې نه وې سره ور وستې.
چېرته تلو، له چا سره تلو، څنګه تلو، په اروا کې مې هم نه راتلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړې کړکۍ ته ودرېدم، خاوره نه ښکارېده، د ایټالیا په منيي کې لا دومره زور و، چې ونې او بوټي شنه وساتي.
کړپ شو، ور ومې کتل، مور مې د یخچال ور پرانیستی و. ورغلم، یو بوتل مې راواخیست، پزې ته مې ور ووړ، د الکولو بوی ترې ته.
د یخچال لاندینۍ خانې ته مې پام شو، دوه له اوبو ډک بوتلونه مې راوایستل، بېرته کړکۍ ته ور وګرځېدم.
د اوبو له غوړپ سره ټوخې واخیستم، خوله مې تروه شوه، مور او پلار ته مې وکتل، د یوه سترګې پټې وې، بلې غولې ته وچې سترګې نیولې وې، د جاکټ استر مې پر شونډو تېر کړ، ور ومې کتل، خړ استر په وینو سور و.
ټوله ورځ مو په کوټه کې تېره کړه، ماښام دوه تنه راغلل، یوه یې اوږده سره وېښته درلودل، دوهم یې له وریځو پرته پر خپل سر او مخ هیڅ هم نه و پرېبښې. یوه یې کړو چې اوږد، پیاده مزل مو په مخکې دی.
ځنګلو، خو د ونو له چولو د موټرو رڼاوې راوتلې، تر ډېره له سړک سره روان وو. وروسته مو لاره چپه کړه، غره ته وختو، د موټرو رڼاوې د وړو ستورو غوندې ښکارېدلې.
باران شو، دوو رهنماوو د پراشوټي جمپرونو ځنځیرونه کش کړل، خو زما تر ټکري اوبه راووتې، مخ، وېښته او اوږې مې لندې شوې، په زېرپیرانۍ کې ګنډلو ډالرو ته مې زړه ورختلی و.
باران تېز شو، له پورته نرۍ اوبه راماتې شوې، نیم ساعت، یو ساعت، نه پوهېدم، خو مخکې تلو، وروسته پر ځمکه د باران د څاڅکو د لګېدو له غږ سره پشهاري هم ګډ شو، تر غوټه ونو ووتو، لاندې څپانده سیند روان و، په تیاره کې یې سپین ځګونه له ورایه ښکارېدل.
یوه غار ته ور وګرځېدو، ارت وچ ځای و، همالته کېناستو.
څښتور رهنما د ملا له بکسه وړه بجلي راوایسته، خو رڼا یې تېزه وه، ان د غار له پورتنیو تیږو راځوړند نري واښه هم مالومېدل.
وخت ووت، خو باران ونه درېد.
پلار ته مې وکتل، په ناستو یې سترګې پټې وې.
د الکولو بوی راغی، مخ مې ور واړاوه، سر خرېیلي چاغ رهنما یو لوی بوتل خولې ته نیولی و، څښتور یې زما مور ته کتل.
پلار ته ورنږدې شوم.
رهنماوو په نوبت له بوتل څخه غوړپ کاوه، خندل یې، خبرې یې کولې، په ژبه یې نه پوهېدم، خو زړه ته مې لوېدلې وه چې زما د مور په اړه غږېږي.
مور ته مې وکتل، سر یې پر ځنګنو ایښی و، پر سپینه غاړه یې لانده پیچلي وېښته سرېښ ول.
ما هم د خپل پلار پر اوږه سر ولګاوه. یو وخت مې د بکس د ځنځیر د کشېدو غږ واورېد، ور ومې کتل، مور مې د تشناب کاغذ وراخیست.
رهنماوو وچې سترګې ورته نیولې وې، بیا یې وخندل، مخ مې ورنه واړاوه، له مور سره د باندې ووتم.
اسمان برګ و، د وربځو غټې ټوټې باد په مخه کړې وې، ما تر دې دمه دومره سپینه، تېزه سپوږمۍ نه وه لیدلې.
مخکې لاړو، بوټي وښورېد، زړه مې خولې ته راغی، سویه وه، منډه یې واخیسته، ان سیوری یې هم ښکارېده.
مور مې ګنو نیالګیو ته ور وګرځېده، زه پر یوه هواره تېږه کېناستم، د اوبو له شنهاري سره د شغالانو کوکې هم ګډې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يودم يو سيوری راباندې راغی، زړه مې ولړځېد ، څښپور رهنما مې مخې ته ودرېد ، لاس يې راوغځاوه، پورې مې واهه، غوټه يې کړه، په غيږ کې يې ونيولم، لندې شونډې يې زما پر بغور کېښودې، له خولې يې د الکولو بوی ته ساه مې بنده شوه، سرې مې تر څټو ونيو ، نه ليرې کېده. چيغه مې خولې ته راغله، ومې ټوخل، وينو داره وکړه.
سرې يودم شاته شو ، لاس يې پر خپله غاړه تېر کړ، ګوتې يې وسولولې، وينه وه.
په کرکه يې وويل:
ـايق !
ماته يې وکتل، هماغسې مې ټوخل، خوله مې د وينو خوند نيولې وه.
سرې دوه ګامه شاته شو ، له ټوخې سره ګډه ناره مې تر خولې راووته !
ـابا !!!
سرې منډه کړه !
چيغه شوه، پانې وخوځېدې، مور مې له ګنو نيالګيو راووته، منډه يې کړه، د چاغ، سر خرېيلي رهنما لنډ لاس يې خلاصو وښتو ته ور ورسېد ، دواړه پر ځمکه ولوېدل.
وړې ډبرې ورغړېدې، ور ومې کتل، پلار مې منډې وهلې... مخ مې واړاوه، مور مې نه وه، خو چيغې يې د سيند له خوا راتلې.
منډه مې ور واخيسته، له ګنو ونو تېره شوم، پلار مې د سر خرېيلي سړي سر ته سوکان نيولې وو. بيا يې يودم له ځمکې يوه لويه ډبره ور پورته کړه، سترګې مې پټې کړې، پر مخ او لاسونو مې تاوده څاڅکي ولګېدل، ور ومې کتل، د سړي د سر وينې او د غوښې سرېښناکه وړې ټوټې وې.
په مور پسې مې سترګې ور غړولې، زړه مې خولې ته راغی، مور مې د پاڼ پر ژۍ ولاړه وه، ځګنو اوبو ته يې کتل، د سپين ګرېوانه شکېدلې تراډې او تور خلاص وښته يې باد يوې، بلې خوا ته سره اړول.
پلار مې تر مټ ونيو ، جټکه مې ورکړه، ور ويې کتل، يوه تېره چيغه يې تر خولې راووته:
ـنه !
مريم ټوخې واخيسته، تر ډېرو يې وټوخل، بيا له ټوخې سره ژړا ګډه شوه، په زحمت يې وويل:
ـپلار مې ور ورسېد ، خو يوا ځې زما د مور د کميس سپينه تراډه په ګوتو ورغله.
مورې دواړو له اوبو سره منډې وهلې، مور مې په سپينو ځګونو کې ورکه وه، اوبه له لويو ډبرو سره لګېدلې، شنهارې يې خوت.
د مريم ژړا زور واخيست، ژړا او ټوخې خبرو ته نه پرېښودله، بيا يې ساه بنده شوه، يو دم يې خوږ وهل، يوه شېبه هيڅ هم نه و، وروسته خرهاری راغی، ښځينه وارخطا چيغې پکې ګډې شوې، پر کاشيو د بوټونو کړپا، په ايټالوي ژبه نارينه او ښځينه وارخطا غږونه او د تذکرې د ټايرونو کرښنده اواز. بس ! همدومره، پاتې لس دقيقې سپينې وې.
په سهار مې لوسي ته ايميل ولېږه او د مريم د صحت پوښتنه مې ترې وکړه، يوه بجه يې لنډ ځواب راغی:
ـښښه غواړم. مريم تېره اوونۍ مړه شوه.
ولاړ شوم، په دهلېز کې مې يو همکار په مخه راغی، په حيرانۍ يې وپوښتل:
ـسترګې دې له اوښکو ډکې دي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ مې واړاوه، لاندې د دفتر حویلۍ ته کښته شوم.
لمرو، د ستېوډيو د بام په ناوه پسې يوه لوېشت کنګل را څړېده.
بېرته شعبې ته راغلم، لوسي ته مې خپله نومره ورولېږله او هېله مې ترې وکړه چې ټلېفون راته وکړي.
ځلرويشت ساعته تېر شول، خو درک يې مالوم نه شو.
په دوهم ایمېل کې مې يو بل ټکی هم اضافه کړ:
ـ د مريم له پاره.
په سبا يې يو اوږد ایمېل راته ليکلی و. ایمېل مې پر نټ کړ، ماخستن بخارۍ ته نږدې کېناستم، لوسي ليکلي وو:
ـ وبښه، تر ټلېفونه مې ليکلي مالومات غوره وګڼل، پوهېږم، مريم راته ويلي وو، چې يو څوک يې د ژوند کيسه ليکي.
مريم دوه ورځې په کوما کې وه، بس، يوازې يوه دقيقه په هوښ راغله، خبرې يې واضح نه وې، خو دومره يې پوه کړم چې په ټايپ کې ثبت شوې وروستۍ خبرې تاسو ته ایمېل کړم.
مريم يې ځلوېښت، پنځوس ورځې مخکې دلته راوړه، پوليس ورسره ول، ويل يې چې د تحقيق په وخت کې يې وينه وګرځوله.
معايناتو دوه ساعته وخت ونيو، نجلۍ د سږو سرطان درلود، دې بايد د ژوند وروستۍ ورځې په روغتون کې تېرې کړې وای.
مريم غلې نجلۍ وه، ډېرې خبرې يې نه کولې، خو پټ، پټ به يې ژړل.
مجبوره مې کړه، په ژوند يې پوه شوم.
يوه ورځ يې راته وويل:
ـ عمه لوسي! مرګ ته مې څو ورځې پاتې دي؟
غلې وم.
ويې ويل:
ـ داسې څه نشته چې دا څو ورځې نورې هم را لنډې کړي؟
خو په سبا يې مرګ ته زړه نه کېده. علت مې ورپوښت، کمپيوټر ته يې ودرولم، د فيسبوک پاڼه يې خلاصه کړې وه، د يوه ځوان عکس و، ښکلې غټې سترګې يې درلودې.
مريم په خوند وويل:
ـ وحيد مې وليکه، څو شېرې راغلې، خو خپله مينه مې په اسانۍ پکې ومونده.
يودم يې وخندل:
ـ ته ورته وګوره! له ځانه يې څه جوړ کړېدي، رېږه او برېت يې نشته.
ولاړه شوه، ټېنګه يې په غېږ کې ونيولم، زنه يې زما پر اوږه راکېښوده، يودم غريو واخيسته:
ـ اه! عمه لوسي! مرګ ته مې زړه نه کيږي.
خو په سهار يې بيا ژړل، له څېرې يې پوه شوم چې د خبرو له پاره مناسب وخت نه دی.
غرمه مې د روغتون په حويلۍ کې وليده، پر اوږده سيميټي څوکۍ يوازې ناسته وه، ورغلم، پر اوږه مې لاس ور کېښود، راويې کتل، سترګې يې لا سرې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه شېبه دواړه غلي وو، مريم ځمکې ته کتل، د ښي بوټ په څوکه يې ژېړې پاڼې راټولولې.
ورو مې وويل:
ـباد سوړ دی، نه ځو؟
هماغسې يې ځمکې ته کتل. يو دم غريو واخيسته. د هغې سر مې پر خپل ټټر پورې ونيو. وخت ووت، ويې ويل:
ـوحيد ته مې ټلېفون وکړ، د خندا غږ راغی، ومې پوښت، نامزادي يې په واوره ويشت.
مريم په سبا بل سيمکارت رانه وغوښت، ويل يې چې وحيد څو ځله زنګ ورته وهلی، ايمېلونه يې رالېږلي، خو دا نه غواړي چې ځواب ورکړي.
بله شپه نوکري وم، په دهلېز کې مې د مريم غږ واورېد، څه يې ويل، فکر کوم چې سندره وه، په مانا يې نه پوهېدم، خو درد پکې نغښتی و. دروازه مې خلاصه کړه، مريم پر کټ ناسته وه، سپينه روجايي سرو وينو نيولې وه.
په بيړه ورغلم، د مريم خوله، غاړه او ټټر په وينو سره ول.
مخ يې راواړاوه، ورو يې وويل:
ـوحيد مې خوشاله وليد، کوم بل ارمان نه لرم.
مريم بيا هېڅکله د فيس بوک مخ ونه ليد، بانه يې دا وه چې وخت ضايع کوي، دې به ښېښتو سايټونه کتل.
يوه ورځ يې راته وويل:
ـاه! عمه لوسي! ته مې ډېره په تکليف کړې، خو يوه وروستی خبره مې هم ومنه!. زما تر بالښت لاندې د افغانستان نقشه او د وحيد عکس دی، هيله لرم چې دواړه په تابوت کې راسره کېږدې.
لوسي همدومره ليکلي وو.
په سبا مې ايمېل ور ولېږه او د مريم د عکس غوښتنه مې ترې وکړه. په هماغه ورځ يې ځواب راغی، ليکلي يې وو، چې مريم په تا باور درلود، خو نه يې غوښتل چې عکس يې په کتاب کې راشي.
په بل ايمېل کې مې ډاډ ورکړ، عکس يې راولېږه. عکس ته مې وکتل، په ټلېفون کې د مريم خبرې راپه زړه شوې:
ـنه، دومره بدرنګه هم نه يم، خوله مې وړه ده، سترګې غټې، وېښته مې ګڼ او پېچلي، ږمنځ پکې بنديږي، بس، له رنګه يو څه توره يم.
ټول سم ول، يواځې په غټو تورو سترګو کې ډنډ اوښکې ترې هېرې وې.

(پای)

۱۳۹۱ل کال

د عقرب شلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لراوبر برېښنايي کتابتون

**قدرمنو لوستونکو !**

تاسو کولای سئ د لراوبر ويبپاڼي په برېښنايي کتابتون کي زيات شمېر ارزښتناک او په زړه پوري آثار په خپل تفريحي وخت کي مطالعه کړئ .

د لراوبر انلاين کتابتون ستاسو لپاره د لاندينيو موضوعګانو اړوند آثار پر ليکه کوي :

- **اسلام او مذهب**
- **ساينس او تخنيک**
- **سپورټ او روغتيا**
- **تاريخ او سياست**
- **هنر او ادبيات**
- **دماشومانو لپاره**
- **بېلابېل آثار**




**www.Larawbar.net/library**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**